# پیسو اقتصاد

# Monetary Economics

**Cyber Cash**

**Crypto-Currency**

**Virtual Currency**

**Digital Currency**

**The New Era of E-Money**

Ketabton.com

**لیکوال: پوهنیار رحمت الله منګل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالی!

ریښتینو علمأو، مجاهدینو، غازیانو، هېوادپالو او هغو ته، چې د هېواد اوبه مدیریت کوي.

## د ژباړن خبرې

لمړي سر کې باید یادونه وکړم، چې اقتصاد په برخه کې مې دا درېیم کتاب دی، مخکیني دوه کتابونه مې ژباړلي خو دغه کتاب مې لیکلی دی، لمړی کتاب د (عامه اقتصاد) په نوم دی چې دوکتور پوهاند عبد القیوم عارف لیکلی او ما ژباړلی او دویم کتاب، چې ما ژباړلی د عامه بودیجې تیوري ده دغه دواړه کتابونه مې د نن څخه تقریباً څلور کاله دمخه ژباړلی وو دعامه اقتصاد کتاب مې هماغه وخت چاپ کړی ؤ خو د عامه بودیجې کتاب د چاپ او یو څه نور کارونه  پاتې شول ځکه، چې د ماستري د ترسره کولو لپاره ملیشیا هیواد ته لاړم او د دې کتاب کارونه همداسې نیمګړي پاتې شول خو وروسته په ۱۳۹۸ کال کې چاپ شو. او دغه کتاب، چې د پیسو اقتصاد تر عنوان لاندې لیکل شوی اوس یې د چاپ چارې نهایي شوې.

د کار پیل د اړتیا د رفع کولو په خاطر او یا هم د ستونزې د له منځه وړلو لپاره رامنځ ته کیږي. هغه څه چې نن سبا په افغانستان کې ورته ډېره اړتیا لیدل کیږي د اقتصاد په برخه کې  په کافي اندازه د پښتو کتابونو نه شتون دی او د محصلینو او حتی د استادانو له طرفه دا شکایت کیږي، چې په پوره ډول په پښتو موضوعات پیدا کول ډېر ستونزمن دي، دغه اړتیا باید رفع شي او دا یوه لویه ستونزه ده، چې په پښتو ژبه باندې په عموم کې لیکنې ډېرې کمې دي نو د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره د مختلفو ژبو څخه د کتابونو ژباړه او کتاب لیکنه اړینه بولم تر څو دغه ډول اړتیاوې مرفوع او ستونزې له منځه یووړل شي.

په لمړي سر کې غواړم، چې له سترکریم او تر ټولو مهربان ذات (ج) شکر ادا کړم چې ما ته یې دا توان راکړی تر څو پدې برخه کې یو څه وکړم . دغه هیله مې له زیاته وخته پورې دهیلې په څیر راسره وه او د وخت په تېرېدو او امکاناتو ته په کتو دغه هیله مې په اراده بدله شوه او یوه مهمه موخه مې وګرځېده او دغه موخه مې تر لاسه او پایله یې ستاسو مخې ته ږدم،  هیله مند او باوري یم، چې ستاسو د ګټې وړ به وګرځي. په دویم قدم کې له خپلې کورنۍ څخه زښته زیاته مننه کوم، چې هر وخت یې حمایه کړی یم تر څو خپل کارونه په ښه ډول پر مخ بوځم او د هیڅ ستونزې سره مخ نه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړم له ځينو استادانو او ملگرو څخه هم ځانگړې مننه وکړم، د شيخ زايد پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استادان هر يو، پوهنيار شرف الدين شرف، پوهنيار خالد پښتون، د پکتيا پوهنتون استاد پوهنيار خالد شاکر، استاد محمد عثمان شريفي او گران کليوال حضرت الله ارغوان څخه، چې زما سره يې پدې کتاب کې ځانگړې مرسته کړې کور يې ودان تل دې همداسې هڅاند وي.

د قرآني آيت د مفهوم مطابق چې فرمايلي يې دي چې «انسان کمزوری پيدا شوی» نو د انسان هره کړنه له نيمگړتياؤ خالي نه وي نو له گرانو لوستونکو څخه هيله کوم چې هغه نيمگړتياوې، چې په دې کتاب کې موجودې وي راپه گوته کړي،ترڅو په راتلونکې کې يې اصلاح کړم. الله دې وکړي چې دغه علمي اثر زمونږ درنو استادانو او محصلينو ته گټور تمام شي.

د يوه داسې افغانستان په هيله، چې د هر وگړي د سوکالۍ او آرامۍ هيلې يې پوره وي

پوهنيار رحمت الله منگل

د اقتصاد پوهنځی مالي او بانکي څانگې استاد

شيخ زايد پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقريض

محترم پوهنيار رحمت الله منگل، چې د اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانگې استاد دی یو داسې علمي کار تر سره کړی، چې نن سبا ورته زیاته اړتیا لیدل کیږي.

مهمه ده، چې په داسې موضوع لیکنه وشي، چې ورته اړتیا لیدل کیږي، په اوسني وخت کې ستره ستونزه دا ده، چې په اقتصاد کې د پښتو کتابونو لیکنو شمېر ډېر کم دی، د دې ستونزې سره زموږ محصلین لاس او گرېوان دي، داسې لیکنې کمې دي، چې دوی دې په خپلو مونوگرافونو کې ترې گټه پورته کړي. همداشان په خپله ژبه کې د کتابونو لیکنه او یا خپلې ژبې ته د نورو کتابونو ژباړل ستر خدمت دی. د شیکسپیر په وینا، هغه خلک ډېر څه زده کولی شي او زر پرمختگ کولی شي، چې په خپله ژبه زده کړې تر سره کوي.

نوموړي استاد دغه لیکل شوی کتاب مؤثر او گټور بولم، د گټورتیا علت یې دا دی، چې د افغانستان د اقتصاد پوهنځیو دویم ټولگي کې تدریسیږي او همدارنگه بل مهم اړخ یې دا دی چې دغه کتاب د اقتصاد پوهنځی د کریکولم د مفرداتو مطابق دی. نو ځکه ویلی شو چې د استادانو او زدکړیالانو هغه ستونزې چې په دې برخه کې یې لرلې تر ډېره حده به یې حل کړي او د استاد دغه گام پرځای بولم او ستایم یې.

نوموړی کتاب چې له مختلفو معتبرو نړیوالو او داخلي منابعو څخه پکې استفاده شوې یوه ډېره گټوره لیکنه ده هغه مفاهیم، چې ورته اړتیا ده په دې کتاب کې ورته ځای ورکړ شوی. په دغه کتاب کې ځینې داسې موضوعاتو ته ځای ورکړ شوی، چې ډېر نوي دي او په اوسني وخت کې زیات تر بحث لاندې نیول کیږي، چې د هغې له جملې کرېپټو کرنسۍ یا مجازي پیسې دي، چې دغه پیسې په انټرنیټي ډول کارول کیږي او د مختلفو سترو کمپنیو له خوا اخستل شوي دي. نوموړی کتاب د تدریس لپاره یو گټور کتاب گڼم او باوري یم، چې د لوستونکو لپاره به ډېر گټور او په زړه پورې ځکه وي، چې نوي موضوعات په کې ځای پر ځای شوي دي. دغه نوي موضوعاتو گټورتوب دا دی، چې په اوسني وخت کې له دغو څخه زیاته استفاده کیږي او د مالي خبرونو د سر ټکي تشکیلوي.

زه محترم استاد ته په راتلونکو علمي فعالیتونو کې د نورو زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم.

استاد پوهنوال ډاکټر رحیم جان دردمل

د شېخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی پخوانی رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقریض

دا یو حقیقت دی، چې د یوه کار پیل او په معقوله توګه یې تر سره کول زیات ستونزمن وي ولې ستونزو ته حل لاره نه پیدا کول تر هغه ستره ستونزه ده. د ژوند هر پړاو له ستونزو ډک وي که ستونزې تر یوه حده رفع هم شي بیا هم نیمګړتیاوې په همغه کار کې کیدای شي په پشپړ ډول له منځ لاړې نه شي ځکه چې انسان نیمګړی دی.

دا، چې په علمي ډګر کې د پښتو لیکنې او منابع ډېرې کمې دي په ځانګړي ډول د اقتصاد په برخه کې د دې تر څنګ د پیسو اقتصاد، چې د اقتصاد په کریکولم کې یو مهم مضمون دی. پیسې په اقتصاد کې یوه ډېره مهمه وسیله ده تر څو اقتصادي کارونه په ښه شان پر مخ ولاړ شي او په دې باندې پوهېدل زیات اړین بولم، چې د پیسو په ارزښت رول او اقتصادیت باندې خلک پوه شي، تر څو خپلې اقتصادي چارې په ښه شکل سره پر مخ بوځي. په دې باندې پوه شي، چې اصلا اقتصاد کې د بدلونونو راتګ یوه ستره ستونزه د پیسو مناسبه عرضه او په مارکیټ کې موجودیت هم دی او د پیسو مؤثره کارونه ده. پدې هیله چې دغه کتاب تر یوه حده د پیسو اقتصاد په برخه کې د اقتصاد پوهنځی محصلینو او استادانو د درسي مواد د نه شتون ستونزه راکمه کړي نو محترم استاد رحمت الله منګل، چې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې استاد دی یوه داسې هڅه تر سره کړې چې ورته اړتیا لیدل کیده، او د محترم استاد دغه چاره په ریښتیا هم یو ځانګړی اهمیت لري.

نوموړي استاد د پیسو اقتصاد تر عنوان لاندې د دغه کتاب یوه مهمه ځانګړتیا دا ده، چې دغه کتاب د افغانستان د پوهنتونو نو د اقتصاد په پوهنځیو کې تدریسیږي او بل اهمیت یې دا دی، هغه موضوعات، چې په دغه کتاب کې شامل دي ټول د کریکولم د مفرداتو سره یو شان دي. هیله لرم چې دغه کتاب به د محصلینو او استادانو سره د مرستې لامل وګرځي نو په همدې اساس د استاد دغه لیکنه ستایم.

استاد ته، په علمي کړنو کې د نورو بریاؤ دعا کوم.

پوهنیار شرف الدین شرف د اقتصاد پوهنځی رئیس

شېخ زاید پوهنتون خوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن لنډه پېژندنه

ښاغلی استاد پوهنیار رحمت الله منګل د خوست ولایت، موسی خیلو ولسوالۍ د زاړه کوټ په ستر کلي کې د الحاج بهرام خان په کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي، د ښاغلی استاد منګل کوچنیتوب دهجرت په لمن کې تېر شوی دی لمړنۍ زده کړې یې په پیښور کې حضرت قیس بن سعد لیسه کې تر سره کړي کله چې هیواد ته له هجرته بېرته راستون شو نو اتم او نهم ټولګي یې په خپل کلي زاړه کوټ کې د ازادۍ لیسه کې لوستي او د مکتب پاتې برخه یې په کابل کې د خوشحال خان خټک بابا په لیسه کې بشپړه کړې او له نوموړې لیسې څخه فارغ شوی، تر فاراغت وروسته یې کانکور له لارې دننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته لاره ومونده په ۱۳۹۲ کې یې د پوهنتون د لسانس دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوله. ښاغلی منګل چې کله له پوهنتون څخه فارغ شو نو خوست شېخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی کې په ۱۳۹۳ کال کې د علمي کادر په توګه مقرر شو او د استادۍ مقدسه دنده یې پیل کړه ، د استادۍ په جریان کې د ماسټرۍ زده کړو لپاره په ۲۰۱۷ کال کې د ملیشیا هېواد ته سفر درلود اوهلته یې تر ۲۰۱۹ م  پورې خپلې د ماسټرۍ زده کړې د ملیشیا نړیوال اسلامي پوهنتون IIUMکې د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې بشپړې کړې. ښاغلي منګل دوه نور کتابونه ژباړلي، چې یو کتاب یې (عامه اقتصاد) په نوم، او دویم کتاب یې د عامه بودیجې تیورۍ په نوم دی خو دغه کتاب، چې د پیسو اقتصاد په نوم دی ژباړه نه ده بلکې لیکل شوی دی. استاد په نړیوالو ژورنالونو کې په انګلیسي ژبه مقالې هم خپرې کړې. د ښاغلي استاد هڅو په پایله کې دغه دی یو بل اغېزمن اثر، چې دپوهنتون تدریسي کتاب دی چارې یې نهایې شوې. زه ورته د دې کتاب مبارکي وایم او په راتلونکې کې یې دغه ډول نورو اغېزمنو پنځونو ته سترګې په لار یم.

قلم یې تاند او ژوند یې نېکمرغه

پوهنیار شرف الدین شرف د اقتصاد پوهنځی رئیس

خوست شېخ زاید پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نوم: پیسو اقتصاد**
**لیکوال: پوهنیار رحمت الله منګل**
**خپرندوی: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه**
**چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**
**چاپ وار: لومړی**
**چاپ کال: ۲۲/۸/۱۳۹۸ لمریز**
**قیمت: ۲۰۰ افغانی**

نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

مخامخ لومړی ادرس:کوټه سنګي–دسیلو د څلورم اوپنځم سړک ترمنځ د شاداب ظفر بلاکونوته
دویم ادرس: د دهمزنګ لومړی سړک (مرکز عمومي کتابفروشي). ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰
درېیم ادرس: جوي شیر دخپرندویه ټولنو او کتاب پلورنځینو عمومي مرکز ۰۷۸۱۸۹۴۰٦٤
اړیکې: ۰۷۸۶۶۳۰۷۳۱/۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵/۰۷۸۷۱۸۰۷۵۳
[redacted]
بریښنا لیک: moustaqble2018@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د نورو مجوداتو په شان انسان هم لا محدوده غوښتنې لري او د دې لپاره چې خپل ژوند ته دوام ورکړي نو اړتیا لري، چې خپلې نامحدوده ټولنیزې، اقتصادي، سیاسي، روحي او معنوي غوښتنې پوره کړي. اوس که وکتل شي د دې ټولو اړتیاؤ د پوره کولو لپاره منابعو ته ضرورت دی او ټولنه د خپلو نامحدوده غوښتنو د رفع کولو لپاره د کمیابه منابعو سره مخ ده. د انساني ټولنې د عقل مطابق دنده دا ده، چې د دغو محدودو منابعو څخه خپل اکثره غوښتنې پوره کړي. د دغو منابعو څخه د لا محدوده غوښتنو پوره کول ډېر ستونزمن دي، دا ستونزه هغه وخت نوره هم زیاته شوه، چې کله خلکو و غوښتل خپلې غوښتنې د نورو خلکو د لاسته راوړنو څخه پوره کړي، په دې مانا انسانان اړ شول خپلې غوښتنې د هغو خلکو له تولیداتو او خدماتو څخه پوره کړي، چې زیات څه یې درلودل خو ستونزه دا وه، چې هغوی د تولیداتو وړاندې کولو په وخت کې د هغو اجناسو قیمت غوښتنه کوله او د دغه قیمت ټاکلو لپاره کوم ځانګړی معیار نه ؤ.

اصلا یوازې د اندازې معیار نه شتونه ستونزه نه وه بلکې نورې ستونزې هم وې لکه: د ارزښت د زخیره کولو لپاره د یو واحد نه شتون، د تبادلې لپاره د واحد نه شتون او داسې نورې ستونزې، چې بارتر سیستم درلودې. د دې ستونزو رفع کولو لپاره یو داسې جنس ته اړتیا وه تر څو د دغو ستونزو او غوښتنو مرفوع کولو لپاره مناسب وي. اقتصاد پوهان او د هغه وخت پوه خلک په لټه کې شول تر څو دغه ستونزه حل کړي نو لمړی جنسي پیسې را منځ ته شوې او څه نا څه یې د بارتر په نسبت بهتر والی درلود خو بیا هم په دې سیستم کې ستونزې وې، چې وروسته په دغه سیستم کې د ستونزو له امله بیا اقتصاد پوهان لاس په کار شول او فلز یې یو غوره بدیل و موند، فلز بیا تر ډېره وخته خپله حکمراني وکړه. د پیسو بدلون همداسې جریان وموند، چې وروسته کاغذي، اعتباري، الکترونیکي او اوس کرېپټو کرنسیو دوران دی.

په اوسني وخت کې، چې د پیسو جګړه (Currency War)روانه ده د پیسو اقتصاد موضوع یو مهم بحث دی تر څو په دې پوه شو، چې اصلا پیسې څه شی دي؟ او د پیسو ارزښت په یوه اقتصاد کې څومره مهم دی؟، که چېرته د پیسو په ارزښت کې بدلون را شي په اقتصاد څه اغېز کولی شي؟ د دې تر څنګ دا مطالعه کړو، هغه کوم لاملونه دي، چې د پیسو په ارزښت باندې اغېز کوي؟، لکه نا امني، ناسم پولي سیاست، مالي سیاست، پانګونه، بې کاري، اقتصادي شاتګ، اقتصادي پرمختګ، اقتصادي ثبات، نفوس، سړي سر عاید، تولیدات، صادرات، واردات، پورونه، پیسو عرضه، احتکار، انحصار، سود، رواني انګېزنې او داسې نور فکتورونه. د دې تر څنګه دا هم مهمه ده، چې پیسې او د پیسو سمه کارونه په دغو فکتورونو باندې څه ډول اغېز کوي. تېر ۱۳۹۹ کال او سږ ۱۴۰۰ هـ ش کال خلک د قیمتونو له له لوړوالي سخت شکایت کوي، لکه څرنګه، چې د خوست په شمول په ځینو هغو ولایاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کالداره رایجه وه، د خلکو او حکومت په زیار دغه کالدارې له مارکېټ څخه و وېستل شوې او پر ځای یې افغانۍ رایجې شوې، خلکو داسې انګیرله، چې د قیمتونو د لوړوالي اصلي لامل د کالدارو پر ځای د افغانیو رایجول ؤ حتی ځینو خلکو ګوابښ وکړ، که چېرې قیمتونه کم نه شول کالدارې به بیا وکاروي، خو داسې نه وه لکه څه ډول، چې خلکو انګېرله، ځکه دلته خلک د دې پوهه نه لري، چې د قیمتونو د لوړوالي لاملونه کوم دي. کله کله په مارکېټ کې په افغانیو کالدارو او ډالرو کې توپیر راشي نو خلک داسې فکر کوي، چې ډالر لوړ شوي، کله داسې وایي، چې افغانۍ ټیټې شوي یا لوړې شوي. نو د دې لپاره، چې په دغو مختلفو اړخونو او دې ته ورته نورو موضوعاتو پوه شو نو اړینه بولم، چې د پیسو اقتصاد په اړه باید مطالعه ولرو.

نو د دې لپاره، چې په پورته موضوعاتو پوه شو د پیسو اقتصاد په دغه کتاب کې موږ، د پیسو پېژندنې، د پیسو دندې، د پیسو د پشپړتیا پړاوونه، د پیسو بنې، د پیسو ډولونه، د پیسو د بیلابیلو ډولونو اهمیت ، له منځه تګ لاملونه، د پیسو په اړه تیوریګانې، د پیسو ارزښت، د پیسو نوي او ګټور نسلونه او د هغوی په مخکې پراته خنډونه، د پیسو لپاره تقاضا، د پیسو عرضه او هغه لاملونه ،چې د پیسو عرضه او تقاضا اغېزمنوي، انفلاسیون، مالي مارکېټ، په افغانستان کې د پیسو شالېد او نور هغه اړخونه ، چې پیسو باندې او پیسې پر دوی باندې اغېز کوي تر بحث لاندې نیول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## پیسو اقتصاد (Monetary Economics)

مخکې له دې ،چې په پیسو و غږېږو په دې ځان پوهول په کار دي ،چې پیسې کوم سیستم پورې اړه لري او د دغې سیستم څومره مهمه برخه جوړوي، وروسته به دا ولولو ،چې څنګه خپله دنده په دې سیستم کې سرته رسوي. مالي مارکېټ په یوه اقتصاد کې د زړه حیثیت لري او پیسې د وینې په مثال دي. مالي سیستم په اقتصاد کې پیسې تنظیموي، راټولوي یې، تصفیه کوي یې او بیا یې پمپ کوي(خپروي) ، ټول اقتصاد ته یې رسوي، د زیاتوالي او کموالي په وخت کې یې تعادل ساتي او چې کله اقتصاد ناروغ شي نو د پولي پالیسیو په وسیله یې په سم ډول رغوي.

### مالي سیستم

مالي سیستم پنځه برخې لري، د مالي سیستم دغه پنځه برخې زموږ په اقتصاد کې بنسټیز رول لوبوي. دغه پنځه برخې عبارت دي له ،پیسې(**Money**) ،مالي وسایل(**Financial Instruments**) ، مالي مارکېټونه (**Financial Markets**)، مالي اداري(**Financial Institutions**) او مرکزي بانک(**Central Bank**) .د دغه مالي سیستم لمړی برخه، چې پیسې دي موږ د اجناسو د تبادلې او د خپلې شتمنۍ د زېرمې لپاره یې کاروو. دویمه برخه ،چې مالي وسایل دي د شتمنیو د لېږد لپاره ترې ګټه پورته کوو له هغو خلکو،چې زیاتې شتمنۍ لري  او یا دا ،چې خطر نه شي منلی ،هغو ته ،چې کمې شتمنۍ لري خو اړتیا ورته لري او یا دا، چې خطر منلی او تنظیمولی شي، چې (**Stocks**) ، (**Bonds**)او بیمې کمپنۍ یې ښه مثالونه دي. دریمه برخه ،چې مالي مارکېټونه دي بیا د دې لپاره اړین دي ، چې دغه مالي سیستم وسایل په ښه شان سره پکې تبادله او همدارنګه د ونډو پېر او پلور په کې په سم او ارزانه ډول تر سره شي، چې د نیویارک بازار یې یو ښه مثال دی. څلورمه برخه بیا مالي اداري دي ، چې بېلابېل خدمات او مالومات وړاندې کوي، چې بانکونه یې ښه مثال دی. پنځمه برخه بیا مرکزي بانک دی ، د دې ټول مالي سیستم او په سیستم کې د ستونزو د کنټرو دنده په غاړه لري، چې د ټولو بانکونو او مالي ادارو په رأس کې ځای لري(9:1).

نو اوس په لاندې ډول د مالي سیستم پر لمړی برخه ،چې پیسې دي او د لمړیتوب څخه یې خرګندیږي، چې تر ټولو مهمه برخه یې ده او همدا شان تر څنګ یې زموږ د دې مضمون محوري موضوع هم ده ، په هر اړخیز او مکمل ډول یې تر بحث او څېړنې لاندې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پیسې**

معمولا موږ د پیسو په اړه چې فکر کوو، سیکو او کاغذي نو ټونو ته پیسې وایو او همدارنګه د حکومت په چوکاټ کې، چې کله د پیسو په اړه خبرې کیږي نو د پیسو اندازې (بخچې یا Fund ) او بانکي حسابونو ته پیسې ویل کیږي. کله څوک قیمت ته د پیسو نوم ورکوي کله ارزښت ته ، ځینې مهال که وکتل شي نو قیمت ، پیسې او ارزښت په یو نظر ګوري او حتی بعضې مهال خو موټر، کور، ځمکه او که لنډ ډول ووایو ټوله شتمني د پیسو په نوم یادوي او هغه داسې چې کله یو څوک و وایي ،چې پلانکی څومره زیاتې پیسې لري! او همدې ته ورته نورې خبرې. خو په حقیقت کې داسې نه ده، اقتصاد پوهان بیا پیسو ته بېلابېل تعریفونه لري. اقتصاد پوهان یې بیا داسې راپېژني ،چې هر هغه څه، چې خلک یې د توکو تبادلې او پورونو د ورکړې لپاره کاروي پیسې دي(5:1).

د جهدېش په نوم اقتصاد پوه خپل کتاب کې د پیسو په اړه لیکي ، چې پیسې هم د لوی اقتصاد او هم د کوچني اقتصاد یوه مهمه وسیله ده. چې په کوچني اقتصاد کې د پیسو په عرضه او تقاضا باندې بحث کیږي او په لوی اقتصاد کې د پیسو سیاست او د هغې اغېز په اقتصاد باندې تر څېړنې لاندې نیول کیږي. پولي اقتصاد د پیسو د عرضې، قیمتونو، سود نرخ او د دوی اغېز په اقتصاد باندې څېړي. همدارنګه پولي اقتصاد د پیسو او نورو مالي مارکیټونو، د سود نرخ پر ټاکلو، د سود د نرخ اغېز په لوی اقتصاد باندې څېړي. د دې تر څنګ پیسو اقتصاد د پیسو سیاست په اړه څېړنې کوي ، چې د مرکزي بانک لخوا په لاره اچول کیږي او په هغه کې دا کتل کیږي ، چې دغه سیاست په نورو تولیدي واحدونو او همدارنګه په ټول اقتصاد باندې څه ډول اغېز پرې باسي، د دې تر څنګ د پیسو عرضه او تقاضا څنګه د پیسو کړنلارو په وسیله څارل او کنټرولیږي( 10:2).

که په لنډ ډول و وایو ،چې د پیسو اقتصاد په دغه مضمون کې موږ، د پیسو پېژندنې، د پیسو دندې، د پیسو د پشپړتیا پړاوونه، د پیسو بڼې، د پیسو ډولونه، د پیسو د بیلابیلو ډولونو اهمیت او له منځه تګ لاملونه، د پیسو په اړه تیوریګانې، د پیسو ارزښت، د پیسو نوي او ګټور نسلونه او د هغوی په مخکې پراته خنډونه، د پیسو لپاره تقاضا، د پیسو عرضه او هغه لاملونه ،چې د پیسو عرضه او تقاضا اغېزمنوي، انفلاسیون او نور هغه اړخونه ، چې پیسو باندې او پیسې پر دوی باندې اغېز کوي تر بحث لاندې نیول کیږي.

**د پیسو شالید**

دا روښانه ده، چې په تېرو تاریخي وختونو کې پیسې د نن ورځې په شکل شتون نه درلود او هم په هغه وخت کې بېلابېل شیان د پیسو په توګه ګڼل شوي او د وخت په تېرېدو سره پیسې د هغوی ځای نیولی دی، د راکړې او ورکړې پرمختګ په اثر د انساني تمدن په لومړیو وختونو کې دتبادلې وسیلې د پاره ضرورت احساس شو او له حیواناتو څخه دتبادلې د وسیلې په توګه په راکړه او ورکړه کې استفاده کېدله. د لومړیو پیړیو په وروستیو او د منځنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړيو په لومړيو کې فلزات(خصوصاً سره او سپين زر) د تبادلې د وسيلې په توګه تر استفادې لاندې واقع شول، په ځينو ټولنو کې؛ لکه: افريقا او د بحرالکاهل جزيرې صدف، د مرغۍ بڼکې تبادلې وسيلې وې او تر دې وروستيو سلو کلونو پورې د تبادلې د وسيلې په توګه ترې استفاده کېدله؛ مګر انسانان د پوهې او معلوماتو په واسطه وپوهېدل، چې د دې بېلا بېلو پيسو له ډلې څخه؛ لکه حېوانات، تنباکو، کانې ، سره او سپين زر د راکړې او ورکړې لپاره د ښه مشخصاتو او معيارونو لرونکي دي؛ يا په بل عبارت دغه دوه فلزه د پيسو دندې په ښه توګه سر ته رسولی شي. دغه فلزات د خپل کيمياوي خواصو په اساس، چې په طبعيت کې په ازاده توګه شتون لري او د هغوی د فزيکي خواصو په اساس (ځليدنې، د پاڼه کېدو قابليت او داسې نو ر) د عامو خلکو د خوښې سبب وګرځېدل، پورته يادې شوې طبيعي ځانګړنې اغېزمنې اقتصادي پايلې هم له ځانه درلودې او د دې فلزاتو د لوړتيا نسبت نورو مالونو او شيانو ته برجسته کړی دی، په حمل او نقل کې اسانتياوې، دسرو او سپين زرو دايمي پايښت او پاتې کېدل، د سرو او سپينو زرو مشابهت او همدارنګه په ټولو هېوادونو کې د دې فلزاتو د وېش قابليت او نجيبه فلزاتو د پيژندنې وضاحت او نور د دې فلزاتو ښېګڼې او خصوصيات دپيسي په توګه قوت وباښه او د نړۍ ډېرو پخوانيو هېوادونو سره او سپين زر د پيسو په شکل په راکړه او ورکړه کې استعمال کړل او وروسته دسرو او سپينو زرو سکو د پيسو په حيث رواج وموند، له دې وروسته بانکنوټونه دسرو او سپينو زرو پرځای په جريان کې ولوېدل او د تعويض قابليت يې د سرو زرو په مقابل کې درلود، فلزي سکې او کا غذي سکې دواړه د مبادلې په جريان کې د استعمال وړ وګرځېدلې، پيسې نه يو ازې په فلزي او يا کاغذي شکل شتون لري بلکې د هغه په څنګ کې ليکلي پيسې( چک، بيمه لرونکی سند) هم په جريان کې د پيسو په حجم او اندازه کې ډېر نقش لري(35: 65ــ 66).

پيسې د بشر د هغو اړينو پنځونو څخه شمېرل کيږي ،چې په اقتصادي چاپېريال کې ديو داسې نظام د رامنځ ته کېدو سبب شوي دي، چې په منځ ته را تګ سره يې هغه ستونزې، چې د انسانانو ترمنځ د راکړې ورکړې او تبادلې په وخت کې يې شتون درلود په بشپړ ډول له منځه وړې دي او د پېرونکي او پلورونکي تر منځ يې د يو پُل حيثيت غوره کړی دی . دا، چې پيسې څه ډول منځ ته راغلې ، پيسې څه ته وايي ، په اقتصاد کې د پيسو مفهوم څه دی ، د پيسو دندې څه دي او دې ته ورته نور ټول مسايل به په دې فصل کې تشريح شي خو مخکې له دې څخه، چې دغه مو ضوعات تشريح شي لومړی د پيسو د منځ ته راتګ څخه مخکې تبادله چې د توکو او خدماتو ترمنځ متقابله تبادله ده او د بارټر سيستم په نوم هم ياديږي تر څېړنې لاندې نيسو.

**د بارټر سيستم ( د توکو مستقيمه راکړه ورکړه)**

بارټر سيستم، چې په حقيقت کې د اجناسو او خدماتو تبادله داجناسو او خدماتو په مقابل کې ده ، ډېره پخوانۍ او دبشريت د تمدن سره سم پيل شوېده، يعنې هغه وخت چې بشر په دې نړۍ کې سترګې غړولې دي نو ورسره سم دغه تبادله هم منځ ته راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې د اشخاصو توان او وړتیاوې ټاکلې او محدودې دي نو،یو سړی نه شي کولی، چې ټول هغه شیان، چې د انسان د ژوند پاتې کېدو په پار اړین دي تولید کړي، حتی که چېرې په ټو لنه کې افراد په تولیداتو کې دمختلفو استعدادونو لرونکي هم دي، خو بیا هم د کار وېش او تخصص اصل دا حکم کوي، چې هر شخص دیو جنس په تولید او یا هم په اکثر حد سره د ځو اجناسو په تولید پیل کوي . اوس هغه اشخاص چې د یو جنس په تو لید کې یې تخصص پیداکړی دی، نو هغه د خپلې اړتیا څخه په زیاته کچه تو لید کوي او دتولیداتو دغه زیاتوالی د هغو اجناسو په مقابل کې، چې د نورو اشخاصو په وسیله تو لید شویدي او ضمناً د هغه د ژوندانه لپاره لا زم دي تبا دله کیږي. په حقیت کې متقابله تبادله داسې یو سیستم دی، چې په هغې کې اجناس او خدمات د هغو اجناسو او خدماتو د لاسته راوړلو په پار، چې دوی ورته اړتیا لري په مستقیم ډول تبادله کیږي(3:32).

دمثال په ډول کله به، چې یو کب نیوونکي وغوښتل پوستکی لاس ته راوړي ، نو د پوستکي دلاس ته راوړلو لپاره کب نیوونکي باید ښکاري ته ماهیان ورکړي وای ، په همدې ډول کله به، چې یو اوبدوونکي د یوه جوړه بو ټو غو ښتنه درلوده نو باید دبوټو دلاس ته راوړلو لپاره اوبدوونکي موچي ته یو اندازه اضافي ټوکر ورکړی وی، تر څو یو جوړه بوټونه یې لاس ته راوړي وی. دغه مستقیمه تبادله، چې د خپل خواهش څخه د زیات تولید په نتیجه کې به یو جنس د بل جنس سره پرته له پیسو څخه تبادله کېده، په یوه اقتصاد کې د بارټر په نوم یادیږي او یا هم کولی شو، چې بارټر داسې تعریف کړو: دتوکو نبغ په نبغه بد لونې (تبادلې) ته، چې د دواړو خواؤ اړتیا په کې رفع شي او د پیسو په عنوان پکې څه شی شتون ونه لري بارټر سیستم وایي. د بارټر سیستم موجودیت اکثره د نړی په هغو ساحو کې تر سترګو کیږي، چې په اقتصادي لحاظ وروسته پاتې او د کاروبار له اړخه کمزورې او پر مختللې نه وي(9:35). د بېلګې په ډول اوس مهال هم زموږ د هېواد په ځینو کلیوالي سیمو کې دغه جنسي تبادله وجود لري او د تبادلې پر مهال ځینې توکي لکه الوګان، هندوانې، لمڅې او داسې نور توکي په غنمو، جوارو او ځینو نورو شیانو تبادله کیږي.

د بارټر سیستم مشکلاتو ته په کتو، چې مختلفې تولنې ور سره مخامخ وې، لیدل کیږي، چې د تبادلې په سیستم کې یو لازم او فعال سیستم وجود نه درلوده؛ چې په نتیجه کې یې د بشري ټولنې اقتصادي رُشد او توسعه د محدودیتونو سره مخامخ وه، بلاخره دغه سیستم په راکړو ورکړو کې د زیاتو ستونزو لرلو په اساس سره په تدریجي ډول له منځه ولاړ او د دغه سیستم ځای یو پولي اقتصاد، چې د بارټر سیستم څخه د را پیدا شویو مشکلاتو ته ځواب ویونکی ؤ ونیوه. پیسې په حقیقت کې د بشر د ډېرو مهمترینو پنځونو څخه شمېرل کیږي. د پیسو پیداینښت د بشر لپاره د زیاتو ګټو لرونکی دی، د مثال په ډول د پیسو پیژندنه د شمار واحد په حیث د دې باعث کیږي؛ چې د قیمتونو هغه اختلاف، چې په ساده او کوچنیو اقتصادونو کې چې په هغو کې یوازې د څو جنسونو تولید او مصرف صورت نیسي وجود درلود؛ له منځه یوسي، د دې په خاطر چې د دې لویې اختراع اهمیت ښه روښانه شي فرضوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې چاقو یو ډول جنسي پیسې دي، نو په دې حالت کې هرشی د چاقو په مقابل کې قیمت ګذاري کیږي. دمثال په ډول دوه دجوارو کڅوړې د یو چاقو برابر دي، یو وزه د دوو چاقو ګانو برابره ده، لس کېلې د یو چاقو برابر په پام کې ونیسو، په هماغه ډول لکه څرنګه، چې د وزن د اندازه ګیرۍ واحد ګرام دی، د طول د اندازه کولو لپاره واحد متر او د حرارت د اندازه کولو لپاره سانتي ګرېډ ته اړتیاده، همداسې د ارزش د اندازه ګیرۍ لپاره پیسو ته هم اړتیا ده. که څه هم زموږ لپاره په اوسني عصر کې دغه اختراع ډېره ساده په نظر راځي، مګر په خپل وخت کې بې له شک څخه یو ه مهمه اختراع ورته ویلی شو. ځکه چې داسې یو لازم تحول یعني د متقابلې تبادلې د سیستم څخه پولي اقتصاد ته تحول د پوهو اشخاصو د استدلال نتیجه ده. چې د یو ساده اقتصاد (بارټر سیستم) څخه یې یوه پولي اقتصاد ته انتقال ممکن کړی دی(36: 3 ).

**د بارټر سیستم ستونزې**

**د ارزښت د اندازې معیار نه شتون**

د متقابلې تبادلې په اقتصاد کې یو علمي معیار، چې په وسیله یې و توانیږو، چې د کالیو یا توکو او خدماتو ارزښت وټاکو وجود نه درلود. دسنجش معیار د نه شتون په صورت کې د هر جنس ارزښت نه شو کولی، چې په بازار کې په اسانۍ سره بیان کړو، په داسې شرایطو کې د هر هغه جنس ارزښت باید د هغه بل جنس په مقابل کې، چې دهغې سره تبادله کیږي او د مختلف کیفیت لرونکی دی بیان شي د بېلګې په ډول که چېرې په یو اقتصادکې (۳۰) ډوله اجناس په بازارکې د تبادلې په خاطر وجود ولري نو هر جنس باید د(۲۹) نورو اجناسو په مقابل کې قیمت شي ، یا په بل عبارت هر جنس د (۲۹) ډوله قیمت لرونکی دی، چې په پایله کې ویلی شو، چې په یو ډېر کوچني اقتصاد کې، چې په هغه کې یوازې (۳۰) ډوله اجناس او خدمات پیداکیږي (۴۳۵) ډوله د اجناسو قیمتونه به وجود ولري، د(۱۰۰) جنسونو لپاره به (۴۹۵۰) بیې او د (۱۰۰۰) جنسونو لپاره باید (۴۹۹۵۰۰) بیې ولرو. لیدل کیږي، چې په یوه داسې اقتصاد کې، چې په هغه کې د هر جنس لپاره د قیمتونو زیات تعداد شتون ولري ډېرې ستونزې رامنځ ته کېدای شي. روښانه ده، چې دا ډول تبادله یوازې په هغو لومړنیو اقتصادونو کې، چې خلک محدود اجناس تولید او تبادله کوي امکان لري. په پورته بېلګه کې له دغه فرمول څخه ګټه پورته کوو. $N=\frac{k(k-1)}{2}$ دN ټولو توکو د قیمتونو شمېر او Kپه یوه اقتصاد کې د ټولو موجوده اجناسو تعداد چې تبادله کیږي ښیي.

**په یوه مهال د دوه اړخیزو غوښتنو پوره کولو کې نیمګړتیا**

په یو داسې تجارتي سیستم کې، چې په هغه کې جنسونه په متقابل ډول تبادله کیږي، د یو جنس خرڅوونکی نه یوازې د یو داسې شخص په لټه کې وي، چې د ده د جنس غوښتنه لري، بلکې باید د خرڅوونکي شخص دا ړتیا سره سم جنس هم باید وجود ولري . دمثال په ډول: فرض کړئ، چې یو شخص غواړي، چې یو بېل په غنمو تبادله کړي، نو د غنمو د لاس ته راوړلو لپاره دغه شخص مجبور دی، چې یو بل داسې شخص پیداکړي، چې نه یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنم د تبادلې لپاره ولري بلکې د غنمو په بېل باندې د تبادلې تمايل هم ولري. بناء پر دې ويلی شو، چې د بارټر سيستم په عين وخت کې د طرفينو تمايل غوښتنه کوي. بالاخره مشکل هغه وخت زيات شو، چې يو شخص غيرې قابل د تقسيم توکی لکه: غوا، مېږه او نور لري غواړي، چې هغه په يوه جوړه جورابو، بوټونو، پنېر او يا نورو شيانو تبادله کړي، دلته ليدل کيږي، چې د دواړو طرفونو د غوښتنو مطابقت په يوه داسې سيستم کې د ګڼ شمېر مشکلاتو سره مخامخ کيږي. له هغه ځايه، چې د متقابلې تبادلې په يوه داسې سيستم کې، چې په هغه کې د تبادلې وسيله وجود ونه لري، يو شخص نه شي کولی په فوري ډول د هغه بل شخص څخه، چې د توکو د خرڅېدو تکل لري توکي وپېري. دې ته په کتو د دوؤ توکو ترمنځ د متقابلې تبادلې نرخ تصادفي تعينيږي او دغه تبادلې نرخ، چې په دې سيستم کې وجود لري حقيقي نرخ نه دی او په تصادفي ډول تعين شوی دی. نو ويلی شو، چې د تبادلې وسيلې (پيسو) د نه شتون په صورت کې د کاليو يا توکو خرڅوونکي او هغه دلالان، چې د زيات مقدار کاليو يا اجناسو عرضه کوونکي دي هم وجود نه لري او په پايله کې بازار هم نه شي توانېدی، چې وجود ولري(1:25).

## د سپما نا شونتيا

بارټر سيستم کې يو بل مشکل دا دی، چې دلته سپما په جنسي ډول وجود لري، يا په بل عبارت په دغه سيستم کې خلک په راتلونکې کې د شتمنۍ څخه د استفادې لپاره کولی شي، چې يوازې خاص اجناس پس انداز کړي. د پس انداز په دغه طريقه کې ليدل کيږي، چې د پس انداز شوي جنس د ساتنې د مصارفو او ياهم د هغوی د انبار دارۍ د مصارفو څخه صرف نظر کيږي او همدارنګه د دغه خاص جنس لرونکی د خرڅلاو په وخت کې ( هغه وخت چې د پس انداز شوي جنس لرونکی د بل جنس د پېر اراده ولري ) د زياتو مشکلو سره مخ کيږي. د مثال په ډول که پس انداز د حيواناتو په شکل وي، نو لومړی دهغوی ساتنه د مصارفو لرونکې ده او دويم که چېرې دغه حيوانات مريض شي کيدای شي، چې پس انداز کوونکي ته يې د ملاحظې وړ زيان ور واوړي او حتی د ځينو شيانو ساتنه لکه ماهي ، مېوه او نور به پس اندازکوونکي د زيات زيان سره مخامخ کړي(32: 3ــ6).

## د وېش نا وړتيا

د بارټر سيستم بل عمده ستونزه د اشياو د وېش ناوړتيا وه، که د اشياؤ د تبادلې لپاره په کوم نسبت موافقه هم وشي؛ بيا هم مشکل نه حليږي ؛ ځکه هغه اشيا، چې د تقسيم قابل نه دي ؛ د هغوی د تبادلې په صورت کې بيا هم مشکل په خپل ځای پاتې کيږي د بېلګې په توګه که څوک و غواړي، چې خپل موټر و پلوري او د ده غوښتنه يا تقاضا دا وي، چې د موټر پر ځای اړين توکي و پېري د بېلګې په توګه غواړي، چې کوچنی کاروبار وکړي نو هغه زيات ډوله توکي، چې د کوچني کاروبار لپاره کارول کيږي تر لاسه کړي نو دغه خپل موټر به څنګه پرزه پرزه کوي او يا دا، چې څنګه به دی خپل موټر د کوچنيو سلګونو اجناسو په مقابل کې تبادله کړي، چې نا ممکنه بريښي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه که چېرته یو کوچنی حیوان له یو لوی حیوان سره بدلوو نو دا به لا ستونزمنه څکه وي، چې د حیواناتو په وېش سره یو ژوندی جسم له منځه ځي او خپل خاصیت له لاسه ورکوي، چې په داسې حالت کې راکړه ورکړه د امکان څخه وځي او نه تر سره کیږي، چې د بارتر سیستم یوه له ډېرو سترو ستونزو څخه بلل کیږي.

**د ارزښت د ذخیره کېدو وسیلې نه موجودیت**

ځینې شیان موسمي شکل لري، چې باید په همغه مهال ګټه ترې پورته شي، چې زر او په کم وخت کې له منځه ځي، په دې سیستم کې بله عمده نیمګړتیا دا ده، چې ارزښت یې نه شو زخیره کولی، په دې مانا چې توکي د زیات مهال له پاره د ساتنې وړتیا نه درلوده او شتمن هغه شخص ګڼل کېده، چې د ضرورتونو لپاره یې د توکو ذخیره درلوده، چې د هر شخص لپاره د دې ډول ذخایرو موجودیت نا ممکن دی، له بلې خوا د اوږدې مودې لپاره د اشیاؤ د ذخیرې ساتل هم ممکن نه دي؛ ځکه چې شیان موسمي جنبه لري، ذخیره کیدلی نه شي او ضایع کیږي؛ نو په دې اساس سره ویلی شو، چې بارټر سیستم کې د ځینو ارزښتونو او شیانو ذخیره کول د اوږد مهال لپاره نا ممکن دي.

**د راتلونکو ورکړو لپاره د یوې وسیلې نه شتون**

په دې سیستم کې د پورونو د راکړو ورکړو لپاره؛ او په اینده کې د پرداخت جریان له مشکل سره مخامخ کیږي، نو په دې اساس د دې مشکلاتو په نظر کې نیولو سره ویلی شو، چې په دغه سیستم کې د اینده ورکړو (مصرف) لپاره کومه وسیله، چې د مشکلاتو د پیداکېدو په صورت کې پرې مشکل رفع شي شتون نه درلود(34: 62-63).

**د پیسو پېژندنه(تعریف)**

له هغه ځایه، چې د پیسو کلمه په ورځنیو خبرو اترو کې زیات استعمال لري او کېدای شي، چې د زیاتو شیانو معنی ولري، خو د اقتصاد پوهانو لپاره بیا د پیسو کلمه ځانګړې مانا لري او پیسې یې په بېلا بېلو شکلونو تعریف کړیدي او هر عالم نظر په دندو، اشکالو ، مشخصاتو او د هغو تاثیراتو او اغېزو سره پیسې تعریف کړیدي، د یو لرغوني او پخواني تعریف په اساس: پیسې هغه متاع (شی) دی ، چې جنسي تبادله له منځه وړي، ځینې ورورستي عالمان پیسې هغه متاع ګڼي ، چې د هغه خاوند ته قدرت ورکوي، چې ځان له پور څخه په وخت خلاصوي همدا شان د پلورلو او پېرودلو په معاملو کې ازادي ولري، ځینې نور د پیسو د پېژندنې اسانه لاره د هغې دندې ته متوجه کوي او د پیسو تعریف یې په دندو پورې اړوند کړی دی، هر جنس، چې وکولی شي د (تبادلې، د زېرمې، د حسابي واحد ارزښت او د پور د اداکولو وسیلې ) په توګه دندې اجراء کړي؛ پیسې ګڼل کیږي او ځینې بیا پیسې داسې تعریفوي: هرهغه شی، چې د اشیاوو خدماتو په مقابل کې او د پورونو د دوباره ورکړې په صورت کې په عمومي ډول د قبول وړ وګرځي پیسې بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماکس وبېر Max Weber پیسې د یو تبادلوي څیز په توګه پېژني او عقیده لري، چې دغه شی په ساتلو کې هم د اقتصادي بېلابېلو مرکزونو په واسطه د تبادلې د وسیلې په حیث ومنل شي. البرت فورستمن پیسې یو قانوني غوښتنه ګڼلې او په دې عقیده دی، چې دغه غوښتنه تل د فعال کېدو قابلیت لري او د فعال کېدو هدف، له قانوني غوښتنې څخه پر اجتماعي محصول باندې د کمي او کیفي دواړو اړخونو څخه عبارت دی، چې د یو تضمین شوې تبادلې د وسیلې په توګه ده، له پورتنیو تعریفو څخه داسې پایله اخیستل کیږي، چې پیسې د هغو وظایفو ته په پاملرنه تعریف شویدي.

دمارشال په نظر پیسې هغه شی دی، چې د دولت په څېر د داسې ټولو خصوصیاتو لرونکې وي، چې په هر ځای کې بې له شکه د منلو وړ او د هغو په مرسته د کالیو او خدماتو راکړه ورکړه او د پوروونو تصفیې صورت نیولی وي. د کول په نوم یو اقتصاد پوه په نظر، پیسې د اخیستلو د توانمندۍ نوم دی، چې په مرسته یې کالي اخستل کېدلی شي(34: 64ــ 65).

**د پیسو نور تعریفونه**

**- تشریحي تعریف Descriptive Definition**

په دې تعریف کې د پیسو یوازې ذاتي څېره په نظر کې نیول شوې اوبه ځانګړې ډول د پیسو وظایف په نظر کې نیول شوي دي او هغه څېړل شوي دي، چې پیسې خپله څه شی دي یو اقتصاد پوه (Crowther) په خپل کتاب کې لیکي، چې هر هغه شی، چې په عمومي ډول د تبادلې د وسیلې په توګه د قبولیت وړ اوبه عین وخت کې د ارزښت د اندازه کولو او زخیره کولو وظیفه په غاړه ولري. همدارنګه یو بل اقتصاد پوه (Coulborn) په نوم بیا پیسې داسې تعریف کوي: پیسې د تادیې او ارزښت ټاکلو د وسیلې په توګه تعریف کیدی شي. د اقتصادي علومو یو بل عالم (Coul) په وینا هر هغه شی، چې په پراخه توګه د تادیې د وسیلې او په عمومې ډول د پوروونو د تصفیې له پاره د قبولیت وړ وي پیسې بلل کېږي.که پورته تعریفونو ته نظر وکړو نو یوه مهمه نیمګړتیا په دې تعریفونو کې لیدل کېږي، هغه دا، چې دغو پوهانو پیسې ندي تعریف کړي بلکې دوی فقط دا تشریح کړي، چې پیسې څه شی دي؟ او پورته تعریفونه وظیفوي او تشریحي تعریفونه دي، د پیسو یوه برخه یې په نظر کې نیولې ده.

**۲- قانوني تعریف Legal Definition**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیسو پدې تعریف کې د دولت له خوا د پیسو تیورۍ څخه استفاده شوې ده.دا په دې مانا، چې د دې تعریف له مخې د دولتي قوې په اساس یو شی د پیسو په ډول د قبلېدو وړ اعلانیږي، چې دلته یې اقتصاد پوهان داسې تعریفوي. (Professor Knap)وایي: هر هغه شی، چې د دولت له خوا د پیسو لپاره اعلان شي پیسې بلل کېږي. همدارنګه (Professor Hartley) بیا داسې نظر لري، چې پیسې باید قانوني تمایل ولري یا قانوني بڼه ولري. نو ویلی شو، چې د یوه هیواد حکومت باید یو شی د پیسو په توګه د تادیې د وسیلې لپاره څرګند کړي او په خلکو زور وارد کړي، چې د پیسو په توګه یې قبولې کړي. پیسې د قانوني تعریف له مخې یو څه تنګوالی لري څکه، چې دولت په خلکو فشار نه شي واردولی چې پیسې ومني، دلیل دا دی، چې د یو شي لپاره، چې د پیسو په توګه استعمالیږي قانوني ملاتړ تر څنګ د خلکو ملاتړ هم ضرور دی.دمثال په توګه په ۱۹۲۳م کال کې (مارک) د پیسو په توګه د خلکو له خوا نه ؤ قبول شوی سره له دې، چې دولت د پیسو په توګه منځ ته راوړی ؤ.

**۳- عمومي قبولیت تعریف General Acceptability Definition**

دلته د اقتصاد پوهانو یوه بله ډله، چې پیسې د هغې د عمومي قبولیت د اصطلاح سره د خو نورو وظایفو له مخې تعریفوي.Seligman پیسې داسې تعریفوي: پیسې صرف هغه شی دی، چې ټولو ته د قبول وړ وي. همدارنګه دپ یسو په باره کې D.H.Robertson بل نظر لري، هر هغه شی، چې په پراخه توګه د اجناسو د تادیې لپاره قبول کړی شوی وي. خو د پیسو له پاره هغه تعریف، چې په عمومي ډول قبول کړی شوی دی په لاندې ډول دی.

پیسې هغه شی دی، چې په باقاعده ډول په اقتصادي معاملاتو کې د تبادلې د وسیلې په توګه، دشمیرلو د واحد ،اود ارزښت د ذخیره کېدو په توګه په کار وړل کېږي(9 : 2 ـ 3 ).

**د پیسو دندې**

که چېرې پیسې یو صدف، د کاڼي یوه ټوټه، کاغذ او یا هم سره زر وي نو په یوه اقتصاد کې درې عمده وظیفې سرته رسوي: دتبادلې وسیله، دمحاسبې واحد او د ارزش زېرمه. د دغه دریو وظیفو څخه پیسې د تبادلې واحد په حیث د دې سبب ګرځي چې پیسې د سیارې شتمنۍ (اسهام، او پور پاڼې) څخه توپیر کړو.

**۱: د تبادلې وسیله(Medium of Exchange)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې د اقتصاد  د مارکېټ په ټولو معاملو کې پیسې د بانکنوټ، سکو او یا چک په حیث د تبادلې وړ ګرځي، یعنې د اخیستل شویو توکو او خدماتو په مقابل کې د ورکړې یوه وسیله شمېرل کیږي. د پیسو څخه د تبادلې د وسیلې په توګه استفاده کول په اقتصاد کې د مؤثریت د رامنځ ته کېدو او وړتیاؤ د زیاتوالي لامل ګرځي او د اجناسو او خدماتو په تبادله کې د وخت د ضایع کېدو مخنیوی کوي. د زیاتې پوهې لپاره یو بارټري سیستم په نظر کې نیسو، چې بدون د پیسو د موجودیت څخه اجناس او خدمات په مستقیم ډول د پیسو په مقابل کې یو د بل سره تبادله کیږي. فرضوو چې مصطفی د اقتصاد علم استاد دی او د اقتصاد علم پرته بل کار سره بلدتیا نه لري. په یو بارټري اقتصاد کې که چېرې مصطفی خوراک لپاره یو څه غو اړي، نو هغه باید د دهقان په لټه کې شي، ترڅو د هغې لپاره د پام وړ غذا تیاره کړي او علاوه پردې نوموړی دهقان باید د اقتصاد د علم په لټه کې وي.

څه ډول، چې ګورئ دا یو ستونزمن او وخت ضایع کېدونکی کار دی او مصطفی هم ډېر وخت ته اړتیا لري ترڅو داسې دهقان پیداکړي، چې د علم او زده کړې علاقمند وي. په داسې حالاتو کې بهتره ده چې درس پریږدي او په کرهنه لاس پورې کړي، که چېرې دا کار هم تر سره نه شو نو یو داسې وخت ممکن دی، چې له ستونزو سره مخ شي او حتی له داسې ستونزو، چې ژوند یې هم په خطر کې شي. د اجناسو او خدماتو د تبادلې په موخه اړین وخت، د تبادلې د لګښتونو( راکړې او ورکړې) په نامه یادیږي. په یوه بارټري اقتصاد کې ( د نېغې تبادلې پر بنسټ اقتصاد) د راکړې او ورکړې مخارج فوق العاده لوړ دي، ځکه وګړي باید دوه ناڅاپه غوښتنې پوره کړي، هغوی باید داسې یو کس ومومي چې له یوې خوا د هغو داړتیا وړ اجناس او خدمات ولري، او له بل پلوه د ځان له خوا اجناسو او عرضه شوو خدماتو ته اړتیا مو جوده وي.

راځئ، چې و وینو که چېرې پیسې په اقتصادي سیستم کې معرفي شي بیا به څه پېښ شي، مصطفی باید هغه ځوک، چې د ده د تدریس اورېدو ته لېوالتیا ولري، د پیسو په بدله کې ورته تدریس وکړي، هغه بیا کولی شي بزګر ته(په مارکېټ کې د ده استاذی ته) مراجعه وکړي خپلې اړتیاوې هغو ته د تادیه شویو پیسو په واسطه پوره کړي. دوه ستونزمنې غوښتنې، په تصادفي ډول سره حل کیږي او هغه کولی شي په کومو مسایلو کې، چې برلاسی دی هغوی ته زیات فرصت ولري. څرنګه، چې دا مثال څرګندوي، پیسې د اجناسو او خدماتو په تبادله  کې د وخت د ضایع کېدو څخه د مخنیوي له لارې اقتصادي اغېزمنتیا او وړتیا لوړوي او په دې ترتیب وګړي کولی شي د زیات فرصت په لرلو سره هغه کارکې، چې په خورا ښه توګه یې ترسره کولی شي، پکې تخصص ولري. له دې امله پیسې په اقتصادي سیستم کې یوه جدي اړتیا ګڼل کیږي او په واقعیت کې پیسې د غوړیو رول لري، چې د اقتصادي سیستم د څرخونو څرخول اسانه کوي. دا کار د تبادلې مخارجو د کمښت له لارې ترسره کیږي او د تخصص او د کار وېش زمینه چمتو کوي. پیسو ته اړتیا دومره جدي ده، چې نژدې ټولې ټولنې، پرته له بدوي ټولنو څخه، ورته شدیده اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشر په تاریخ کې د پیسو متفاوت ډولونه تر استفادې لاندې راغلي، چې پورته ځانګړنې یې لرلې، د امریکې بو میانو د تسبیح دانې د پیسو په توګه کارولي او په پای کې د دوهمې نړیوالې جګړې په ترڅ کې محبوسینو، له سګرټو څخه د پیسو په توګه کار اخیست، چې تا ریخي لرغونتوب لري.

**۲: د شمېر وسیله (Unit of Account)**

د پیسو دوهمه دنده د شمېر د وسیلې په توګه د دندې تر سره کول دي، یعنې په یوه اقتصادي نظام کې د ارزښت اندازه کول د پیسو په واسطه صورت مومي. د اجناسو او خدماتو ارزښت د پیسو په بنسټ اندازه کوو. په هماغه توګه چې وزن د کیلو ګرام او یا هم واټن د میل په اساس سنجش کیږي. د پیسو د دې وظیفې په اهمیت باندې د پوهېدو په خاطر یو ځل بیا بارټري اقتصاد ته، چې په هغه کې پیسې وجود و نه لري په نظر کې نیسو. که چېرې په یو اقتصادي سیستم کې یوازې درې جنسه شتون ولري، د بېلګې په توګه شفتالو، د اقتصاد درس او سینمایي خدمات، په دې صورت کې د هغې د تبادلې لپاره په دریو بیو باندې باید پوه وو؛ د شفتالو بیه د اقتصاد د درس په وړاندې(دیو شفتالو لپاره د اقتصاد څومره درس ورکړل شي)، د سینمایي خدماتو په وړاندې د شفتالو بیه او د سینمایي خدماتو په وړاندې د اقتصادي درس بیه، که چېرې (۱۰ ) جنسونه باید د یوه جنس د تبادلې له بل سره (۴۵) بیې ولرو، د (۱۰۰) جنسونو لپاره (۴۹۵۰) بیې او د(۱۰۰۰) جنسونولپاره باید( ۴۹۹۵۰۰) بیې ولرو.

تصور وکړئ چې څومره ستونزمنه ده، چې د خوړو په یوه پلورنځي کې، چې (۱۰۰۰) ډوله بېلا بېل توکي شون ولري، تاسې اړ وئ، چې پرېکړه وکړئ د کب یا د چرګ غوښه ارزانه ده؛ په دې صورت کې، چې د چرګ د غوښې یوه کیلو له څلور چنده کوچو او د یو کیلو کب بیه له اتو کیلو سرو بانجانو سره انډول لري، په دې اړه د دې ډاډ تر لاسه کولو لپاره، کولی شو، چې د ټولو توکو بیې سره پرتله کړو، د هر جنس بیې تر (۹۹۹) توپیر لرونکو بیو رسي او کوم وخت، چې د هغې په لوستلو ضایع کیږي د تبادلې د مخارجو د شدید لوړېدو سبب ګرځي. د دې ستونزې حل لاره دا ده، چې پیسې اقتصادي سیستم ته د نه شي او ټولې بیې د سنجشي واحد پر بنسټ وټاکل شي او موږ کولی شو د اقتصاد د درس، شفتالو، او سینمایي خدماتو بیې د ډالر له رویه سنجش کړو. که چېرې په اقتصاد کې یوازې درې جنسه موجود وای، نو  په هغه صورت کې پیسې د بارټري اقتصاد په نسبت د چندان اهمیت څخه برخورداري نه دي. مګر هغه مهال، چې د پیسو په موجودیت کې (۱۰) جنسونه موجود وي، نو د هغې لپاره (۱۰) قیمتونه او د (۱۰۰) جنسونو لپاره فقط (۱۰۰)قیمتونو ته اړتیا لرو. همدارنګه ک یو لوی پلورنځی فرض کړو، چې هغه کې په زرګونو نوعې د اجناسو موجودې وي، نو فقط زرګونو قیمتونو ته د هغې په مورد ضرورت دی، نه(۴۹۹۵۰۰) قیمتونو ته، په دې ترتیب د پیسو څخه په یوه اقتصادي سیستم کې استفاده د دې سبب شول، چې د راکړې او ورکړې مخارجو کموالی پیداکړ، ځکه  د هغو قیمتونو تعداد، چې په نظر راتلل کموالی پیداکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳: د ارزښت زېرمه کولو وسیله (Store of Value)

همدارنګه پیسې د ارزښت د زېرمې په توګه دنده تر سره کوي یعنې د وخت په جریان کې د پېرودلو د ځواک له زېرمتون څخه عبارت دی. د ارزښت یوه زېرمه د پېرودلو د ځواک د ساتنې لپاره عاید ترلاسه کولو او د لګښت تر مهاله ترې ګټه اخیستل کیږي. د پیسو دا دنده له دې امله ګټوره ده، چې موږ نه غواړو سمدلاسه د خپل عاید ډېره برخه له لاسه ورکړو، بلکې دا غوره بولو تر هغه چې د مصرف وخت یا تمایل پیدا کوو، هغه زېرمه کړو. یوازې پیسې د ارزښت زېرمه کولو وسیله نه ګڼل کیږي، بلکې د شتمنۍ هر قلم (پیسو،اسهامو پاڼې، قرض پاڼې، ځمکه، کور، هنري کرڼې او یا جواهر) کېدی شي، چې د ثروت د زېرمې په حیث ترې ګټه واخستل شي. د دې څخه ډېرې شتمنۍ شته چې د ارزښت په زېرمه کولو کې د پیسو څخه د خورا زیات ګټورتوب لرونکي دي، دا شتمنۍ د زیاتې ربحې نرخ نظر د مالکینو پیسو ته پرداخت کوي او خپل مالک ته ښه خدمات چمتو کوي، که چېرې دا شتمنۍ د ارزښت د زېرمې لپاره ښه والی لري، نو خلک ولې په معمولي توګه پیسې زېرمه کوي؟ د دې پوښتنې ځواب یوه مهم اقتصادي مفهوم، یعنې نغدېدونکي ځواک ته ورګرځي، چې عبارت د اسانتیا او نسبي سرعت څخه دی، چې یوه شتمني د هغو په واسطه د تبادلې په یوه بله وسیله بدلیږي. د نغدېدونکي ځواک یا په پیسو د تبدیلېدو وړتیا د لوړ مطلوبیت لورنکې ده. پیسه د خورا زیات سیالیت لرونکې ده، ځکه په بازار کې د اجناسو او خدماتو د پېرودنې لپاره په یو بل شي د تبلېدو اړتیا نه لري، نورې شتمنۍ په پیسو د تبدیلېدو له امله د تبدیلېدو مخارج مني، کله چې تاسې خپل کور پلورۍ باید دلال یا منځګړي ته د کمیشن په نامه پیسې ورکړئ ( چې دا معمولاً د خرڅلاو د بیې له ۵ تر ۷ سلنې وي). که چېرې تاسې د بیړنۍ تا دیې لپاره نغدو پیسو ته اړتیا ولرئ، تاسې ښایي اړ وئ، چې د تادیاتو لپاره خپل کور په کمه بیه وپلورئ. دا حقیقت، چې پیسې په ټولو دارایي ګانو کې تر ټولو لوړ نغدېدونکی ځواک لري، دا توضیح کوي چې وګړي ولې له ځانه سره د هغو ساتنې ته میلان لري، سره له دې د ارزښت د زېرمې په توګه د خورا زیات جذابیت لرونکي نه دي. دا چې پیسې ترکومه حده یوه ښه او ارزښت لرونکې زېرمه ګڼل کیږي؛ د بیو له کچې سره تړاو لري، ځکه د هغو ارزښت د بیې د کچې له مخې ثابت پاتې کیږي. د مثال په ډول د بیو د کچې دوه چنده کېدل په واقعیت کې د پیسو د ارزښت کمښت د هغو نیمایي ته دی برعکس د بیې د ارزښت کمښت د هغو نیمایي حد ته، په حقیقت کې د پیسو د ارزښت د دوه چنده کېدو څرګندونه کوي.  دانفلاسیون په شتون کې، کله چې د بیو کچه په ګړندۍ توګه زیاتوالی مومي، پیسې هم په چټکۍ خپل ارزښت له لاسه ورکوي او وګړي هم د دې لیوال نه دي چې خپله دارایي د پیسو په بڼه وساتي، مخصوصاً دا په هغه وخت کې ډېره حقیقي ده، چې انفلاسیون ډېرشدید وي او د بې قبضې انفلاسیون په نوم یادیږي، په اقتصاد کې رامنځ ته کیږي. دا انفلاسیون (پړسوب) وروسته له لومړۍ نړیوالې جګړې په المان کې رامنځ ته شو، چې ځینې وخت د هغه نرخ په میاشت کې له(۱۰۰۰) سلنې زیاتېدو. وروسته دا بې قبضې تورم  په (۱۹۳۳) کال کې د بیو کچه له (۳۰) ملیاردو څخه زیاته وه، چې د دوو مخکینیو کالونو سره یې سمون درلود، د بېلګې په ډول په وروستیو ورځو کې دا ډول تورم(پړسوب) د یوې وچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ د پیروودنې لپاره یوې لاسي ګاډۍ ته اړتیا وه. په هغه وخت کې پیسو داسې خپل ارزښت له لاسه ورکاوه، ان داچې کارکوونکو د ورځې څو ځله رخصت اخیست، د دې لپاره چې مخکې له دې نه، چې د دوی د تر لاسه مزد خپل ارزښت له لاسه ورکړي خپل د اړتیا وړ توکي وپېري. هېڅوک دې ته حاضر نه وو چې پیسې له ځانه سره وساتي، له دې امله په معاملاتو کې پیسې به له حده زیاته رالوېدلې وې او بارټري اقتصاد (جنس په جنس سودا کول) ببرته تسلط موندلی ؤ او په هماغه توګه، چې انتظار ایستل کېدو، تولید په جدي تو ګه کمښت موندلی ؤ(30: 9_5).

**۴: په راتلونکې کې د پورونو د اداکولو وسیله**

د خلکو او افرادو مالي تعهدات د پیسو په واسطه تادیه او تصفیه کیږي  او د دې دندې په واسطه پیسې د پورونو د تادیې یوه وسیله کېدای شي او هېڅوک نه شي کولی د پور په ادا کولو د هغه د منلو څخه انکار وکړي؛ مګر دا واضحه ده، چې د پولي تورم په شرایطو پورې (داین) خساره مند کیږي، د پیسو وظیفه د ارزښت د ذخیرې د وسیلې په عنوان  او د هغې په ادا کولو زیانمنه کیږي(34: 71).

**د پیسو ځانګړنې**

۱:عام اعتبار او قبولیت: خلک یو شی هغه وخت قبلوي، چې هغه نوروته هم هغه شان د منلو وړوي او دمتبادل مقصد لپاره د استعمال وړ وي، د یو شي لپاره عام اعتبار دهغه په خپل قېمت یا حکومت په سرپرستۍ پورې او د حکومت په ضمانت حاصلیږي.

۲:د ټیکاؤ وړتیا :هغه شی چې د پیسو په ځای استعمالیږي؛باید مستحکم او ټینګ واوسي؛ په دې معنی، چې د هغې د خرابېدلو په مورد کې تشویش موجود نه وي،چې د زړېدو او یا ویشلو سره خپل ارزښت د لاسه ورنه کړي.

۳:د لېږد وړتیا: هغه شی، چې د پیسو په ځای کارول کیږي باید د انتقال امکانات یې اسانه او په لږ حجم سره د زیات ارزښت څښتن وي.

۴:د وېش وړتیا: هغه شی، چې د پیسو لپاره کارول کیږي، باید په کوچنیو برخو د تقسیم قابلیت ولري؛ تر هغې پورې چې په مرسته یې د لږ ارزښت لرونکي شیان واخیستل شي.

۵: د ارزښت ساتنې وړتیا: هغه شی، چې د پیسو په ځای استعمالیږي؛ باید په ارزښت کې یې ثبات شتون ولري ځکه، چې د هغې په ارزښت کې د تغیراتو په اساس د نورو شیانو ارزښت سم نه شي اندازه کېدلی او د داسې شي ارزښت د ذخیره کولو او تادیې د وسیلې په توګه نه شي استعمالیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦:یوشانوالی: کوم شی چې د پیسو په ځای دنده سرته رسوي؛ په کوچنیو ذرو د وېشلو په صورت کې ټولې زرې یو شان اوصاف ولري او په ارزښت کې یې کموالی را نه شي.

٧:د پېژندلو وړ وي: هغه شی؛ چې د پیسو په ځای استعمالیږي؛ باید په اسانۍ سره و پېژندل شي، که نه وي؛ نو د پېژندلو لپاره یې وسایلو ته اړتیا ده، چې ستونزې رامنځ ته کوي نو باید په اسانۍ وپېژندل شي.

٨:نرموالی ولري: هغه شی، چې د پیسو په ځای استعمالیږي،باید نرم وي، چې په وړو سیکو بدل او نښان پرې ثبت کړی شي.

٩: لږې پیدا کېدونکی وي: مناسب کموالی د یو شي دارزښت استحکام سبب ګرځي، مثلاً د اوبو تبادلوي ارزښت د صفر سره برابر دی ځکه، چې اوبه په ډېره زیاته اندازه پیدا کیږي.

١٠:افاده او ذاتي ارزښت ولري: دپورتنیو خواصو په نظر کې نیولو سره نتیجه اخیستل کیږي، چې طلا او نقره د نورو ټولو اجناسو په نسبت دا صفتونه زیات په ځان کې لري او په دې اساس په نړیواله سطحه هغوی ته د پیسو مقام حاصل شوی، باید علاوه کړو، چې د منظم پلان او کنترول په صورت کې کاغذي پیسې هم د ذکرشویو صفتونو لرونکې دي(34: 68ـ70) .

**په عموم کې د پیسو ګټې او اهمیت**

د یوه شي ارزښت تر دې پورې ځانګړی کیږي، چې د هغه د استعمال په پایله کې د افرادو لپاره انفرادي ګټه او بلاخره ملي اقتصاد ته څه ګټه لري، د اشخاصو لپاره د پیسو شته والی په بېلابېلو سیمو کې ګټور دی، چې په لاندې ډول په یو څو نقطو کې ورته کتنه کوو:

١: د پیسو په مرسته اشخاص د خپلو ضرورتونو له قیمتونو څخه اګاهي پیدا کوي او د خپلو عایداتو په نظر کې نیولو سره په داسې توګه ضروري ځیزونه لاس ته راوړي، چې د زیات ډاډ لامل وګرځي او د بلې خوا د وسایلو د محدود والي په اساس د قیمتونو د اګاهۍ په صورت کې انسانان د خپلو ضرورتونو درجه بندي او د هغې لپاره اقدام کوي .

٢:د پیسو د شته والي په صورت کې اشخاص د خپلو ضرورتونو د رفع کولو په خاطر د انتخاب له ازادۍ څخه ګټه اخیستلی شي او د اشخاصو ترمنځ د ضرورتونو د نه مطابقت مشکل حلیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: دناخاپي ضرورتونو د تغير په خاطر خلک ذخيره کوي ، د پيسو يو عمده خاصيت د نا معلومي موډې لپاره د هغې ذخيره کول دي ، چې کوم مصرف په دې صورت کې نه راځي ؛ بلکې د اضافه عايد دلاس ته راوړلو لپاره وسيله هم ګرځېدلې.

۴:پيسې د اقتصادي انکشاف سبب ګرځي، د جنسي تبادلې په صورت کې د اشخاصو د ضرورروتونو نه مطابقت يو عمده مشکل ؤ، چې د پيسو په منځته ته راتګ سره حل او د کاروبار وېش سبب وګرځېده او په خپله د کار وېش د اقتصادي پرمختګ لپاره وسايل برابر وي .

۵: کله چې پيسې د تبادلې د آلې په توګه استعمال شي نو د ملکونو تر منځ هم د اجناسو په تبادله کې اسانتيا رامنځته کيږي، يو ملک هغه اجناس، چې خپله يي نه لري، د پيسو په بدل کې د نړۍ له هر ګوټ څخه را غوښتلی شي نو ويلی شو، چې پيسو نړيوالې سوداګرۍ ته هم وده او ترقي ورکړې ده .

٦: د ارزښتونو ذخيره او د اندازه ګيرۍ د وسيلې په توګه پيسې د دې سبب شويدي، چې اشخاص خپل اضافي اجناس د پيسو په شکل ذخيره کړي.

۷: د پيسو په صورت کې اشخاص د خپلو عايداتو يوه برخه د توليدي هدفونو په منظور جدا کوي او په دې توګه د پانګې اچونې په زياتوالي سره د دولت د پيداينبت اندازه زياتيږي، چې د کاروبار د ساحې د پراختيا او دخلکو د ژوند سطحې لوړوالي سبب ګرځي .

۸: د پيسو په مرسته د پورونو په جريان کې ډېره اساني رامنځ ته شوې ، که اشخاص د محدودو وسايلو په مرسته خپل ضرورتونه نه شي رفع کولی؛ نو د پيسو په شکل د پور اخيستلو په پايله کې خپل ضرورت رفع کولی شي؛ همدارنګه کېدای شي، چې په ټولنه کې ذهين اشخاص شتون ولري، چې د پانګې د نشتوالي له امله د هغوی استعداد څخه ګټه نه اخيستل کيږي، چې د پيسو په رامنځ ته کېدو سره دې ډول اشخاصوته د پانګې د برابرولو او د کاروبار څخه د ګټې پور ته کولو امکانات برابريږي(34 : 66 ــ68).

**په پانګه وال اقتصادي نظام کې د پيسو رول**

**۱- د توليد تصميم**

توليد په اصل کې د پيسو د رواج له وجې سهولت وموند، پيسې کولی شي د شتمنۍ تشکل د هغه چا په لاس کې ورکړي، چې توليد کولی شي. همدارنګه داسې کمپنۍ شته، چې کولی شي د توليد مختلف عوامل په کار واچوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په راتلونکې کې د هغوی اجناسو او خدماتو ته تقاضا لیدل کیږي او همدارنگه دوی هم د پیسو په شکل نورو ته تادیات کوي، که چېرې اجورې د اجناسو په ډول صورت ونیسي نو معلومه ده، چې د اجناسو تبادله په محدود ډول سره صورت نیسي او تولید به هم په کمه اندازه صورت و نیسي.

د پیسو څخه بغیر په زیاته پیمانه تولید صورت نه شي نیولی نه کنټرول کیدای شي او نه په اقتصادي او موثره توگه صورت نیولی شي دا تصمیم، چې څه شی ؟ چېرته؟ کله ؟ او څومره تولید شي؟ ټول د پیسو په واسطه رهبري کیږي. مانا دا، چې دلته د پیسو اندازه ضرور ده چې اجناس او خدمات پرې سره تبادله کیږي او ویلی شو، چې د تولید مصارف هم د پیسو په واسطه تخمین کیږي، گټه او تاوان هم د پیسو په اساس معلومیږي همدارنگه خلک خپله سپما په بانکونو کې نورو خلکو ته د تولید په خاطر تصدیو ته ورکوي .

**۲- مصرف نمونه**

د ادم سمیت په وینا لگښت د اقتصادي معاملاتو هدف دی پخوا وختونو کې د انسانانو غوښتنې (تقاضا) محدوده او دغه محدودیت د دې سبب شوی دی، چې د لږو اجناسو په مصرف اکتفا وکړي د پیسو په پیدا کیدو سره د اجناسو په تبادله کې اسانتیا رامنځ ته کړي، چې د انسانانو غوښتنو ته ځواب و وایي.

د پیسو په نه موجودیت کې زیات مصرفي اشیا زموږ د مصرف په سیټ کې نه وو شامل او مصرف به مو په ښکته کچه تر سره کولو، د پیسو عمومي قبولیت او د هغې پراخه استعمال د تبادلې د وسیلې په توگه موږ ته دا فرصت را کوي تر څو زیات شیان د خپل مصرف په لستونو کې شامل کړو. هغه پیسې چې د عاید په ډول لاس ته راځي په دې ډول ترتیب کیږي، چې څومره اندازه یې سپما څومره اندازه سرمایه گذاري او څومره یې په مصرف ورسیږي ټول د یوه هیواد او د شمېرلو د واحد په واسطه بیانیږي.

**د معاملاتو تبادله**

په غیرې پولي اقتصاد کې د اجناسو تبادله ډېره مشکله او نا ارامه وه خلک د دوه اړخیزه غوښتنو د تصادف سره مخامخ ؤ. همدارنگه په دغه وخت کې د ارزښت د اندازه کولو عمومي واحد وجود نه درلود، چې پیسو استعمال د بارتر دغه نیمگړتیا له منځه یوړه، پیسې د تبادلې د وسیلې په توگه په زیاته اندازه د اجناسو تبادلې ته لاره هواره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د تبادلې پروسه یې په دوه برخو یانې خرڅول او اخستلو باندې و وېشله او په دې اساس یې د اجناسو او خدماتو په جریان کې د اخستونکي څخه خرڅوونکي ته اسانتیا رامنځ ته کړه .

**د وېش میتود**

د تولید د څلورو عواملو په یو ځای کېدو سره هر کال د اجناسو مجموعي تولید د یوې ټولنې له پاره صورت نیسي د تولید دغه عواملو ته لکه د جایداد له پاره کرایه ، کارګر لپاره مزد ، په سرمایه سود او د متشبث لپاره ګټه خپله برخه د پیسو په ډول تادیه کیږي. که چېرې د تولید هر عامل ته د هغه برخه د خام تولید په شکل (چې پیسې نه وي ) ورکړل شي نو د وېش موضوع یې د مشکلاتو څخه خالي نه ده. دمثال په ډول که چېرې ټوکر تولیدوونکی د تولید هر عامل ته خپله برخه د ټوکر په شکل ورکړي نو یوه اندازه ستونزي را ولاړولی شي. ولې لکه څنګه، چې پیسې په عمومي ډول د قبول وړ دي او تبادلې وسیله ده او په عین وخت کې د اندازه کېدو وسیله هم ده او همدارنګه ارزښت زخیره کوي نو په دې لحاظ د ملي ګټو ویش د تبادلې د وسیلې په توګه د ویش په پروسه کې تر زیاته حده اسانتیا رامنځ ته کړې ده. د جیون په وینا (پیسې) د تبادلې د کارونو په غوړولو کې په مناسب وېش او په بیا بیا وېش کې ښه کردار اداَ کوي.

**په عامه مالي ساحو کې**

پیسې په عامو مالي ساحو کې با ارزښته خدمت وړاندې کوي همدارنګه پیسې په یوه هیواد کې د اقتصادي وسیلې او د اجتماعي عدل ( د مالیې ټولولو ) په توګه عمل کوي. پیسې د دولت سره د هغه د مقاصدو په لاسته راوړلو کې مرسته کولی شي دولت په اسانۍ سره کولی شي، چې د پیسو په وسیله د دولت عایدات راټول کړي او د خلکو د رفاه لپاره یې په مصرف ورسوي.

**په بانکي محیط کې**

څرنګه، چې پوهیږو پیسې د مختلفو تادیاتو د وسیلې په توګه خدمت کوي او همدارنګه د پیسو د خرید په قدرت عمومي اعتماد د دې سبب شوی، چې د کرېډېټ په ساحه کې لوړ مقام ونیسي پور ورکوونکي کولی شي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محفوظه فضا کې پور ورکړي او برعکس له دې سببه ویلی شو، چې پیسو د بانکدارۍ او کریډیټي سیستم رامنځ ته

کړې دی(9: 11 ــ 13) .

## دویم څپرکی

## د پیسو بڼې

## Forms of Money

د پیسو تکامل صرف یوې پیښې ته نه منسوبیږي تاریخي دلایل ښیي، چې د پیسو تکامل د انسانانو د اقتصادي ضروریاتو په اساس صورت نیولی دی لکه څرنګه، چې مخکې یادونه وشوه په لرغوني اقتصادي پرمختګ کې مختلف اجناس لکه ماهي، چاقو، او داسې نور د ارزښت د واحد په توګه استعمالېدل چه وروسته غیرې سکه شوي فلزاتو د تبادلې د وسیلې په توګه ځای ونیوه د پیسو په تکامل کې معیاري سکو او غیرې معیاري سکو تر منځ اوږده مرحله موجوده وه او نن ورځ کاغذي پیسې، بانکي پیسې زموږ د تبادلې د وسیلې لویه برخه تشکیلوي ، د اقتصاد پوهانو له خوا دې ټولو پړاوونو ته په کتو یا د پیسو د تکامل د مرحلو په اساس پیسې په عمومي ډول په لاندې درې عمده برخو ویشل شوي دي.

1. **فلزي پیسې**
2. **کاغذي پیسې**
3. **بانکي پیسې**

### ۱. فلزي پیسې

فلزي پیسې د سرو زرو، مس او نیکل د سکو څخه تشکیل شوې دي فلزي کرنسي د وزن، ښایست او ارزښت له پلوه توپیر لري ټولې فلزي سکې په دواړو مخونو سکه کیږي تر څو د توږلو او ټوټه کیدو څخه یې مخنیوی وشي.

فلزي پیسې د پوره بدن یا باډي لرونکې وي ، پوره بدن( Full Body) په دې مانا، چې د هغې اسمي او ذاتي ارزښت سره یو شی وي لکه د سرو زرو او سپینو زرو سکې، چې د هغوی اسمي او ذاتي ارزښت په خپل وخت کې یې چلښت درلود یو شی ؤ. خو باید یادونه وشي، چې اوس وخت کې هېڅ هېواد د سرو او سپینو زرو سکو څخه استفاده نه کوي. د پیسو مربوط هر ډول فعالیت د دولت په غاړه دی همدارنګه البته پرته له تجارتي فعالیتونو څخه، چې خصوصي سکتور یې هم کولی شي. همدارنګه دولت د سکو د مهر کولو انحصار له ځانه سره لري او د پولي واحد د ارزښت د اعلانولو وظیفه په غاړه لري .

### ټوکن پیسې یا فلزي سکه

ټوکن پیسې کومکي یا فرعي پیسې دي، چې د هغې اسمي ارزښت د هغې د ذاتي ارزښت څخه لوړ وي او دا چې عمومي ډول د تادیې  لپاره قانوني پیسې دي، لکه فعلا د فلز سکې، چې کېدای شي له مسو، اوسپنې یا له نورو فلزاتو جوړې وي خو ذاتي ارښت یې له اسمي ارزښت څخه کم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- کاغذي پیسې**

د کاغذي پیسو اصطلاح هغو نوټونو ته منسوبیږي، چې د دولت او یا مرکزي بانک له خوا نشر شي . د کاغذي پیسو استعمال په ډېره پراخه پیمانه وجود لري ځکه، چې د تبادلې د وسیلې په توګه ډېره اسانتیا رامنځ ته کوي. د کاغذي پیسو ډولونه په لاندې ډول دي.

**الف ـ نماینده کاغذي پیسې**

د هغو پیسو څخه عبارت دي، چې په بشپړه توګه فلزي زخیره لري، د بانک نو ټونو لرونکي کولی شي د غوښتنې په وخت کې یې په فلزي پیسو تبدیلې کړي. په دې مانا، هغه پیسې، چې خلک یې ځان سره لري او یا مارکېټ کې موجودې وي، په هره اندازه، چې وي د هغوی سره په مساوي کچه سره زر هم په مرکزي بانک کې باید موجود وي تر څو کله، چې مراجعین و غواړي خپلې کاغذي پیسې له سرو زرو سره بدلې کړي نو مرکزي بانک زېرمه باید دا توان ولري، چې د خلکو غوښتنې پر ځای کړي. د بېلګې په ډول که چېرته مارکېټ ته مرکزي بانک ۱۰ لس ملیارده ډالر نشر کړي نو په همدې کچه د سرو زرو پشتوانه هم باید مرکزي بانک له ځانه سره په زېرمه کې ولري.

**ب - د تبدیلیدو وړ کاغذي پیسې**

هغه کاغذي پیسې دي، چې د تقاضا په وخت کې په سکو تبدیلېدای شي د تبدیلېدو وړ کاغذي پیسې دي. دولت او نور عامه صلاحیتونه، چې کاغذي کرنسي خپروي د دې شاته مساوي ارزښت زخیره وجود نه لري ځکه، چې هغه پوهیږي، چې ټول کاغذي نوټونه په عمومي ډول په عین وخت کې د تبدیلېدو لپاره نه وړاندې کیږي .

**ج ـ حکمي کاغذي پیسې**

هغه پیسې دي، چې د غوښتنې په وخت کې په طلا او سپینو زرو د تبادلې وړ نه وي، چې د خپرېدونکو صلاحیتونو په واسطه اعلان کړی شوې وي، چې په عمومي ډول د تبادلې د وسیلې په توګه د کارول شویو پیسو ارزښت هیڅ وي.

**د کاغذي پیسو ګټې**

**۱- اقتصادي**

د کاغذ د معیار لاندې مرکزي بانک د کاغذي پیسو لپاره سره زر او سپین زر د ځانه سره نه ساتي  او همدارنګه د چاپ لګښت یې ډېرکم وي نو پدې اساس کاغذي پیسې د پولي معیار لپاره اقتصادي شکل لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- د پیسو د عرضې ارتجاعیت**

ځرنګه چې د پیسو عرضه د سرو او سپینو زرو ملاتړ نه لري نو په دې اساس د پیسو د نشر مقامات په اسانۍ سره کولی شي، چې د پیسو عرضه د هېواد د تجارت او صنعت د اړتیا سره سمه کنټرول کړي.

**۳- اقتصادي پرمختګ**

د کاغذ د معیار لاندې پولي مقامات د پولي پالیسۍ په جوړولو کې ازاد دي نو په دې اساس د پیسو د نشر اداره په داسې ډول صورت نیسي، چې د هېواد د تولیدي منابعو څخه اعظمي استفاده وشي تر څو اقتصادي پرمختګ رامنځ ته کړي.

**۴- د داخلي قیمتونو ثبات**

د کاغذي پیسو اداره کوونکي کولی شي، چې د پیسو د نشر کموالی او ډېروالی د اقتصادي حالت په نظر کې نیولو سره اداره کړي، چې د دې په واسطه د قیمتونو داخلي سطحه ثبات موندلی شي.

**۵ – په بیړني حالت کې مرسته کوونکې**

په بېړنیو حالاتو کې کاغذي پیسې ډېرې ګټورې ثابتیږي لکه د ځینو اقتصادي بحرانونو په وخت کې یا هم د ځینو طبیعي پیښو په حالت کې زیاتې ګټورې ثابتیږي ځکه ډېر زر پولي مقامات تصمیم نیسي او حالات تر خپل کنټرول لاندې راولي، ځکه که چېرته بارټر سیستم وای نو د هغو ستونزو له امله، چې لري یې په کم او بېړني وخت کې به د اړتیا وړ اجناس نه شول تر لاسه کېدای.

**٦- یو شان کیفیت**

د کاغذي پیسو بله ګټه دا ده، چې یوشان کیفت لري مانا دا، چې داسې نه ده چه د پیسو یو نوټ په ښه کیفیت او بل یې دومره ټیټ کیفیت ولري، چې چاته د قبول وړ هم نه وي یا د جنسي پیسو په شان، چې د بېلابېلو شکلونو او کیفیتونو(لرګي، څرمنې، تیږو او هډوکو شکل) درلودونکې وې.

**د پیسو تقصیر یا ناوړتیا**

**۱- انفلاسیون خطر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاغذي پیسو په عرضه کې زیاتوالی دومره مشکل کار نه دی ځکه، چې د کاغذي پیسو په نشر کې د سرو او سپینو زرو څخه د پشتوانې په ډول کار نه اخستل کیږي نو په مالي چارو کې بې غوري کولی شي د نورو مشکلاتو سره سره د اجناسو په قیمتونو کې زیاتوالی رامنځ ته کړي.

### ۲- د داخلي قیمتونو بې ثباتي

د نړۍ زیات هیوادونه په کاغذي پیسو معاملات تر سره کوي او په یقیني ډول دوی د داخلي قیمتو نو ثبات لاس ته نه شي راوړلی، چې د دی سیستم لاندې په قیمتونو کې زورور داخلي نوسان وجود لري.

### ۳- د بې پروایۍ ویره

کاغذي پیسې په هغه وخت کې ګټورې ثابتېدای شي، چې په موثره توګه اداره شي که چېرې پولي صلاحیت لرونکي مقامات د پیسو د خپرېدو څارنه ونه لري نو د دې خطر شته، چې انفلاسیون رامنځ ته شي .

### ۴ – د هېواد په حدودو کې استعمال

څرنګه، چې د کاغذي پیسو ذاتي ارزښت هېڅ او یا صفر دی او کیدای شي په هغه هېواد کې استعمال شي، چې په کوم کې نشریږي او بهر د هېواد څخه صرف هغه کرنسي استعمالیږي، چې ثبات ولري. که چېرته سرو زرو ته وکتل شي د سرو زرو دوران کې دا محدودیت هېڅ موجود ځکه نه وُ، چې سره زر د نړۍ په هر ګوټ کې د منلو وړ دي، که چېر ته څینې سکې په خپل هېواد کې و نه منل شي نو د ذاتي ارښت په لرلو سره یې په بهرني هېواد کې هم مني ځکه سره زر د هغوی د خواصو په اساس په مختلفو صنعتونو کې د کارولو وړ دي(9: 27 ــ 28).


### د پیسو تکامل پړاوونه (Evolution of Money)

د انساني تمدن لومړی پړاو، چې هلته د پیسو هیڅ استعمال موجود نه وُ، نو کورنیو تقریباً خپل احتیاجات په خپله رفع کول. هرې کورنۍ خپل تولیدات په خپله مصرفول، د اجناسو تبادلې ته ضرورت نه وُ، ځکه، چې پیسو ته ضرورت نه پېښېدو. د وخت په تېرېدو ضرورت احساس شو، چې د اجناسو مستقیمه تبادله باید صورت ونیسي، چې بارټر سیستم رامنځته شو. نو لومړۍ پیسې، چې منځته راغلي او د اجناسو د تبادلې لپاره قبولې شوې، جنسي پیسې وې. کله چې ټولنو انکشاف وکړ، د پیسو نور اشکال د پیسو د تبادلې سیستم ته داخل شول، چې په سلسله سره یې لومړنۍ پیسو د لاندې دورو په طی کولو سره تکامل موندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**جنسي پیسې (Commodity Money)**

پخوا زمانو کې په لومړنیو ټولنو کې پیسو په جنسي شکل وجود درلود او په دې ترتیب، خاص اجناس به د پیسو په عنوان په نظر کې نیول کېدل، خو دا، چې کوم جنس کولی شول د پیسو په حیث خپله دنده سرته ورسوي، د مختلفو عواملو تأثیرات وو لکه: آب هوا، د ټولنو د استقرار محل، او همدارنګه د ټولنو فرهنګي او اقتصادي توسعه. د مثال په ډول هغه ټولنې، چې د دریابو په څنډو کې به یې ژوند کاوه، صدف او یا هم د ماهي نیونې چنګک یې د تبادلې دوسیلې په حیث استفاده کول، په سرد سېرو مناطقو کې لکه سایبریا او یا هم آلاسکا د حیواناتو پوستکي د پیسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واحد په عنوان استفاده کېدل، همدارنگه هغه ټولنې، چې په گرمسيرو مناطقو کې يې ژوند کاوه د فيل غاښونه يې د پيسو په عنوان استفاده کول. هغه اجناس، چې په مختلفو ټولنو کې د پيسو په عنوان په نظر کې نيول شويدي د مختلفو ټولنو په پراختيا پسې هم تړاو لري. څرنگه چې حېوانات هم د شتمنۍ يو مهم شکل بلل کيږي، نو په لومړنيو زراعتي ټولنو کې څاروي د پيسو په حيث استفاده کېدل او تقريباً په ټولو معتدلو مناطقو لکه: اروپا، آسيا او افريقا کې غواوې د تبادلې د وسيلې په حيث قبولې شوې وې. د اوږدې مودې لپاره د جهان په پراخو مناطقو او اوليه ټولنو کې غواوې او مېږې د شمار د واحد په حيث په کار وړل کېدې. په پخواني ايران کې به ډاکټرانو د خپلو بېمارانو څخه د تداوۍ، دارو او نورو مربوطه خدماتو په مقابل کې د غواؤ او مېږو غوښتنه کوله. روميانو هم د عيسى(ع) د ميلاد څخه څلور پېړۍ مخکې خپل پرداختونه د مېږو او غواؤ په حساب ورکول، په هر حال د حېواناتو څخه د پيسو په عنوان استفادې زيات شمېر مشکلات له ځانه سره لرل يعنې لومړۍ دا چې حېوانات د معيار لرونکي نه وو، دوهم دا، چې نه يوازې د حېواناتو د ذخيرې مشکل ؤ، بلکې د مصارفو لرونکي هم وو، له دې پرته د قيمت تغير، د وېش نه وړتيا او همدارنگه د هغې په حمل او نقل کې ستونزې، ټول هغه مشکلات دي، چې د حېواناتو څخه دپيسو په حيث د استفادې په وخت کې منځ ته راځي.

لاندې جدول د جنسي پيسو ځينې مهمې نوعې، چې د تاريخ په اوږدو کې په مختلفو ټولنو کې د هغې څخه استفادې صورت نيولی دی راښيئ.

| اوسپنه | وزه | د گني اوبه |
|---|---|---|
| مس | د دريابي کيشپ پوستکی | دانگورو کلکې اوبه |
| وريژې | د دريابي خنځير غاښونه | تنباکو |
| څرمن | د نهنگ غاښونه | زراعتي وسايل |
| جوار | د فيل غاښونه | سره زر |
| آس | د دارکوب پوستکی | سپين زر |
| مېږه | بنيکې(پخې) | چاقو |
| خنځير | شيشه | کاغذ |
| پوستکی | ځلېدونکی صدف | سگرټ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| مالګه | غلې دانې | |
| --- | --- | --- |

ځرنګه چې لیدل کیږي په مختلفو ټولنو کې د پیسو په حیث استفاده جنسي شکل لري او په همدې دلیل ورته جنسي پیسې وايي. په حقیقت کې د پیسو د تحول تاریخ  د جنسي پیسو(سکې،سره زر او سپین زر) ځخه حرکت موندلی او تحریري پیسو لکه: د بانکونو جاري حسابونو ته رسیږي(32: 21ــ23).

### فلزي پیسې( Metallic Money)

فلزي پیسو هم د راکړې ورکړې په جریان کې، د اوږد مهال لپاره د اهمیت ځخه ډک رول ادا کړی دی او اتلس پېړۍ یې  په دغه جریان باندې حاکمیت لرلی دی. فلزي پیسې، چې په لومړیو کې د مختلفو فلزاتو ځخه تشکیل شوې وې، په مختلفو شکلونو سره د تبادلې په دوران کې داخلې شوې وې او د هغه مهال احتیاجات یې رفع کړي وو. دغه فلزات کله برونز،کله اوسپنه او کله هم نور فلزات، چې په هغه مهال کې ممکن وو، د سکو په ډول قبول شوې او سکې پرې وهل شوې دي او دتبادلې په جریان کې یې شمولیت حاصل کړی دی. د پیسو په حیث د سرو او سپینو زرو منځ ته راتګ د تبادلې په ډګر کې یو بې مثاله حرکت شمېرل کیږي، چې دغه دوران په لوړ حد کې قرار لري او د انسانانو د ژوند د سطحې د لوړوالي سبب شوې دي. دغه دوه فلزونه د مشخصو خصوصیاتو له برکته په خپل ذات کې توانېدلي دي، چې زیات کالونه د پیسو په ډول و کارول شي(35: 69ــ70).

### کاغذي پیسې( Paper Money)

د فلزي سکو له وهلو وروسته، بل مهم انکشاف، چې د پیسو په تاریخ کې منځ ته راغلی دی، کاغذي پیسې دي، چې خپله د پیسو اختراع ته په کتو سره د مختلفو اړخونو ځخه عمده اهمیت لري. مګر دغه پیسې له خپلو ټولو امکاناتو سره  په هیڅ صورت د یو منفرد نوښت ګر د مغزو محصول نه وُ؛ بلکې د معینو تاریخي شرایطو په نتیجه کې یې په تدریجي توګه پراختیا موندلې ده. کاغذي پیسې د ارزښت له هغه کاغذي نښو ځخه عبارت دي، چې د جریان په ساحه کې واقعي پیسې(طلا او نقره) تعویض کوي، چې د دغه محصول( پیسو) د منځته راتګ لپاره درې ډوله مقدمات او شرایط موجود وو، چې عبارت دي له: د قیمتي فلزاتو د قانوني جریان قانونمندی، د پیسو د وظیفې ځانګړتیاوې د تبادلې د وسیلې په توګه او د ټولنې د تاریخي تکامل شرایط. لومړی بحث چې د قیمتي فلزاتو په پولي جریان پورې تړاو لري، چې طلایي سکې یو له بل سره سولیږي او په تدریج سره هغه په کم ارزښته سکو باندې بدلیږي، پیل کوو. پیسې د تبادلې د وسیلې په حیث د دندې په سرته رسولو کې د لنډ مهاله او مؤقتي منځګړې رول لوبوي او په هغه لاسونو کې لویږي چې خپل کالې او شیان د نورو شیانو د لاس ته راوړلو په موخه پلوري. (جنس ــ پیسې ــجنس )،یواځې له همدې کبله وو، چې خلکو د پیسو او د هغه له ذاتي ارزش سره لېوالتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه درلوده او کېدای شي، چې نوموړې دنده د ارزښت لرونکو نښو(کاغذي پیسو) په واسطه تر سره شي. دویم بحث یا مقدمه د تاریخي شرایطو د توکو تولید پراخوالی او د ملي بازارونو په رامنځ ته کېدو سره را لنډوو. له هغه وروسته د هغه سکو په جریان کې اچولو لپاره گام اخیستل شوی، چې د کارولو په خاطر د کوچنیو تادیاتو لپاره له قیمتي فلزاتو څخه جوړ شوي دي او هغه نښې، چې د هغو په مخ باندې لیکل شوي دي، د هغو له واقعي محتویاتو سره مطابقت نه لري. بلأخره په وروستي قدم کې کله، چې خلک په دې و پوهېدل چې یوه علامه (نښه) په داسې یو شي باندې هم لیکل کیدای شي، چې د هغه له ارزښت سره مطابقت نه لري، نو دې نتیجې ته ورسیدل چې د دغې نښې د لیکلو لپاره تر کاغذي پاڼو بل وړ شی نه شته. په دې ترتیب سره قیمتي فلزاتو د پولي جریان قانون منديو پیسې د ارزښت په نښو باندې بدلې کړې. د تبادلې د وسیلې په توگه د پیسو موقتي رول دا امکان برابر کړ تر څو پیسې بدون له ذاتي ارزښت څخه فعالیت تر سره کړي او تاریخي شرایطو دغه امکان په واقعیت کې بدل کړ.
کاغذي پیسې د لومړي ځل لپاره په منځنیو پیریو کې په چین او په اوسني وخت د (۱۷) مې پېړۍ په وروستیو کې(۱٦۹۲) کال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې منځته راغلې. په اروپا کې په لومړي ځل د ټولو د مخه په(۱۷۱٦) کال کې په فرانسه کې او په (۱۸) مه پېړۍ کې په روسیه کې نشر شوې. یوائینی هېواد انگلستان وُ، چې د ډېر وخت لپاره یې د طلا څخه استفاده کوله او بلأخره هغه هم د ناپیلیون د جنگونو په ارتباط په(۱۷۹۷ او ۱۸۱۹) کالونو کې د کاغذي پیسو څخه استفاده په (۱۹) مه پېړۍ کې پیل شوه. د کاغذي پیسو څخه اقتصادي محتوی او مضمون په دې سره را لنډېږي، چې قیمتي پیسې یې په جریان کې تعویض کړې او د واقعي پیسو د استاذې په توگه پاتې کیږي. که چېرې د کاغذ ارزښت(تولید، ټایپ، مهر او نور) په نظر کې و نه نیسو، د اسمي نښو په مقایسې سره څرگندیږي، چې ارزښت یې له صفر سره برابر دی. کاغذي پیسې اجباري نرخ لري او د دولت له لوري د دولتي مصارفو د پوره کولو په موخه نشر ته سپارل کیږي. له ځاني ارزښت څخه پرته کاغذي پیسې هغه اندازه واقعي پیسې وړاندې کوي، چې د اجناسو د جریان لپاره اړینې وي او هغه د جریان په ساحه کې تعویض کوي. کاغذي پیسې د طلا په مقابل کې د واقعي پیسو په توگه نه تبادله کیږي، مگر که چېرې د هغو اندازه د هغې طلا له اندازې څخه زیاته وي، چې دوی یې په جریان کې استازیتوب کوي، نو په دې صورت کې نوموړې پیسې بې ارزښته کیږي، د کالیو قیمتونه لوړوالی کوي، د عاید دوباره توزیع صورت نیسي او د هغه چا گټې په خطر کې لویږي، چې ثابت عاید لري(33: 51ــ52).

### اعتباري پیسې یا بانکي پیسې (Credit Money or Bank Money)

له دې ډول پیسو څخه زموږ موخه د هغو بانکي او برېښنایي پیسو معرفي کول دي، کومې، چې په پرمختللې نړۍ کې تر دې کچې رسیدلې دي، چې په بازار کې د عامو راکړو ورکړو په وخت د پیسو لیدل او استعمال له منځه تللی دی، یعنې د فلزي پیسو او کاغذي پیسو لیدل ډېر کم شویدي؛ خو فلزي پیسې بیا هم د بسونو کرایو او ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچنيو راکړو ورکړو لپاره وخت نا وخت ليدل کيږي، لکه په شهري بسونو او رېل ګاډو کې د ماتو پيسو ځخه استفاده کيږي، دا هم اړينه او يواځينۍ لار نه ده، هلته هم کارتونه استعماليږي، خو ولې کاغذي پيسې د غلو د وېرې څخه هم ځوک نه ګرځوي او د بانکي او برېښنايي پيسو څخه کمه ګټه اخيستل کيږي. په افغانستان کې تر يوه ځايه د دې بانکي پيسو ځينې ډولونه شتون لري؛ ولې تر اوسه د هغوی ډېر ډولونه لا په افغانستان کې نه دي دود شوي، بيا هم د هغوی پېژندنه اړينه ده، کېدای شي، چې په نږدې راتلونکې کې دود شي. بانکي او برېښنايي راکړو ورکړو ته ځکه د پيسو نوم ورکړل شوی دی، چې په بازار کې د پيسو ځای نيسي، او اوس همغه رول په ډېر ښه شکل سرته رسوي کوم، چې د پيسو په دندو کې مو پېژندلی دی. څرنګه، چې پوهېږو بانکونه د هر ډول پيسو ځايونه دي، هر ډول پيسې د بانکونو سره تړاو لري؛  هغه که کاغذي پيسې، سيکې يا معدني پيسې او يا هم بانکي ډيجيټلي پيسې وي، خو دلته زموږ هدف د بانکي پيسو څخه هغه پيسې دي، چې د راکړې او ورکړې په هره معامله کې يې بانک منځګړيتوب کوي.

**د بانکي پيسو ډولونه**

پروفيسر "سعيد ناصر"  دغه ډول پيسې په درې ډوله وېشلي دي

۱: چک(Cheque)

۲: د تبادلې تضمين يا برات(Bill of Exchange)

۳:حواله(Draft)

**چک(Cheque)**

چک د حساب لرونکي له خوا د بانک په نامه يو غيرې مشروط ليکلی حکم دی، چې بانک ته لارښوونه کوي، تر څو پر چک ليکل شوې پيسې د چک حامل ته ورکړي، په بل عبارت چک يو غيرې مشروط ليکلی حکم دی، چې د حساب لرونکي له خوا د يو مشخص بانک په نامه ترتيبيږي او نوموړی بانک پر دې مکلف دی، چې پر چک ليکل شوې پيسې د چک وړونکي(حامل) ته ورکړي(36: 62ـ63).

**د چک ځانګړتياوې**

۱:  د ورکړې حکم: چک د ورکړې يو ليکلی شکل دی ځکه نو بايد د ورکړې په وخت کې د چک وړونکي(حامل) ته بايد حکم شوی مقدار ورکړل شي.

۲: ليکلی حکم: چک يو ليکلی غير مشروط حکم دی، په شفاهي ډول پيسې ورکول په چک کې نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳:غیرې مشروط حکم: چک یو غیرې مشروط لیکلی حکم دی، نوځکه د ورکړې په وخت کې بې له کوم شرطه اجراء کیږي. که د حساب لرونکي له خوا د پیسو د ویستلو په وخت کې کوم شرط اېښودل شوی وي نو هغه نه شي کولی ، چې د چک په واسطه له بانک څخه پیسې وباسي، ځکه چک یو غیرې مشروط لیکلی حکم دی.

۴: د بانک په نوم: چک یوازې د بانک په نامه صادریږي، د کوم بانک په نامه، چې صادریږي د هغه بانک نوم باید هرومرو پر چک ولیکل شي.

۵: حساب لرونکی: چک د حساب لرونکي له خوا صادریږي، حساب لرونکی هغه چا ته ویل کیږي، چې په بانک کې حساب ولري.

٦:معلوم مقدار: پر چک لیکل شوې معلوم مقدار پیسې ورکول کیږي.

۷: دحساب لرونکي لاسلیک: پر چک باید د حساب لرونکي لاسلیک موجود وي، بې له لاسلیک څخه چک اعتبار نه لري.

۸: د پیسو شکل: چک د پیسو د ویستلو په خاطر استول کیږي، نو له همدې امله د چک په واسطه نور شیان نه ورکول کیږي.

**په چک کې شاملې خواوې**

۱: د چک ترتیبوونکی: هغه څوک دی چې په بانک کې حساب ولري.

۲: د چک وړونکی: هغه څوک چې بانک ته چک وړي.

۳: بانک: هغه خوا، چې چک ورته د اجرا لپاره وړل کیږي.

**د چک ډولونه**

**۱:حامل چک**: دا هغه چک ته ویل کیږي، چې هر چا بانک ته یووړ، پیسې پرې تر لاسه کولی شي. په حامل چک کې د چک وړونکي نوم نه وي ذکرشوی، هر چا چې بانک ته یووړ، بانک یې اجرا کوي، د ورکېدو په صورت کې بانک مسئولیت نه لري.

**د حامل چک ځانګړتیاوې**

۱: حامل چک له اجرا کولو څخه وروسته د وړونکي نوم لیکل کیږي، لکه رضوان د چک حامل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: تصدیق: حامل چک د انتقال په صورت کې تصدیق ته اړتیا نه لري، د انتقال سره یې یو ځای ټول حقوق بل شخص ته انتقالیږي.

۳: د حامل چک پر شا، حساب لرنکی، چک وړونکي ته لاسلیک کوي او په بانک کې یې حواله کوي او بانک لاسلیک ته په کتو سره چک اجرا کوي.

۴:ساتنه: حامل چک ډېر محفوظ نه وي، هر څوک کولی شي له لاسته راوړلو سره سم یې بانک ته یوسي او پیسې ترلاسه کړي.

**۲:حکمي چک**: عبارت له هغه چک څخه دی، چې بانک ته د وړونکي نوم پر چک لیکل شوی وي او دا چک هغه وخت بانک اجرا کوي، چې بانک د چک راوړونکی په پوره توګه وپېژني، له پېژندلو پرته بانک چک نه اجرا کوي.

باید یادونه وشي، چې کله په حامل چک کې د وړونکي نوم ولیکل شي په حکمي چک بدلیږي.

**۳:کراس چک:** دا هغه چک دی، چې دوه موازي کرښې پکې کش شوي وي او د دواړو کرښو ترمنځ کله نا کله یوڅه لیکل کیږي هم، د کراس شوي چک په واسطه حساب لرونکی په نغده ډول پیسې نه شي ویستلی بلکې د ده حساب ته جمع کیږي.

**۴:ورک شوی چک**: هغه چک ته ویل کیږي چې د چک له خاوند څخه ورک شوی وي، د چک خاوند او د چک ترتیبوونکی باید ډېر ژر بانک ته خبر ورکړي، تر څو د اجرا کولو مخنیوی یې وشي.

**۵ : سفري چک :** هغه چک ته ویل کیږي چې د سفر پر مهال یې ترتیبوونکی له ځان سره اخلي، دغه چک باید د بانک د مشر له خوا لاسلیک شي او کله، چې په بهر کې د دغه بانک څانګې ته ور وړل شي، سمدستي یې اجرا کوي او له اجرا کولو وروسته یې باید لاسلیک کړي.

**٦:وخت لرونکی چک**: دا هغه چک دی، چې یو تاریخ پرې لیکل شوی وي، چې له هغه تاریخ وروسته یې بانک نه اجرا کوي.

**۷:شکېدلی چک**: دا هغه چک دی چې شکېدلی وي، اړینه نه ده، چې دوه ځایه شوی وي، که بانک ته دا معلومه شي، چې دا چک په زور شکېدلی، بانک یې له اجرا کولو څخه انکار کوي، تر هغه وخته پورې نه اجرا کیږي تر څو، چې یې د چک ترتیبوونکی لاسلیک نه کړي او ووایي چې دا چک سهواً شکېدلی دی.

**۸:جعلي چک**: دا هغه چک دی، چې د حساب لرونکي له خوا نه وي جاري شوی، بلکې د حساب لرونکي له چک بک څخه پټ شوی وي او د بانک په نوم یې جاري کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹:له نېټي وروسته چک:** دا هغه چک دی، چي په يو ټاکلي وخت کي ادا کيږي، د مثال په ډول مصطفی ، رضوان ته چک ورکړ، چي په چک کې يې ليکلي: لسم د حمل حال دا چي نن اول دحمل دی، نو دغه چک به د وري په لسمه ادا کيږي، له دغه تاريخ څخه مخکې نه شي ادا کېدای.

**۱۰:له نېټي وړاندې چک:** دا هغه چک دی، چي د جاري کولو له نېټي څخه مخکې تاريخ پرې ليکل شوی وي، د مثال په ډول نن لسم د چنگاښ دی او پر چک ليکل شوی تاريخ  لسم د غويي دی.

**۱۱:خالي چک:** داهغه چک دی، چي يوازې د حساب لرونکي لاسليک پرې شوی وي، تاريخ او د پيسو مقدار د چک په وړونکي پورې اړه لري(31: 91ـ96).

**د چک ګټې**

۱: په ورکړه کې اسانتياوې: د چک په موجوديت کې د لويو لويو معاملو ورکړې، په اسانۍ سره تر سره کيږي، ځکه چک دی، چي د ډېرو پيسو د ليږد وړتيا لري، په نغده ډول د ډېرو پيسو ليږدول اسان کار نه دی.

۲: د ورکړې ثبوت: چک په يوه معامله کې د ورکړې ثبوت دی، ځکه که په کومه معامله کې ستونزه رامنځ ته شي، نو په بانک کې چک د معاملې ثبوت دی.

۳:د نغدو پيسو کمښت: په معاملو کې د چک استعمال د نغدو پيسو د کموالي سبب ګرځي.

۴:د انتقال قابليت: چک د انتقال قابليت لري، نو ځکه په اسانۍ سره له يو شخص نه بل شخص ته انتقاليږي.

۵:ورکېدل: که چک ورک شي، بانک ته په خبر ورکولو سره کولی شو چک بېرته باطل کړو.

٦: د چک په استعمال سره د پيسو د ورکېدو، سوځېدو او غلا کېدو مخنيوی کيږي او د پيسو په تبادله کې اسانتياوې رامنځ ته کوي(31: 98).

**برات(Bill of Exchange)**

دا يوه داسې لاسته راوړنه ده، چي د پورغوښتونکي له خوا د پوروړي په نوم صادريږي، چي په هغه کې پور غوښتونکی له پوروړي څخه غواړي، چي يو معلوم مقدار پيسې په معلوم وخت يا کله، چې يې پور غوښتونکی وغواړي ادا کړي. کله چي پوروړی برات قبول کړي، لاسليک پرې کوي، تر لاسليک وروسته برات د اخيستلو او خرڅولو قابليت پيدا کوي، پر بانک يې خرڅولی او تخفيف پرې لګولی شي. د تخفيف مانا داده، چي کله د برات تاريخ ته ورځې پاتې وي او پور غوښتونکي پيسو ته اړتيا پيدا شي نو له تاريخه مخکې يې پر بل چا پلوري او پر شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ليكل كوي چې (ټول حقوق يې دريم ګړي ته انتقال شول ). هر څومره چې د برات د ادا كولو وخت كم وي په هماغه اندازه يې سلنه كمه وي.

### د برات ځانګړتياوې

حكم: برات د پور غوښتونكي له خوا پر پوروړي حكم دى، نه غوښتنه، ځكه دا د پور غوښتونكي حق دى.

غير مشروط حكم: برات يو غير مشروط حكم دى، چې د ادا كولو په وخت كې كوم شرط ته اړتيا نه لري، كه كوم شرط واقع شي بيا دا برات نه شي كېدى.

ليكلى حكم: د پور غوښتونكي له خوا پر پوروړي ليكلى حكم دى نه لفظي.

د ليكونكي لاسليک: پر برات بايد د ترتيبوونكي لاسليک وي، كه نه وي برات قانوني بڼه نه لري.

اړه لرل: يعنې برات په پوروړي پورې اړه لري.

قبوليت: برات، چې د چا په نوم صادرېږي، بايد قبول يې كړي، كه قبول يې نه كړي بل هېڅ ارزښت نه لري.

معلوم مقدار: پر برات معلوم مقدار پيسې په عددي او تورو په ډول ليكل شوي وي.

وركړه: برات په معلومه موده يعنې په راتلونكي كې ادا كيږي.

### د برات ډولونه

۱:كورني براتونه: هغه براتونه دي، چې په كوم هېواد كې ليكل شوي وي په هماغه هېواد كې چليږي.

۲: بهرني براتونه: دا هغه براتونه دي، چې په يو هېواد كې ترتيبيږي او په بل هېواد كې قبليږي، يا تر تيبوونكى او چاته چې ترتيبيږي په بېلابېلو هېوادونو پورې اړه لري(31: 100ـ101).

### حواله (Bank Draft)

حواله هم يو چک دى، چې په بانک باندې د شخص په وسيله ليږل كيږي، چې په هغې كې د حواله كوونكي له خوا د ايستل كېدونكي شخص نوم او د حوالې شمېره ذكر شوې وي. د حوالې په واسطه دغه د پيسو ليږد لاره ډېره اسانه او يوه ارزانه لاره ده، چې په افغانستان كې د ډېر وخت راهيسې صرافانو دغه حوالې كولې او اوس مهال بانكونه په دې ډګر كې پوره برخه لري، ولې د صرافانو په واسطه تر اوسه هم حوالې سرته رسيږي، چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حوالو کې داخلي او بهرنۍ حوالې شاملې دي، ډېری صرافان یوه نړۍ واله شبکه لري، چې د یوه هېواد څخه بل هېواد ته د حوالې په ذریعه پیسې لیږدوي(36: 66).

د مثال په ډول یو سوداګر غواړي له ننګر هار څخه خوست ته وریژې راوړي، چې د دغو وریژو ټول قیمت (۳۰۰) افغانۍ دی؛ نو په دې وخت کې سوداګر د افغان ملي بانک یوې څانګې ته، چې په ننګرهار کې ده ورځي،(۳۰۰) افغانۍ او بانکي کمیشن تادیه کوي او ورته وایي، چې د خوست په څانګه کې یوه حواله تیاره کړئ.

**په بانکي حواله کې شاملې خواوې**

غوښتونکی(Applicant ): هر هغه څوک چې له بانک څخه د حوالې غوښتنه کوي، یا څوک چې بانک ته پیسې او کمیشن ورکوي.

ترتیبوونکی(Drawer): د حوالې غوښتونکی، چې کوم بانک ته ځي او د حوالې غوښتنه کوي، کوم بانک، چې دغه حواله تیاروي، د بانکي حوالې د ترتیبوونکي په نوم یادیږي.

ترتیب الیه(Drawee ): د بانک هغه څانګه، چې د هغې په نوم دغه حواله ترتیبیږي، یا هغه څوک چې پیسې تا دیه کوي.

ترلاسه کوونکی(Payee): هغه شخص، چې په حواله کې یې نوم لیکل شوی وي، یا هغه شخص، چې په حواله کې لیکل شوې پیسې تر لاسه کوي.

**په بانکي حواله کې لاندې لیکنې شوې وي**

- د حوالې جاري کوونکي نوم.
- د حوالې د اجرا کولو نېټه.
- د حوالې مسلسل نمبر.
- د پیسو مقدار
- د هغه بانک نوم او پته، چې بانکي حواله یې په نوم جاري کیږي.
- د حاصلوونکي نوم.
- د بانک د امر لاسلیک

**د بانکي حوالې ډولونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. حکمي حواله (Order Bank Draft): په حکمي حواله کې هغه شخص کولی شي، پیسې ترلاسه کړي، چې نوم یې پر حواله لیکل شوی وي. د حوالې د اجرا په وخت کې بانک له شخص څخه د تذکرې یا پاسپورټ پوښتنه کوي. حکمي حواله په دوه ډوله ده:
- کورنۍ حکمي حواله (Inland): دا ډول حواله د حکمي حوالې هغه شکل دی، چې په کوم هېواد کې ترتیبیږي، په هماغه هېواد کې اجرا کیږي.
- بهرنۍ حکمي حواله (Foreign Order Draft): دا ډول حوالې په یو هېواد کې ترتیبیږي او په بل هېواد کې اجرا کیږي.

2. کراس شوې حواله (Draft Cross ): دا بانکي حواله د مخ په پورته برخه کې دوه موازي کرښې لري، چې دا ډول حواله لومړی حاصلوونکی په خپل حساب کې جمع کوي او دا حواله هم په دوه ډوله ده.
- کورنۍ کراس شوې حواله (Inland Crossed Draft ): په کوم هېواد کې، چې ترتیبیږي، په هماغه هېواد کې اجرا کیږي.
- بهرنۍ کراس شوې حواله (Foreign Crossed Draft ): په یو هېواد کې ترتیبیږي، په بل هېواد کې اجرا کیږي(31: 101ــ103).

## برېښنايي پیسې (Electronic Money or E-Money)

برېښنايي پیسې هغه پیسې دي، چې د بانکونو په سیستم کې موجودې وي او په فزیکي حالت کې نه ساتل کیږي. ستاسو انلاین بانکي معاملې او کریډیټ کارتونه یې ښه بېلگه ده. کله چې تاسو سره کرېډټ کارټ وي او تاسې په خپل بانکي حساب کې پیسې ولرئ، نو تاسو خپل کرېډټ کارټ د کوم جنس د رانیولو په وخت کې د پیسو په ځای استعمالولی شئ؛ یعني دا چې تاسو خرڅوونکي ته لاس په لاس پیسې نه ورکوئ، بلکې د خپل بانکي حساب څخه پیسې د خرڅوونکي بانکي حساب ته انتقالوي. په امریکا کې اوس د فزیکي پیسو په ځای، برېښنايي پیسې زیاتې استعمالیږي او دا پیسې به په راتلونکي کې د فزیکي پیسو ځای ونیسي. گټه یې دا ده، چې د دا ډول پیسو غلا ستونزمنه ده او جعلي پیسې نه شي پکې تېرېدلی، ځکه چې ستاسو بانکي حسابونه او کریډټ کارتونه یو ډول ځانگړی کوډ لري، چې هغه یواځې ستاسو سره وي او د دې ډول پیسو تاوانونه دا دي، چې پرته له برېښنا څخه د دې پیسو استعمال مشکل دی او بله دا، چې اوس انټرنیټي غلاوې ډېرې شویدي او داسې کمپیوټري غله یا هیکران شته، چې ستاسې بانکي حسابونو ته لاره پیدا کړي او پیسې مو غلا کړي. که وواېو، برېښنايي پیسې هغه پیسې دي کومې، چې په اتوماتیک ډول ستورکارډ کې ریکارډ کیږي، دغه کارډ یو وړوکی پروسیسر لري، کوم چې پیسې ور اچول کیږي او یا ترې کمیږي. یو بل شکل د الکترونیکي پیسو د یوې شبکې په څېر دی کوم، چې د کمپیوټر د پروگرامونو څخه عبارت دی، چې دیوه کار د اجرا کولو په خاطر کمپیوټر ته ور اچول کیږي، چې همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پوستکالی وايي. همدا پوستکالی یا سافټ وېر اجازه د لیږلو او تبادلې ورکوي، په خاصه توګه دغه سوداګريزې معاملې، د کمپیوټر له خوا او د انټرنېټ په ذریعه سرته رسیږي(36: 67ـ68).

هغه تادیات چې اوس مهال په زیاته کچه د مقناطیسي کارتونو ( ډیبیټ کارډ، کریډټ کارډ،سمارټ کارډ، ATMکارډ او نورو) په ذریعه سرته رسیږي په لاندې ډول یې یادونه کوو.

**کریډټ کارډ**

سودا ګریز بانکونه، چې خپلو مشتریانو ته کوم سهولتونه وړاندې کوي؛ په هغې کې یو هم د کریډټ کارت جاري کول دي، د کریډټ کارډ د موجودیت په صورت کې کارډ لرونکي د مختلفو شیانو د پېرلو لپاره مستقیماً پیسې نه ورکوي کوي؛ بلکې کله چې کارډ لرونکي خریداري کوي نو د بل پیسې د یو خاص ماشین په واسطه ثبت کیږي او وروسته بیا دغه پیسې خر څوونکي اداري ته د بانک په واسطه ادا کیږي.

سودا ګریز بانکونه چې کوم کریډټ کارډ جاري کوي؛ د هغې مهمې نقطې په لا ندې ډول دي:

- د کریډټ کارډ لپاره د بانک مشتري کېدل ضروري نه دي؛ لېکن بعضې بانکونه کریډټ کارډ داسې اشخاصوته جاري کوي،چې په بانک کې جاري حساب، د ګټې او تاوان حساب یا د پس انداز حساب ولري.
- د کریډټ کارډ د جاري کولو لپاره بانک ته یو سند لیکل کیږي، چې په هغه کې د کارډ اخیستونکي ټول ریکارډ لیکل کیږي.
- کریډټ کارډ د هیواد په داخل کې او د هیواد څخه د باندې هم استعمالیږي.
- په کریډټ کارډ باندې د کارډلرونکي په یو خاص سایز کې عکس لګېدلی وي، ځینې بانکونه په کارډ باندې د کارډ لرونکي عکس نه لګوي.
- ځینې بانکونه د حفاظت لپاره په کارډ باندې د کارډ لرونکي لاسلیک اخلي.
- کارډ لرونکي باید بانک ته د فیس ورکولو پابند وي، چې دغه فیسونه په مختلفو ډولونو وي.

**د کریډټ کارډ ګټې (Advantages of Credit Card)**

۱: ځان سره دنغدو پیسو له ساتلو څخه خلاصون: د کریډټ کارډ د موجودیت په صورت کې کارډ لرونکي ته دا ضرورت نه وي، چې له ځان سره نغدې پیسې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: د پیسو دحفاظت څخه خلاصون: د نغدو پیسو د غلا کېدو یا ورکېدو وېره موجوده وي، د کریډټ کارډ د مو جودیت په صورت کې، کارډ لرونکي ته د دې ضرورت نه پېښیږي، چې نغدې پیسې د ځان سره وساتي، نو په دې توګه د پیسو دحفاظت څخه خلاصون مومي.

۳: د پیسو د شمېرلو څخه خلاصون: کارډ لرونکی، چې کله اجناس واخلي او خرڅوونکې اداري ته تادیات د بانک په وسیله کوي، نو په دې توګه کارډ لرونکي د دې ضرورت نه وي چې پیسې وشمېري.

۴: په تادیاتو کې سهولت: کله چې کارډلرونکي اجناس واخلي، نو هغه خرڅوونکي اداري ته تادیات د نغدو پیسو په شکل نه کوي، بلکې دغه تادیات د بانک په وسیله کیږي، نو په دې توګه کارډ لرونکي ته هېڅ قسم پرېشاني په تادیاتو کې نه وي.

۵: د تادیاتو ثبوت: د کریډټ کارډ د موجودیت په صورت کې، خرڅوونکې اداري ته د پیسو تادیه کول د بانک په واسطه کیږي، چې دا د پیسو د لګولو یو ښکاره ثبوت دی.

۷: د بانکوالۍ سیستم شهرت: د کریډټ کارډ په استعمال سره په هېواد کې بانکي سیستم شهرت پیدا کوي او د بانکوالۍ سیستم غوړیږي(34: 49ــ51).

### ډیبټ کارډ Debit Card

(Running Finance) د قرض یو داسې ډول دی، چې په هغې کې بانک خپل مشتري ته، د هغه د بانکي حسا ب نه د یو معلوم حد څخه د زیاتو پیسو اخیستلو اجازه ورکوي، که چېرته دغه سیستم مشتري ته د برقي سیستم پیسو یا ( E-Banking) په وسیله ورکړل شي، نو د دې لپاره بانک مشتري ته ډیبټ کارډ جاري کوي، که چېرته بانک مشتري ته د ATM کارډ په واسطه د هغه په حساب کې د جمع شویو پیسو څخه د زیاتو پیسو د اخیستلو اجازه ورکړي، نو ATM کارډ د ډیبټ کارډ شکل غوره کوي. د ډیبټ کارډ څخه بانک او مشتري دواړو ته فایده حاصلیږي، مشتري ته دا ګټه ده، چې د جمع شویو پیسو څخه زیاتې پیسې ترلا سه کوي او د بانک لپاره ډیبټ کارډ د ګټې یوه ذریعه ده(32: 51ــ52).

### د ارزښت زېرمه کوونکی کارډ

د اعتباري او قرض کارتونو په څېر دی خو یوازې دومره فرق لري، چې پدې کې پیسې یا هغه مقدار خریداری، چې تاسو یې تر سره کوی له مخکې مشخصې وي او د دې نوي ډولونه د سمارټ کارډ په نوم یادیږي، چې د کمپیوټري چاپ لرونکي دي او کولی شي، چې مالک یې د خپل بانکي حساب څخه پیسې مصرف کړي او سمارټ کارډ په وسیله کولی شو د ( ATM) ، ماشین ، شخصي کمپیوټرونو ، او مخصوصو مبایلونو څخه په ګټې اخیستنې معاملې تر سره کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (Automatic Teller Machine)   AT M Card

ځرنګه چې د نوم څخه يې معلوميږي،  دا يو داسې ماشين دی، چې څه وخت د بانک مشتري پيسو ته ضرورت شي، نو مشتري د دې ماشين په واسطه په مستقيمه توګه د بانک څخه پيسې ترلاسه کولی شي. په پرمختللو هېوادونو کې داسې  ATM ماشينونه استعماليږي، چې مختلف کارونه تر سره کوي، مشتري د دې ماشين په واسطه په خپل حساب کې نعدې پيسې يا چيک هم جمع کولی شي.

د  ATM ماشين د بانک په هغه ځای کې ځای پرځای شوی وي چېرته، چې هر يو مشتري په اسانۍ سره ورسيږي، کله چې هم وغواړي د  ATM په واسطه نغدې پيسې  ترلاسه کړي.  د  ATM په واسطه د نغدو پيسو د ترلاسه کولو لپاره يو کارډ استعماليږي، چې هغه ته ATM کارډ وايي، بانک د ATM کارډ هغه مشتري ته جاري کوي ، چې په بانک کې يو خاص حد پورې پيسې ولري. په يوه ورځ کې د نغدو پيسو  د حاصلولو په خاطر ATM کارډ مختلف قسمونه لري، چې په هغې کې داسې ATM کارډ هم شته، چې د هغې په واسطه په يوه ورځ کې  د زيات نه زيات ( ۱۰۰۰۰)  اخيستی شي، په دې کې يوداسې کارډ هم شته، چې په ورځ کې د هغې په واسطه  زيات نه زيات (۲۰۰۰۰ ) روپيو پورې نغدې تر لاسه کولی شي خو هېواد تر هېواده توپير کوي. په هر ATM کارډ باندې يو قسم کوډ نمبر ليکل شوی وي، چې هغې ته ( PIN Code) يعنې (Personal Identification  Code) وايي، د دغه ( Pin Code) علم يوازې مشتري  ته وي او د همدغه کوډ په واسطه د ATM څخه نغدې پيسې ترلاسه کوي.

### د AT M په واسطه د نغدو پيسو د تر لاسه کولو طرزالعمل

د( ATM )  په واسطه د نغدو پيسو د  ترلاسه کولو لپاره لاندې اقدامات تر سره کيږي.

۱:د(ATM  Card) د ماشين په يوه خاصه برخه کې داخليږي.

۲:کله چې کارډ د ماشين په يوه خاصه برخه کې داخل کړل شي؛ نو د ماشين پر مخ دا پيغام را ښکاره کيږي( Enter your Pin Code).

۳:مشتري د (ATM) کارډ ( pin code) ماشين ته داخلوي.

۴:مشتري د (ATM) په واسطه يو مخصوص اندازه پيسې ترلاسه کولی شي کوم، چې په سکرين باندې د يوې پټۍ په شکل درج وي، که چېرته مشتري له درج شوو شمېرو څخه د پيسو کومه شمېره نه غواړي؛ نو په نوموړې شمېره کليک کوي، که چېرته نومړې شمېره هلته ذکر نه وي؛ نو بيا د پيسو نوموړې شمېره په ( ATM) ماشين کې نصبوي.د(ATM) ماشين  مخصوص عمل( Process)  کوي، د مخصوص عمل د تکميل کېدو وروسته د ماشين پر سکرين دغه پيغام راځي( Take your card).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵: کله چې مشتري (ATM card) د ماشین ښخه وباسي، نو د ماشین د یوې خاصې برخې ښخه مطلوبه پیسې په خپله راوځي.

٦:کله چې مشتري پیسې تر لاسه کړي؛ نو په حساب کې د باقي پاتې پیسو پرچه د ماشین له یوې خاصې برخې ښخه خارجیږي(34: 52ـ54).

**د(ATM) ګټې (Advantages of A.T.M)**

د(ATM) داستعمال ښخه حساب لرونکي ته لاندې فایدې ترلاسه کیږي .

**1 – دوخت دپابندۍ ښخه نجات :**

د(ATM) په ذریعه دنغدوپیسوپه ترلاسه کولو کې حساب لرونکي دوخت دپابندۍ ښخه آزاد وي هغه، چې کله هم وغواړي د(ATM) په واسطه نغدې پیسې تر لاسه کولی شي .دنغدوپیسو په تر لاسه کولو کې حساب لرونکي دبانک د وخت پابند نه وي یعنې که دبانک رسمي وخت وي او که نه ،که شپه وي اوکه ورځ نوحساب لرونکي دبانک ښخه د(ATM) په واسطه پیسې ویستلی شي .

**2 – د وخت ضایع کېدو ښخه مخنیوی**

د(ATM) پواسطه دنغدوپیسودترلاسه کولو لپاره وخت کم مصرفیږي ،حساب لرونکي ته دا ضروري نه وي، چې دبانک ښخه د چېک کتابچه جاري کړي او نه دبانک په نوم دچېک جاري کولو ضرورت وي، حساب لرونکي په ډیرکم وخت کې د (ATM) په واسطه نغدې پیسې ترلاسه کولی شي .

**3 – د انتظار کولو ښخه نجات**

که چېر ته دبانک رسمي وخت دپوره کېدوښخه وروسته حساب لرونکي ته په ناڅاپي توګه دپیسوضرورت شي نو دچېک په واسطه دپیسو دترلاسه کولو لپاره هغه باید دبانک رسمي وخت ته انتظار وکړي د(ATM) پواسطه حساب لرونکي د دغه ډول انتظارښخه خلاصیږي ځکه چې هغه کله هم وغواړي د(ATM) پواسطه نغدي پیسې ترلاسه کولی شي .

**4 – آسان استعمال**

د(ATM) استعمال ډیر آسان اوساده دی هغه ځوک، چې ډیرکم او لږ مواد هم ولري د(ATM) سهولت ښخه استفاده کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**5 – په تادیاتو کې د مشکل نه رامنځته کېدل**

د (ATM) پواسطه حساب لرونکي ته دپیسو په تادیه کولو کې هیڅ قسم مشکل نه وي اوتر هغه وخته پورې د (ATM) سهولت څخه استفاده کولی شي ترڅو پورې، چې په حساب کې پیسې ولري(34: 54ـ55).




**ګوګل(Google) پلاستیکي کارډ**

د ګوګل کمپنۍ د قرضدارۍ(Debit) پلاستیکي کارډ چلند ته وړاندې کوي، د ګوګل Wallet card په وسیله په مغازو کې شیان را نیول کېدی شي او له بانکونو څخه پیسې را ویستل کیږي. په دې اړه د کمپنۍ په بلاګ کې داسې را غلي دي: چلندته د Wallet card Google پلاستیکي Debit کارډ وړاندې کول په دې منظور شوي دي، چې په دې سره د بانکونو څخه پیسې را وویستلی شي او دا کارډ په انټرنیټي جېب پورې تړلی دی، د دې کارډ څخه اوس یو اځې امریکایي اتباع ګټه اخیستلی شي(36: 73).

**نغدې بربېښنايي پيسې(E-Cash) Electronic Cash**

نغدې الکترونیکي پیسې یا E-Cash د بربېښنايي پیسو یو ډول دی، د کومو په ذریعه، چې اجناس او خدمات د انټرنېټ له لارې اخیستل کیږي، نو په دې اساس هغه اخیستونکي، چې د حسابونو لرونکي دي، د خپلو حسابونو ثبت د دوی په شخصي کمپیوټرونو کې ساتي؛ د اخیستونکي کمپیوټر له لارې د حساب مقدار د خرڅوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپيوټر ته انتقاليږي. د مبلغ دغه ټا کلي اندازه مخکې د شيانو د خرڅلاو او اخيستلو څخه د اخيستونکو د حساب څخه د خر څوونکو حساب ته انتقاليږي. د برېښنايي پيسو دغه سيستم د لومړي ځل لپاره د يوې هالنډۍ کمپنۍ(Dig cash)په نوښت رامنځ ته شو(30: 14).

### برېښنايي چکونه (Electronic Cheques)

دا چکونه د انټر نېټ ګټه اخيستونکو ته دا اجازه ورکوي، چې خپل صورت حساب په مستقيم ډول پرته د کاغذي چکونو له ليږد څخه تاديه کړي او ګټه اخيستونکي يې د هماغه چک په بڼه په خپل شخصي کمپيوټر کې ليکي او هغه بل ته يې ليږدوي، چې په خپل وار بانکي حساب ته ليږدول کيږي. که چېرې د چک ترلاسه کوونکی بانک اعلان وکړي چې الکترونيکي چکونه سم او صحي دي، په دې صورت کې د پيسو يو مبلغ د ليږدوونکي بانک له حساب څخه د ترلاسه کوونکي حساب ته ليږدول کيږي. د نظر څښتنان په دې باور دي، چې د الکترونيکي چکونو لګښت د کاغذي چکونو په نسبت د يو ۳/۱ په اندازه دی په دې مانا، چې د برېښنايي چکونو لګښت کم دی. دا ګټې، چې د لګښتونو د کمښت په نتيجه کې ترلاسه کيږي، ډېرې سازمانونه يې د الکترونيکي چکونو تاديې ته هڅولي دي. د بېلګې په ډول د (۱۹۹۴م) کال په مۍ مياشت کې د ورجينيا د عامه ثروت د حساب ډيپارټمنت، ځينې ښاري حسابونه په الکترونيکي چکونو تاديه کړل(38: 13).

ا م ــ پيسه (M_ Paisa)

ام ــ پيسه کليمه د موبايل او پيسو څخه جوړه شوې ده، چې ام ــ حواله، ام ــ مني او ام ــ کيش هم ورته ويل کيږي، دا دانګليسي کليمو لنډيز دی، چې د موبايل له لارې د کوچنيو راکړو او ورکړو د اسانتياؤ په موخه کارول کيږي. د لومړي ځل لپاره په (۲۰۰۷م) کال کې په تانزانيه کې د وډافون(Vodafone) او سفريکن(Safaricon) له خوا د يوې پراخه مخابراتي شبکې په ډول په کار پيل وکړ، چې بيا وروسته دا خدمات په ( ۲۰۱۴م) کال کې افغانستان، جنوبي افريقا،هندوستان او ختيځې اروپا ته وغزېدل. ام ــ پيسه خپلو پيرودونکو ته په ډېره اسانۍ سره خپل حساب کې پيسې اضافه کوي او دپيسو ويستلو، د پيسو ليږد او د توکو او نورو خدماتو د پير او پلور په وخت کې هر ډول اسانتياوې برابروي.دغه خدمات ګټه اخيستونکو ته دا زمينه برابروي، چې په ډېره اسانۍ سره په خپلو حسابونو کې پيسې اضافه او په خپل ګر ځنده تيليفون کې يې خوندي کړي او نورو ګټه اخيستونکو، د توکو او خدماتو پلورونکو ته د پيسو د لېږد يا ادا کولو په وخت کې ديو خوندي او مطمئن پيغام د استولو سره د نغدو پيسو لاس ته راوړلو اسانتياوې برابرې کړي. د ام ــ پيسه وړاندې کوونکي د ګټه ا خيستونکي څخه د ډېر کم لګښت په ګرځولو د پيسو د ليږد او ويستلو اسانتياوې برابروي. ام ــ پيسه ته د بې ځانګې بانکي خدمات هم وايي. د ام ــ پيسه پيرودونکي کولی شي، چې د شبکې د استازو،لوی مارکېټونو، پرچون دوکانونو او د ټيليفوني خدماتو پلورونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د بانک په استازيتوب اضافي پيسې لاس ته راوړي. د ام ــ پيسه خدمات په ډېره چټکۍ سره خپريږي، چې په (۲۰۱۰م) کال کې په پر مختللې نړۍ کې د غوره او کامیابو خدماتو څخه وو، او په (۲۰۱۲م) کال کې په کینیا کې د ام ــ پیسه (۱۷) ملیونه ډالر ونډه ثبت شوي وه. دغه خدمات په ملیونونو خلکو کې په اسانه مالي لاس رسي او د غلا او شکو د جرمونو د راکمولو پر سر تقدير شول(36: 69ــ71).

### د پيسو نوی نسل( انټرنيټي پيسې)

دا د پيسو نوی پړاو دی، چې په مختلفو نومونو يادېږي، دا د برېښنايي پيسو يو ډول دی خو د نورو برېښنايي پيسو څخه زيات توپير لري، چې په لاندې ډول يې تر بحث لاندې نيسو.

### سايبر پيسې (Cyber Cash)

په امريکا کې يوه کمپنۍ 1994 کې رامنځ ته شوه، چې د کرېپټو ګرافۍ څخه په ګټې اخستنې يې د ورکړو يا تادياتي خدمات تر سره کول او د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړه اوس، چې کله موږ د سايبر کېش له اصطلاح سره مخامخ کيږو نو موخه ترې هماغه کرېپټو کرنسۍ دي.

### ډيجيټل کرنسي(Digital Currency)

ډيجيټل پيسې  مجازي پيسې دي، کومې، چې په برېښنايز ډول پنځول کيږي او زېرمه کيږي. ټولې ډيجيټل پيسې کريپټو کرنسۍ نه دي، يوازې همدا کريپټو کرنسۍ بڼه يې د ډيجيټل پيسو يو ډول دی.

### مجازي کرنسي(Virtual Currency)

په ۲۰۱۲ کال کې د اروپا مرکزي بانک مجازي پيسې داسې تعريف کړې، چې مجازي پيسې، هغه ډيجيټل پيسې دي، چې د کوم خاص اورګان له لوري نه کنټروليږي، بلکې د مجازي پيسو د پنځوونکو له لوري کنټرول او خپريږي، او همدارنګه د يوې مجازی ټولنې له خوا منل شوې او د همدغې ټولنې له لوري کارول کيږي.

### کرېـپټو کرنسي(Crypto-Currency)

کريپټو کرنسۍ د ډيجيټل پيسو يو فرعي سيټ دی يا په بله وينا، کريپټو کرنسي د ډيجيټل پيسو يو ډول دی او د کريپټو ګرافۍ په وسيله رامنځ ته کيږي، او دغه کريپټو ګرافي دغو پيسو ته دا ځواک ورکوي، چې د دوی جعلي پيسو جوړول نا ممکن کړي او، چې کله د مجازي پيسو يادونه کيږي نو موخه ترې همدا کرېـپټو کرنسۍ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوټ:** دغه پورته اصطلاحات مو ځکه بیل و کارول، چې ځینو لوستونکو ته ستونزې ایجادوي او توپیر یې نه شي کولی او همدارنګه دغه (Digital Currency, Virtual Currency, Crypto-Currency and Cyber-Cash) ټول اصطلاحات مترادف کارول کیږي خو واقعیت دا دی، چې کرېپټو کرنسي، سایبر کرنسي یا سایبر کېش او مجازي پیسې یو شان دي او د ډیجیټل پیسو تر عنوان لاندې کارول کیږي.

**د کرېپټو کرنسی لنډه پېژندنه**

د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره د کرېپټو کرنسی پېژندنه

کرېپټو کرنسي د ډیجیټل پیسو یو ډول دی، چې د کرېپټوګرافۍ په وسیله رامنځ ته کیږي او د بلاکچین ټیکنالوژۍ کې داسې کارول کیږي، چې د هغوی کاپي کول تقریبا ناممکن دي. ځینې علما بیا وایي، چې کرېپټو کرنسي هغه نوم د ی، چې یو ډول غیري فزیکي پیسو یا ډیجیټل پیسو ته ورکړل شوی. په بل ځای کې داسې راپېژندل شوې، چې کرېپټو کرنسي یو ډو ډیجیټل شتمني ده او په ډیجیټل نړۍ کې د کرېپټوګرافۍ په وسیله د تبادلې د وسیلې لپاره رامنځ ته شوې د "کریپټو" کلمه هغه رمز یا کریپټوګرافۍ ته اشاره کوي او بیا د بلاک چېن ډېټابېس ته وراضافه کیږي. او بیا وروسته دغه "کرنسي" د دې د استعمالونکو ترمینځ د تبادلې د وسیلې په توګه پیژندل کیږي(12: .271-281).

**د ډیجیټل پیسو شالید**

د لمړي ځل لپاره په ۱۹۹۸ کې د (Wei Dai) په نوم یو اقتصاد پوه یوه لیکنه خپره کړه، چې د برېښنایي پیسو یو مبهم ویشل شوی سیستم، چې د ("b-money",) په نوم ۇ په کې تشریح شوی ۇ. له هغې لږ وروسته یو بل پیاوړي اقتصاد پوه د (Nick Szabo) د (bit gold) په نوم ، چې (bitcoin) ته ورته وې رامنځ ته کړې، چې یو برېښنایي کرنسي سیستم ۇ. لمړی غیري مرکزي (decentralized) کرېپټو کرنسي په ۲۰۰۹ کال کې د ( Satoshi Nakamoto) له خوا رامنځ ته شوه، چې کرېپټو ګرافي تابع یې کاروله( SHA-256, a cryptographic hash function).

په ځینو څېړنو کې راځي، چې ساتوشي ناکاموتو د یو بانک سره د خپلو پیسو په اړه شخړه رامنځ ته شوې وه نو هوډ یې درلود، تر څو داسې یو سیستم رامنځ ته کړي، چې دریم ګړی په کې موجود نه وي او هر څوک و کولی شي پرته له دریم ګړي مستقیم ډول د پیسو او سوداګریز معاملات تر سره کړي. داسې یو نظر رامنځ ته شو، چې ولې یو شخص د خپلو معاملاتو تر سره کولو لپاره دریم ګړي ته، چې بانک د ی اړتیا ولري او همدغه بانک دی، چې زموږ د توکو د قیمتونو د لوړوالي سبب ګرځي ځکه زموږ څخه فیس اخلي. لکه سوشل مېډیا، چې رامنځ ته شوه ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوشل مېډیا کې هر څوک په خپله خوښه کولی شي هر څه یې، چې زړه و غواړي هماغسې خبرې پوسټ کوي د کرېپټو کرنسۍ په سیستم کې هم همدا شان دی، هر څوک چې هر چا سره په هر ځای او هر چېرې، چې زړه و غواړي خپل د پیسو او سوداګریز معاملات تر سره کولی شي. د بېټکواین د قیمت په اړه داسې ویل کیږي، چې لمړیو کې د یو بېټکواین قیمت ډېر ټیټ ؤ او هر چا به، چې غوښتل یوه پیتزا تر لاسه کړي نو باید دوه سوه بیټکواینه ورکړي، په دې مانا، چې د یوې پیتزا قیمت دوه سوه بېټکواینه ؤ. د الکترونیکي پیسو له طریقه ډیجیټل نغدي تادیه وروسته له هغه مشهوره شوه، چې د کمپیوټري سیستم بانکداري رامنځ ته شوه. خو باید یادونه وکړو، چې دغه وخت کې انټر نېټ رامنځ ته شوی ؤ. یو مرکزي سرور له همدې کبله ډاډ ترلاسه کوي، چې فنډونه یو ځل مصرفیږي پدې سیستم کې خلک د تنظیم شویو او کنترول شویو اصولو پر اساس معامله کوي، چې ممکن د اسعارو ارزښت او د اشخاصو شتمني اداره کړي دا استدلال کیږي، چې که افراد وتوانیدل، چې د مرکزي شبکې له لارې په خپلو منځو کې په ازادانه ډول معامله وکړي نو ټولنه به پخپله د دې د ارزښت په ټاکلو کې مرسته وکړي. نوموړي اسعار به یو ډیټابیس ته اړتیا ولري، چې په جلا جلا توګه د انفرادي معاملو د ثبت کولو توان ولري، چې اصلاح کول او غلا کول ناشوني کوي. بېټکواین د بلاکچېن ټکنالوژۍ ته وده ورکړې، چې دا ټول اهداف لاسته راوړي او د یوې وسیلې د مشروعیت لپاره یو پلیټ فارم برابر کړي، چې د تبادلې یا کرېپټوکرنسۍ د ډیجیټلي وسیلې په توګه ثبت او پېژندل کېدی شي(20: .16-40).

## کرېپټو کرنسي او اسلام

پورته قواعدو ته په پام سره  مهمه ده، چې د کرېپټوکرنسۍ ارزونه وکړو او و یې څېړو، چې آیا د مال(Mal) یا کرنسۍ شرایط پوره کوي. د کرېپټوکرنسۍ تر ټولو مشهوره ډول بېټکواین دی نو ځکه د مقالو او په ځانګړې توګه فتوا ( د علماؤ نظرونه) د بېټکواین سره تړاو لري کله، چې د بېټکواین په اړه فتوا یا نظر ورکول کیږي نو په ټولو کرېپټو کرنسیو باندې عملي کیدی شي ځکه ټولې یو شی ځانګړتیاوې لري. په هر صورت، د هر ډول کرېپټوکرنسیو ټاکلو لپاره اصول او دلیلونه ورته دي. له همدې کبله د بېټکواین پورې اړوند موجوده ادب په ځانګړې ډول د کرېپټوکرنسیو په پام کې نیولو سره په پراخه کچه ګټې لري. په عموم کې علمأ، او شرعي کارپوهان دوه مختلف نظرونه لري د علماؤ لمړۍ ډله پدې نظر ده، چې کرېپټوکرنسۍ حرامې دي یعنې د شریعت لخوا منع شوې؛ بله ډله پدې نظر ده، چې کرېپټوکرنسي په اصل کې حلاله ده یعنې جواز لري.

### لومړی لید: کرېپټوکرنسي حرامه ده

د لاندې علماؤ له خوا د دغې نظر ملاتړ شوی دی او هغو خپل نظر په لاندې ډول شریکوي:

### د مصر لوی مفتي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصر لوی مفتي شېخ شاکي اعلان وکړ، چې بېټکواین او کرېپټوکرنسۍ حرامې دي؛ نوموړي شېخ د خپلو نورو دلایلو په منځ کې دغه څو لړني دلایل په خپلو بیانونو کې په ګوته کړي:

❶: بېټکواین په اسانۍ سره د ناقانونه فعالیتونو لپاره کارول کیږي؛ له همدې کبله خلک بېټکواین په لویه کچه د غیرې قانوني او د غیرې شرعي نا موافقو اهدافو لپاره کاروي ترڅو د دولتونو او اړونده چارواکو څخه ځان پټ کړي.

❷: بېټکواین غیرې منطقي دی او یوازې د انټرنېټ له لارې کارول کېدی شي.

❸: بېټکواین د پیسو مینځلو او درغلیو لپاره اجازه ورکوي.

❹: بېټکواین هېڅ مرکزي اختیار نه لري، چې د ده سیستم څارې مګر دا د پولي سیستم نظارت او کنټرول لپاره د مرکزي بانکونو او حکومتونو کنټرول له منځه وړي(11: 15 ــ31).

**د ترکیې حکومت:**

د ترکیې حکومت مذهبي ډلې هم اعلان وکړ، چې بېټکواین او نور ټولې کرېپټوکرنسۍ منع دي؛ د مجازي اسعارو پېر او پلور پدې وخت کې له مذهب سره مناسب نه دي؛ د دې حقیقت له کبله، چې د دوئ د ارزښت ارزیابۍ لپاره خلاص دی (ډېره دوکه او غرر) دا په اسانۍ سره  د غیرې قانوني فعالیتونو لکه د پیسو مینځلو لپاره کارول کیدی شي او دوی د دولت د پلټنې او نظارت لاندې نه دي.

**د فلسطین د فتوا مرکز:**

د فلسطین د فتوا مرکز هم د بېټکواین او کرېپټوکرنسۍ په اړه فتوا صادره کړه. فتوا ادعا کوي، چې بېټکواین او کرېپټوکرنسۍ حرامې دي او د لاندې دلایلو پر اساس ممنوع دي:

❶: د بېټکواین خپرونکي نامعلوم دي هېڅ حکومت یا مرکزي اداره یې تر شا شتون نه لري د غیرې مرکزي واک او نظارت سیستم د موجودیت له موخې سره رامنځته کیږي؛ دا بې اعتباره او غیرې حقیقي دي.

❷: بېټکواین د قمار یو ډول دی څکه، چې خلک د تضمین رامنځته کولو پرته په بېټکواین کې ډېرې پیسې پانګونه کوي، چې بېټکواین جوړ کړي د بریا او ناکامۍ تضمین یې معلوم نه دی. د بېټکواین استخراج کونکي هڅه کوي، چې ریاضیکي پازلونه (Puzzles)حل کړي او که دوی بریالي شي  پیسې ترلاسه کوي مګر که ونشي کولی په مقابل کې یې هېڅ هم نه ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❸: بېټکواین په لوړه اندازه ضیاع ده څکه، چي په بېټکواین او نورو کرېپټوکرنسیو کې د احتکار د کنترول لپاره هیڅ اساس شتون نه لري.

**شیخ هیتام له انګلستان څخه:**

په انګلستان کې میشت عالم شیخ هیتام په عربي ژبه یوه مقاله کې لیکلي او پکې یې ویلي، چې بېټکواین او نور کرېپټو کرنسۍ منع دي او د شریعت سره مطابقت نه لري. د اصلي دلایلو سره هغه ادعا کوي،چې:

❶: د کرېپټوکرنسۍ د سرو او یا نورو کرنسیو پشتوانه( د سرو زرو ملاتړ) نه لري.

❷: کرېپټوکرنسي قانونیت نلري او نه هم د کوم دولت یا مرکزي څارنې او کنټرول سیستم لاندې دي.

❸: کرېپټوکرنسي په اسانۍ سره د پیسو مینځلو او غیرې قانوني اهدافو لپاره کارول کیدای شي(13: 101-91).

**د بېټکواین د محرومیت عمومي دلایل:**

۱: قانوني معامله نده. ۲: اجراء کونکی یې معلوم نه دی. ۳: د احتکار ملاتړ کوي. ۴: باثباته نه دي.

**دوهم لید: کرېپټوکرنسي په پرنسیپ کې جواز لري:**

نور عالمان پدې نظر دي، چې په پرنسیپ کې جواز لري. دغه نظریه هم زمونږ د تېرو توضیحاتو په رڼا کې د (مال) تعریف او ځانګړتیاؤ ته په کتو تحلیل کیدلی شي.

دلته یو مشهور فقهي اصل دی، چي د قانون پوهانو لخوا توضیح شوی( الاصل فی المعاملات لاباحة) دا معنی ورکوي، چي په مالي او تجارتی معاملو کې اصلي قاعده جواز دی؛ په بل عبارت، هر څه جواز لري  مګر که مونږ دا په ښکاره ډول د شرعي اصولو سره په تضاد کې و نه مومو.

د دې اصل له مخې کرېپټوکرنسي اساسا جواز لري په ورته ډول، هر څه د پیسو په توګه کیدلی شي که چیرې دا ځانګړتیاوې ولري:

۱: د خلکو ترمنځ د ارزښت لرونکي جنس په توګه چلول کیږي.

۲: د ټولو لخوا د تبادلې د وسیلې په توګه منل شوی وي.

۳: د ارزښت د اندازه ګیری وړ وي.

۴: د حسابي واحد په حیث کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې کبله کومه کرېپټوکرنسي، چې دا شرایط پوره کوي(لکه بټکواین) د پیسو په توګه منل کیږي. د سویلي افریقا اسلامي مدرسې د فتوا مرکزي دارالعلوم زکریا هغه دریځ غوره کړی، چې بټکواین د مال شرایط پوره کوي او له همدې کبله د سوداګرۍ لپاره جواز لري. په هر صورت، دوی یادونه کوي، چې د اسعارو ور ورګرځول شي؛ دا باید د اړوند حکومتي ادارو لخوا تصویب شي. معاصر مثال د بټکواین د وېنزویلا اقتصادي بحران دی، ځکه ویزویلا کې ، چې انفلاسیون بیخي شدید ؤ نو خلکو بټکواین ته پنا یوړه او دوی بټکواین د تبادلې او ارزښت زخیره کېدلو یوه معتبره کرنسي یاده کړه.

په عمومي اصطلاحاتو کې؛ د غیرې قانوني هدف لپاره د حلال شي کارول دغه شیان پخپله غیرې قانوني نه ګرځوي. مثال کې یې یو حدیث شریف موندلی شو؛ چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د شرابو یو سوداګر ته د انګورو له پلور څخه منع کړې ځکه شراب جوړول حرام دي. مګر د حلالو اهدافو لپاره د انګورو تولید یا تجارت یې ندی منع کړی. پدې ټکې کې دا په ځانګړې ډول د یادولو وړ ده، چې ټول حکمي اسعار د ناقانونه اهدافو لپاره لکه د پیسو مینځلو، درغلیو او غیرې قانوني سوداګریو لپاره کارول کیږي. دا په اسانۍ سره منلی شو، چې د متحده آیالاتو ډالر هم د کرنسي، پیسو مینځلو او نورو غیرې قانوني اهدافو لپاره په پراخه کچه کارول کیږي(15: 1 ـ 11).

## کرېپټو کرنسي څرنګه کار کوي؟

بټکواین یو مرتبط سیستم دی،داسې نه دی لکه دوديز سیستم، لکه څرنګه، چې په دوديز تادیاتي سیستم کې د بېلګې په توګه ویزه، ماسترکارډ یا نورې بربېښنايي معاملې، چې تر منځ یې یو دریم ګړی یا کومه مالي اداره موجوده وي او دغه دریمګړې اداره د دوی ټول مالومات کنټرولوي او د دوی معاملې تضمینوي، همداشان د همدې خدمت په مقابل کې دی یوه اندازه فیس اخلي، د دې تر څنګ معامله کونکي هم مطمئن وي، چې د دوی پیسې او مال خوندي دی. بټکواین یو بشپړ ماډل لري؛ د دې امنیت د کریپټوګرافي لوګاریتمونو لخوا تضمین شوی؛ د حکومت یا حکومتونو لخوا د خوندیتوب پرځای دا یو خوندي لوګاریتم هش (SHA) دی، چې (bites 256) کیږي. په دوديز سیستم کې دبېلګې په توګه که چېرې  تاسو یو ډالر شبکې ته وسپارئ نو دا به تضمین کړي، چې تاسو به وکولی شئ یو ډالر ترلاسه کړئ هر کله چې وغواړئ خو په کرېپټو کرنسۍ یا بټکواین کې داسې نه ده. په هر صورت, هېڅ شخص، اداره یا دولت یې تضمین نه کوي؛ ځکه، چې هیڅوک د شبکې ملکیت نلري. هیڅ تضمین شتون نه لري، چې بټکواین له دودیزو اسعارو سره یو ثابت ارتباط ولري. بټکواین په 2011 کال کې له 1$ څخه کم خو په 2013کال کې 1200$ څخه زیات خو اوس مهال په 2021 کال کې د یوه بټکواین قیمت شاوخوا 50000$ ډالرو پورې دی. سربېره پردې, بټکواین خلاصه سرچینه ده؛ هر څوک کولی شي د دې سرچینې کوډ ترلاسه کړي، کوچنې تغیرات رامنځته کړي او بټکواین ته ورته شبکه جوړه کړي او لدې سره خپله شخصي کرنسي جوړه کړي. په هر صورت, د بټکواین مرکزي پروتوکول تر څو یو څوک بدلون په کې راولي ډېر ستونزمن دی او وجه یې د دې کرنسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غيرې مرکزيي (Decentralize system)سيستم دی. خو که څوک خلاق فکر لري، او دوی دا فکر کوي، چې د دوی د بېټکواين په نسبت ښه ايډيا يا نظر لري تر څو نوې بله ډيجيټلي کرنسي جوړولی او پنځولی شي نو بيا په ډېرې اسانۍ سره کولی شي يوه نوې کرنسي جوړه کړي، چې د دې ښه مثال په اوس مهال کې د پای نېټورک په نوم کرېپټو کرنسي ده، چې په اوس وخت کې د افغانانو تر منځ زياته مشهوره شوې. د بېټکواين په استخراج کې، زرگونه سيالي کونکي د رياضيکي پېچليو تخنيکونو د حل لپاره رقابت کوي. که يو څوک دا تخنيک حل کړي د بېټکواين د نړيوال ليږد ثبت کې يې بلاک اضافه کيږي او انعام ورکول کيږي او دا انعام 25Bitcoins دی. په هر صورت، دا خورا زيات کمپيوټري ځواک غواړي؛ تر ټولو مشهوره طريقه تر څو دغه رياضيکي ستونزه يا رمز حل کړي او يو بلاک زيات کړي نو يو گروپ استخراج کوونکي سره يو ځای کيږي يو بل سره مرسته کوي او په گډه يوه ستونزه يا رياضيکي پېچلي لوگاريتمي فرمولونه حلوي او يو بلاک رامنځ ته کوي، چې په دې سره دوی په گډه انعام تر لاسه کوي او گټه د ټولو سره شريکه وي، چې ۲۵ بېټکواينه وي. په اصل کې دا فکر موجود ؤ، چې بېټکواين به "د خلکو کرنسي" وي او دا د محاسبې قوت به غيرې مرکزي وي او هر څوک د بېټکواين د ستونزو په حل کولو کې يو شان فرصت لري، چې هيش فنکشن يا تابع په نوم ياديږي. سربېره پر دې دا جوته شوې، چې هېش فنکشن د ځانگړو اسبابو او ماشينونو لخوا په موثره توگه حل کيدلی شي، چې د همدغې فنکشن لپاره جوړ شوي دي او دغه ماشينونه يوازې همدا فنکشن يا تابع لري. متوسط شمېر خلک د خپلو کمپيو ټرونو په وسيله، خو زيات شمېر خلک بيا په سلگونه زره ډالره په هغو ماشينونه باندې مصرفوي، چې يوازې هيش فنکشن لري تر څو دغه تابع حل کړي. زيات شمېر خلک شته، چې له همدې لارې څخه هره ورځ 3000 ډالرو څخه زيات عايد ترلاسه کوي يا په کال کې د بېټکواين له استخراج څخه تر 1m ډالرو زيات عايد ترلاسه کوي(14: 617 ــ 622).

### د کرېپټو کرنسۍ قانونيت

(Ribeiro) په خپله څېړنه کې داسې ليکي، عدلي څانگه يا اداره دا مني، چې مجازي پيسې يو ښه خدمت وړاندې کوي او کولی شي تجارتي کړنو ته پرمختگ ورکړي. د دې تر څنگ يو بل اقتصاد پوه(Kelion, 2013)؛ بيا په خپله څېړنه کې داسې ليکي: تاسو کولی شئ برلين څخه د بير په شمول هر څه وپيرئ، په مستردام کې د پيزا غوښتنه وکړئ، په اډينبورگ کې ټيکسي په کرايه ونيسئ، په لجوبلجنا کې د غاښونو معاينه ترسره کړئ، په نيکوسيا کې يو سند ترلاسه کړئ، په مسسچو ستيشن کې جواز وپيرئ او نور. د بېټکواين لومړنۍ سوداگريزې معاملې ثبت د 2010 کال د May په مياشت کې رامنځته شو چيرې، چې Laszlo Hanyecz يو فلوريډايي پروگرامر له Papa John's څخه د دوه پيزا پيرودلو لپاره (10,000 Bitcoins)وکارول، په هغه وخت کې يې په اټکل سره 60$ ارزښت وه. Hanyecz دا فرض کړه، چې د دوو پيزاوو لپاره او د يو چا د وخت د جبران لپاره کافي بېټکواين دي مگر نن سبا د بېټکواين هغه مقدار شاوخوا 5m $ ته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بلاکچېن لنډه پېژندنه**

د بټکواین پلېټ فارم اساس د بلاکچېن په نوم ټکنالوژي ده. بلاکچېن د بټکواین پلېټ فارم د سرو زرو ځای کرځیدلی. بلاکچېن یوه نوې ټیکنالوژي ده او دغه ټیکنالوژي به په کاروبار کي د مالي معاملو په سره ته رسولو کې ستر بدلون را ولي. دلته یې له پنځو کلیدي ټکو څخه یادونه کوو.

۱: دغه ټیکنالوژي، چې د وېشل شوې ټیکنالوژۍ نوم هم ورکړ شوی یوازې تر بټکواینه محدوده نه ده بلکې د دې ټکنالوژۍ په وسیله زیات نور مالي کارونه تر سره کېدلی شي.او د بلاکچېن او توزیع شوي لېجر کلمې د اړونده ټکنالوژیو په پراخه مجموعو باندې پلي کیږي یا په دې مانا، چې په نورو تخنیکي کارونو کې هم ترې استفاده کېدای شي. د دې ټکنالوژۍ د کارولو لپاره د کرپټو کرنسي پرته ډېری نور ځایونه شتون لري، چې په هغو کې ترې ګټه اخستل کیږي.

۲: دغه مشترک توزیع شوی لېجر د مرتبطو، منعکسو شویو، او ریکارډ شویو معاملو یو سیټ دی. د محاسبینو لپاره څوک چې دا لولي؛ دا په سټرایډونو کې د دوه ګوني ثبت لېجر په څېر دی. د لېجر سیستم تصور کړئ، چې په ورته وخت کې د زرو محاسبینو له خوا د هرې معاملې لپاره ساتل کیږي او یا په نظر کې نیول کیږي.

۳: په توزیع شوي لېجر کې ټول ترسره شوي معاملات په شبکه کې د برخه اخیستونکو لخوا په مستقله توګه تائیدیږي او بیا په انفرادي ډول په لېجر کې ساتل کیږي.

۴: د دې ټکنالوژیو غیرې مرکزي طبیعت، د منځګړي نه درلودل یعني کوم بانک یا بله اداره د معامله کوونکو تر منځ نشته او هر چا ته اجازه ورکوي، چې ونډه پکې واخلي ځکه، دوئ د پروتوکولونو(یو کمپیوټري ژبه ده، چې کمپیوټرونه سره نښلوي تر څو مالومات سره تبادله کړي) له مخې رامنځته شوي مقررات تعقیبوي؛ په پیل کې دا یوازې د یو څو پوهنتونو او دولتي نهادونو شخصي ډله وه، چې د دغې ټیکنالوژۍ څخه یې ګټه پورته کوله، مګر په پایله کې انټرنیټ غیرې مرکزیت غوره کړ اوس هر څوک کولی شي ونډه پکې واخلي او د انټرنیټ کارولو سره ترې ګټه پورته کړي.

۵: د منځګړي لرې کول به مًثمریت او خوندیتوب ډیر کړي ځکه منځکړې ادارې لکه بانک زموږ څخه فیس یا کمېشن اخلي.

**د بلاکچېن ګټې**

بلاکچېن اعتماد رامنځته کوي، بېروکراسي له منځه وړي، فساد، رشوت، مالیاتي خلاؤ او داسې نورو سره مبارزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاک چین یوځو غیر معمولي ورتیاوې لري د دوئ څخه یوه دا ده، چې تاسو کولی شئ سمارټ قراردادونه رامنځته کړئ دا هغه څه دي، چې په ښکاره ډول هر څه ښیي. دا یو داسې ترون دی، چې پخپله پروسس اجرا کوي او د قراردادونو، پلي کونکی، کنټرول، فعالیت او تادیه یې اداره کوي(12: .281-271).

### د بېټکواین هر اړخیزه پېژندنه

- کرپټوکرنسي د الکترونیکي تادیاتو سیستم او یو عام لېجر دی، چې ټول په یوه واحد کې له بېټکواین څخه عبارت دی.
- بېټکواین د انعام په نوم میکانیزم له لارې رامنځته شوی، چې د استخراج (mining) په نوم یادیږي، چې د ډېرو پېچلو ریاضیکي ستونزو حل اړین دی تر څو بېټکواین تر لاسه کړو او دغه چاره مرحله په مرحله ستونزمنه کیږي.
- هغه سیستم ،چې په مرسته یې د پیسو او تادیې سیستم خوندي کیږي بېټکواین دی.
- بېټکواین یوله بل سره نښتی سیستم دی، چې د ډلیزې روڼتیا پر اساس اداره کیږي.

### د بېټکواین ځانګړتیاوې

### د بېټکواین لاندې ځانګړتیاوې د بېټکواین د مدافعینو لخوا توضیح شوي:

۱: غیرې مرکزي سیستم دی، د حکومت کنټرول یا د مالکیت احتمال له منځه وړي. سربېره پر دې، بېټکواین یوه محدوده اندازه شتون لري، هېڅ یوه اداره یا ارګان نوموړي اسعار تولید یا د زیاتوالي او کموالي له لارې یې ارزښت نشي تغیر کولی. دغه سیستم د بېټکواین ارزښت د عرضې او تقاضا اقتصادي طبعي قوانینو ته پرېږدي.

۲: بلاک د ټولو رسمي تبادلو مستقل عامه ثبت دی، چې په سیستم کې رامنځته کیږي او د بېټکواین یوه اړینه برخه ده. بلاک چېن د جعل کولو د مخنیوي پرمهال نظم او تبادلې ته په وده کې مرسته کوي.

۳: اشخاصو او سوداګرو ته الکترونیکي تادیات په هر وخت کې کولی شي، چټک پروسس کړي او لګښت یې ډېر کم دی، د معاملاتو د پروسس له جریان څخه منځګړې اداري لرې کوي.

۴: که څه هم د بېټکواین د ټولو معاملو توضیحات په عامه ډول ساتل کیږي؛ د ښکیلو اشخاصو پېژندنې نسبتاً نامعلومې پاتې کیږي، یعنې په دې ټکنالوژۍ کې هیڅ ځوک یو بل نه پېژني.

۵: د بېټکواین راکړه ورکړه د کاروونکو ترمنځ په مستقیم ډول ترسره کیږي یعنې پرته له کومې واسطې لکه بانکونه یا نورې مالي ادارې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦: د بېټکواين د راکړې ورکړې تصديق د شبکې د حرکت لخو ترسره کيږي او د بلاک چين په داخل کې په يوه توزيع شوي لېجر کې ثبت کيږي.

٧: د بېټکواين اعظمي شمير 21millians پورې محدود دی، يعنې تر اوسه يوازې همدومره موجود دي(20: .40-16).

**د بېټکواين ګټې**

- د سیاست له پلوه مستقلې پيسې دي.
- په مستقله توګه يعنې خودسرانه د حکمي پيسو په شان نشي رامنځته کيدلی.
- جعلي نه شي کيدلی، د دې يو بنه ځانګړنه همدا ده، چې جعل کاري په کې نامکنه ده.
- ډېر خونديتوب لري، د ملکيت د سوانحو او د تېرو راکړو ورکړو د کمپټو د ثبتولو له لارې هم خوندي ساتل کيږي.
- غلا او يا د چا لخوا کنګل کيدای نشي، ځکه د دې ټکنالوژۍ اپشنونه ډېر ستونزمن دي.
- په ډېر شفاف ډول يې د غيرې باوري کسانو ترمنځ بې باوري له منځه وړي، ځکه جعل نه شي کېدای.
- کولی شي په څو ثانيو کې د نړۍ هرې يوې برخې ته په چټکه او موثره توګه عمل وکړي.
- د راکړې ورکړې ډېر کم لګښت، لدې کبله نړيوالو پيسو د خارجي تبادلې لګښت او د خارجي تبادلې خطر له منځه وړی.
- د حکمي پيسو په توپير، دا ډيفلاسيوني حالت لري.

**د بېټکواين زيانونه**

- د بېټکواين د راکړې ورکړې تعقيب کول ناشوني دي يعنې د مرکزي بانک له خوا تر څو قانونيت يې ثابت کړي، د پيسو مينځل، د ترهګرۍ مالي کول، د نشه يی توکو او د نا قانونه توکو تجارت.
- که چېرې خصوصي کيلي ورکه شي، ټول بېټکواين د تل لپاره ورک کيږي.
- دا حقيقي پيسې نه دي، ځکه نو هلته تل دوکه رامنځته کېدای شي.

په دې وروستيو کې د کرېپټو کرنسۍ يو شمېر تبادلې هېک شوې او په ميليونونه ډالر غلا شوي دي. يوه بله ستونزه د ورکېدو ده که په غلطۍ کې پيسې يو چاته ولېږل شوې بيا را کرځېدل يې نا ممکن دي، خو که چېرته مقابل سړی يې و غواړي کولی شي. بله دا، چې په ۲۰۲۱ کال کې د يوه شخص څخه، چې ۲۴۰ ميلينونو ډالرو په ارزښت يې بېټکواين لرل خپله ځانګړې کيلي يا پاسورډ هېر شوی ۇ او اته ځلې يې خپله کيلي يا پاسورډ ورکړی ۇ خو بتوه يې نه وه خلاصه کړې او که لس ځله يې ورکړې او سم نه وي نو خپلې پيسې د تل لپاره له لاسه وکوي، چې دا يوهستره ستونزه ده. دا ځکه، چې هغه خصوصي کيلي، چې د ډيجيټل لاسليکونو او د عامو خلکو کيلې توليدوي په ای بتوه کې ساتل کيږي، چې د بريدونو پر وړاندې حساس دي؛ دا يوه امنيتي سيمه ده چې بايد پياوړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بټکواین د موضوع په هکله ځینې مبهمې پوښتنې موجودې دي**

۱ . هیڅوک په مطمئنه توګه پدې نه پوهیږي چې د بټکواین سافټویر تر شاه څوک دي. د خلاصې سرچینې لپاره جوړ شوی. له دې امله هېڅوك نشته، چې په اصل کې د پیسو او یا هم د نظام په هکله په مجموع کې خپل مسولیت په غاړه واخلي.

۲ . څوک، څنګه پوهیږي، چې په پرانیستې منبع کې شته سیستم هم، هغه سیستم دی، چې په حقیقت کې فعالیت کوي؟ که ناڅاپي غیرې متوقعه حیرانتیا د سیستم څخه را و وځي نو څه به وشي؟ له دې امله حتی د بټکواین د حساب اعظمي مقدار یوازې21 میلیونه ده.

۳ . بټکواین حقیقي پیسې نه دي، لکه پیسې ځینو اجناسو او خدماتو باندې تکیه نه کوي.

په یوه بل ځآی کې د بټکواین په اړه داسې ویل کیږي، چې بټکواین یوه ډیجیټل کرنسي ده، چې هیڅ بټکواین د مرکزي صدور اختیار یا فزیکي بټکواین نه لري. په خاصه توګه بټکواین یوه کریپټوکرنسي ده، چې د کوډبندي د پرتوکولونو د راهنمایي کولو لپاره د کریپټوګرافي تخنیکونه کاروي کوم، چې ملکیت راپېژني او د معاملاتو توضیحات تائیدوي. د بټکواین د کوډبندی پرتوکول د ساتوشي ناکاماتو په نوم یو شخص له خوا په 2008 کال کې رامنځته شوی، چې په مرسته یې بالاخره 21m بټکواین د ریاضیکي لوګارتیمونو د حل لپاره د انعام په توګه ډیزاین شو ترڅو( د بټکواین ساتلو لپاره اړین لېجر) په پروسه کې د استخراج(mining) په نوم یادیږي. یو ځل استخراج شوی هر بټکواین یا یې هم یوه برخه – هم پلورل کیدای شي، د پیرودنو لپاره د تادیې د وسیلې په توګه او د پانګې اچونې په توګه هم استعمال کیدلی شي.

بټکواین په سوداګریزو وبپ پاڼو کې پیرودل او پلورل کیږي، چې د تبادلې(exchange) په نوم پیژندل کیږي؛ هر یو یې 24/7 (یعني په هفته کې اووه ورځې او څلورویشت ساعته) په مستقله توګه فعالیت کوي او نړیوالو پیرودونکو ته د عنعنوي تبادلې بهرنۍ سوداګرۍ او یا هم بروکرج پلیټ فارم(brokerage platforms) ته ورته طریقه شتون لري(12: .281-271).

**بټکواین څرنګه کار کوي؟**

د یوه کارونکي لیدلورې څخه بټکواین د ګرځنده اپلیکېشن یا د کمپیوټر د یو پروګرام څخه بل څه نه دي، چې د بټکواین یوه خصوصي بکسه یا بټوه چمتو کوي او یو کارونکي ته اجازه ورکوي، چې له هغې څخه بټکواین واستوي یا یې هم ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردو تر شا، د بېټکواین شبکه یو عامه لېجر ورانديې کوي، چې د بلاک چېن په نوم ياديږي. پدې لېجر کې د پروسس پر مهال هره معامله تر سره کېدی شي. د کاروونکي کمپيوټر ته اجازه ورکوي، چې د هرې معاملې اعتبار تائيد کړي. د هرې معاملې صدق د لېږل شوي ادرس مطابق د ډيجيټل لاسليکونو لخوا ساتل کيږي او ټولو کاروونکو ته اجازه ورکوي، چې د خپلو بېټکواين له بکسو څخه د بېټکواين په لېږدولو باندې کنټرول ولري.

سربېره پردې، هر څوک کولی شي د ځانګړي هارډوېر کمپيوټري څواک په استعمالولو سره معاملې پروسس کړي او د دې خدمت لپاره په بېټکواين کې جايزه ترلاسه کړي، دا اکثره د استخراج په نوم ياديږي، خو دغه استخراج اسان کار نه دی سختو پېچلو لوګاريتمي فرمولونو او رمزونو حلولو ورو‌سته يو شخص کولی شي، چې بېټکواين او يا د هغې ټوکنې تر لاسه کړي. ادرس يې د بانکي حساب په څېر دی په کوم کې، چې کاروونکي کولی شي بېټکواين ترلاسه کړي، ذخيره کړي او يا يې وليږدوي. د دې پر ځای چې په بکسه کې په فزيکي توګه خوندي شي؛ بېټکواين د عامه کيلي کرېپټوګرافي سره خوندي کيږي. د بېټکواين هره بټوه يوه خصوصي کيلي لري کومه، چې مالک يې بايد مخفي وساتي. د دې خصوصي کيلي سره کاروونکی کولی شي د عامه شمېرو ډېرې شمېرې رامنځته کړي، چې د عامه ادرسونو جوړولو لپاره استعمالېدلی شي. کاروونکی کولی شي پدې عامه بټوه کې پيسې ترلاسه کړي. هر څوک کولی شي هر ادرس ته بېټکواين وليږي؛ مګر يوازې د خصوصي کيلې سره يو شخص کولی شي په بکسه کې بېټکواين مصرف کړي. د بېټکواين ادرس عام دی په اتوماتيکه توګه امکان نه لري، چې پوه شي چې کوم ادرس په  کوم شخص پورې تړاو لري، پدې توګه د بېټکواين ادرسونه تخلصونه دي. د بېټکواين لېږدونکې شبکې نورو اشخاصو ته د معاملاتو توضيحات خپروي په شبکه کې نور اشخاص د خپرې شوې معاملې توضيحات ثبتوي او که معامله معتبره ښکاره شوه معامله په بلاک چېن کې يو(١) په څېر يا نوم جمع کيږي.

د مثال په توګه، که چېرې تاسو غواړئ په سان فرانسسکو کې د پيالو او کيکونو له بېکرۍ څخه پيالې او کېکونه واخلئ نو تاسو د دوی د بکسو عامه ادرس ته اړتيا لرئ؛ ستاسو بکسه شبکې ته ليږد خپروي. دا ليږد د پير او پلور بېټکواين شبکه کې خپور شي چيرته، چې دا په مختلفو چکونو سره تائيديږي. لکه څرنګه، چې ستاسو بکسه کافي بېلانس و لري او د ا د شبکې نورو غړو ته خپروي. نوموړی ليږد بالاخره د يو استخراج کوونکي لخوا ترلاسه کيږي څوک، چې معامله په بلاک چېن کې شاملوي، دا بلاک چېن بيا په شبکه کې پروسس کيږي او له نړيوال بلاک چېن سره يوځای کيږي. بېټکواين اوس د پيالو او کېکونو د بېکرۍ بکسې پورې اړه لري او د هغه ادرس لخوا پېژندل شوی، چې تاسو ورته بېټکواين ليږلي دي(15: 1 ــ 11).

### کرېپټو کرنسي، بېټکواين او راتلونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسمهال دبېټکواین په وسیله په بیلابیلو هیوادونو کې پېر او پلور تر سره کیږي. د بېلګې په توګه په( eBay) وېبپاڼه باندې عملا د بېټکواین په وسیله پېر او پلور کیږي. سوداګر اوس د بېټکواین له لارې شیان په اټکليز شکل خرڅوي ترڅو اجناس دوی ته تاوان ونه کړي. نو دوی خپل اجناس له اوسه دراتلونکې په نیت خرڅوي. همدا چاره دبېټکواین ارزښت تر پوښتنې لاندې راولي، څکه، چې دلته بېټکواین داسعارو پرځای دسهمونو یا معتبرو ونډو چلند کوي. دبېټکواین په هکله څو عمده نظرونه شته.

لومړی ګروپ په دې عقیده دی، چې د بېټکواین له لارې په اسانۍ سره یوه اکاونټ ته د دوه کسانو ترمنځ دکم مصرف په ورکولو سره پیسې لېږل کیدل اسان دي نو څکه به په اینده کې ډېرو خلکو ته دمنلو وړ وي.

دویمه ډله وایي، چې بېټکواین به دکاغذي پیسو لپاره یو بدیل شي، چې د یوې غیرې نغدي ټولنې جوړولو کې به ونډه واخلي او د (کین) هغه نظریه، چې وایي ،یو وخت به داسې اسعار رامنځته شي، چې هیڅ هیواد پورې به تړاؤ ونه لري ،سمه ثابته شي.

دریمه ډله خلک په دې اند دي، چې بېټکواین یوه بې ثباته کرنسي ده، چې له لارې یې پیسې ناسمې کارول کیږي ،یا منځل کیږي،څکه چې شاته یې هېڅ ضمانت او پشتوانه نشته. یو شمېر هېوادونه غواړي پر بېټکواین بندیز ولګوي، دبېټکواین استعمال دنړۍ په مختلفو هېوادونو کې کیږي خو څینې یې دبندیز او نه استعمال په هکله پرېکړې کوي. په امریکا او نګلستان کې یې کارېدل په پراخه کچه لیدل کیږي خو یادو هېوادونو دولتونو خپل خلک دبېټکواین دزیانونو په هکله خبر کړي. بنګله دېش،بولوویا، چین، ایسلینډ، هند، روسیه، سویډن، تایلنډ، ویتنام او دځینو نورو هېوادونو مرکزی بانکونه غواړي، چې د بېټکواین په استعمال بندیز ولګوي. که څه هم بېټکواین خپله بیه دیوې میاشتې په اوږدو کې دوه برابره زیاته کړې.خو ډېر کارپوهان په دې اند دي، چې داخپله یو غیرې عادي او اندیښمنونکی حالت رامنځ ته کوي. ډاکټر هیلمن وایي ښایي په نږدې راتلونکې کې د بېټکواین اسمانڅکه بیه له خاورو سره برابره شي ،یعنې په بشپړه توګه خپل ارزښت له لاسه ورکړي، د اقتصاد پوهانو دغه ډله هغو ته، چې بېټکواین لري همدا سلا ورکوي، چې بازار او نرخ ته پاملرنه وکړي او که په دې پوهیږي، چې بیه یې بې سارې په راکوزېدو ده ،نو ژر تر ژره یې وپلورئ ،که څه هم دا د اقتصادي ناورین د رامنځ ته کولو یوه برخه ګرځي خو د دې لپاره چې پانګه مو له هېڅ سره برابره شي ،دا به غوره وي، چې په وخت یې وپلورئ. خو څینې بیا وایي، چې که کوم هېواد دا د خپلې لومړۍ یا دوهمې رسمي کرنسۍ یا پیسو په توګه وپیژني دا به د بېټکواین ارزښت لا زیات کړي. د دغو هېوادونو په سر کې دجاپان او وینزویلا نوم اخیستل کیږي. څینې اقتصادي کارپوهان دا ویل، چې دراتلونکو اولمپیک لوبو لپاره، چې په ۲۰۲۰ کې په توکیو کې کیږي دا پیسې رسمي کړي. نو دنړۍ او جاپان اقتصادبه لا ورسره وغوړیږي. په ۲۰۲۰ کې دځینو مهمو سرچینو انګیرنه او وړاندوینه دا وه، چې د بېټکواین بیه به لا زیاته شي، یو بېټکواین به له ۵۰۰۰۰ ډالرو او حتی یو لکو ډالرو ته ورسېږي. داقتصادي چارو کارپوهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول انګیرني او اټکلونه تل کوي، خو چې کوم یې ربنتیا کیږي، دې ته به وخت ښه ځواب وایي. په افغانستان کې دبټکواین تصور نوی دی او په هکله یې پوهاوی کم دی. دلته د بربښنایي تادیاتو او یا ډیجیټلي اسعارو تصور تر اوسه عام شوی نه دی. د ۲۰۱۹ کال په لومړیو کی دبټکواین په هکله داسی ویل کیدل، چې ګواکې د افغانستان بانک دبټکواین له لارې پورپانې خپروي، خو مرکزي بانک یاد خبر رد کړ او یادونه یې وکړه چې د پور پاڼو خپرول د افغانستان بانک واک کې نه راځي.

## بټکواین چېرته اخستل کیږي

تاسو کولی شئ، چې په اسانی سره د جواز شوې تبادلې (license exchanges) له لوري بټکواین لاسته راوړئ. دلته د څو مختلفو ډیجیټلي ادارو نومونه د بېلګې په ډول یادوو کوم، چې خپله بټکواین لري او مارکېټ ته یې وړاندې کوي. د بېلګې په ډول Kraken، Coin base، Hit BTC، Bit stamp، Coin mama ، چې ځینې محدودیتونه هم لري. تاسو باید د خپل د پام وړ د تبادلې زېرمه غوره کړئ، تر څو وګورئ، چې کومې تبادلې د کارولو لپاره ارزښتناکې دي، چې تر څو مو بټکواین خوندي وي coin base په متحده ایالاتو کې یوه مشهوره تبادله ده او په لوړه کچه ترې کار اخستل کیږي.

## څنګه کولی شو بټکواین واخلو؟

بټکواین یوازینی ډیجیتل پیسې نه دي، په نړۍ کې اوسهمال په زرګونو بېلابېل ډوله ډیجیټل پیسې شته، خو بټکواین یې تر ټولو ډېر پیژندل شوی ډول دی. که یو څوک وغواړي بټکواین تر لاسه کړي، باید د بټکواین ادرس ولري، چې د ۲۷ تر ۳۴ شمیرو اوږد وي. دغه اوږده شمېره د پوسټ یا ادرس په څېر کارول کیږي او بیا له یوې ډیجیټلي کڅوړې بټکواین ورته راستول کیدی شي. دغه اوږده شمېره حتمي نه ده، چې دیوه کس په نامه او ادرس پورې تړلې وي ،ځکه خو ډېر کسان، چې بټکواین اخلي په پټ نامه یې اخلي او پېژندګلوي یې پټه وي. د بټکواین د اخیستو لپاره د اوږدې شمېرې ترڅنګ، چې د ادرس کار ورکوي تاسو باید د ډیجیټل پیسو بکس یعنې بټوه ولرى، دغه بکس ته ننوتل او ساتل داسې دي لکه ستاسو د بانک ادرس. په پیل کې ټاکل شوې وه، چې یوازې ۲۱ میلیونه بټکواین جوړیدای شي ،او ګومان دا ؤ، چې د دې شمیرې پوره کېدل به اوږده موده ونیسي، خو اوس داسې ښکاري، چې ډېر ژر به دا شمېره پوره شي. د دې شمېرې له پوره کېدو وروسته څه پیښیږي، ډېر خلک نه پوهیږي، خو بیا به د بټکواین له لارې راکړه ورکړه عادي وګرځي.

دبټکواین د کارولو لپاره دنوم پټ ساتل، د دې لامل شوې، چې خلک یې په انټرنیټ د ناقانونه پېر او پلور لپاره وکاروي. خو یو شمېر محدود پېژندل شوي سوداګریز بنسټونه اوس خپلو پیرودنکو ته اجازه ورکوي، چې د بټکواین له لارې شیان او خدمات وپیري. دمایکرو سافټ کمپنې، دسیلانیانو تر منځ مشهور ایکسپیډیا اوځینې نور لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاپاني سوشي، د خوړو يو رستورانت او د لندن د تابلو يو پلورنځی ځيني بېلګې دي، چې تاسې بېټکواين په کې کارولی شئ. دا دمنلو شويو اسعارو او پيسو په څېر نه دي لکه امريکايي ډالر، چې د نړۍ په هر کنج کې يې کارولی شئ، هوټل ته پيسی ورکولی شئ، ډوډۍ پرې اخيستلی شئ. خو بېټکواين لرونکي دا د پېرلو لپاره نه کاروي بلکې د تجارت لپاره يې کاروي، په دې مانا، چې په يو بل باندې يې خرڅوي لکه د پيسو بدلون. ډاکټر هيلن په وينا د ۸۰ او ۹۰ سلنې تر منځ خلک بېټکواين دپانګونې په موخه پېري(14: 617ـ622).

**بلاک چېن او بېټکواين په اړه د متحده اماراتو راتلونکی پلان**

د بېټکواين او بلاک چېن ټکنالوژي اوس مهال د مختلفو سوداګرو او ادارو لخوا کارول کېږي. د منځګړو پرته يو مرتبط سيستم دی چېرته، چې پيرودونکي لرې پيسې ورکوي او پلورونکي ډېر څه ترلاسه کوي؛ دا هغه پديده ده، چې نړۍ يې اوس مهال شاهده ده. هېوادونه د هغه وړيا سوداګرۍ لپاره مزل کوي؛ پداسې حال کې، چې نور هېوادونه لکه متحده امارات او په ځانګړې ډول دوبۍ هېواد د دوئ د سمارټ دوبۍ 2020 کال د نوښت يوه برخه بولي. د امکاناتو بلې کچې ته رسېدل د بېټکواين راتلونکی  د دوبۍ د حکومت لاندې د نړيوالې بلاک چېن شورا رامنځته کېدل دا په ګوته کوي، چې "په نړيواله سطحه د وروستيو ټکنالوژيو او نوښتونو د پلې کولو لپاره د هغو هڅو د برخې په توګه, د دوبۍ راتلونکی فاونډيشن د بلاکچېن پليټ فارم له طريقه د اوسني او راتلونکو غوښتنليکونو د څېړلو، بحث کولو، او د لېږد تنظيمولو لپاره د نړيوال بلاک چېن شورا د تاسيس اعلان وکړ. بلاک چېن د ډيجيټل اسعارو بېټکواين لخوا رامنځته شوی هر معامله ثبت کوي." په ورته ډول متحده عربي امارات به خپله کرنسي د سرو زرو پشتوانې په بنسټ پيل کړي او دغه کرنسي (One-Grame) نومول شوې، متحده امارت خپلو مشترريانو ته د شتمنۍ په وسيله ملاتړې کرنسۍ وړاندې کوي، چې ډېره معتبره به وي، چې دې ته د شتمنۍ په وسيله ملاتړ کوونکی ماډل هم وايي(15: 1ـ11).

## دریيم څپرکی

## پولي معيار او پولي سيستم

**پولي معيار**

پولي معيار د هغه اقتصادي واحد څخه عبارت دی، چې ټول اقتصادي ارزښتونه د هغه په واسطه اندازه کيږي .
پولي معيار کېدای شي سره زر ، سپين زر ، دواړه او ياهم کاغذ وي، چې سرو زرو او سپينو زرو ته بدلېدو وړ او يا د بدلېدو وړ نه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې د شمېر واحد په يو هېواد کې سره زر وي نو هغه ته طلايي معيار وايي که چېرې په يو هيواد کې د شمېر واحد سپين زر وي نو ورته د سپينو زرو معيار ويل کيږي که چېرې دواړه وي نو دې معيار ته دوه فلزي معيار ويل کيږي او که چېرې د ارزښت اندازه کول د کاغذ په واسطه صورت ونيسي نو دې ته کاغذي معيار ويل کيږي . پولي معيار د پولي سيستم څخه تو پير لري ، پولي معيار د شمېرلو واحد، چې موږ د هغه په واسطه ارزښت اندازه کوو په داسې حال کې، چې په پولي سيستم کې دهغه معرفت کيږي او د شمار دواحد په توګه جمع د دولت ټول هغه مېکانېزم، چې د هغې په واسطه د پيسو تاسيس او په دوران کې کنټرول صورت نيسي خو پولي سيستم په ټولو هېوادونو کې د هغوی نړيوالو او داخلي اړتياؤ په اساس جوړيږ(9: 30).

**پولي سيستمونه**

**الف: فلزي پولي سيستم**

دغه سيستم يو ډېر پخوانی سيستم دی، چې په ۱۸مه پيړۍ کې يې په نړۍ حکمراني کړې ده دغه سيستم له سرو او سپينو زرو څخه جوړ شوی دی دغه دوه فلزونو مشترک خصوصيات، چې په خپل منځ کې يې لرل و کولی شول په پېړيو په دغه برخه کې حکمراني وکړي .

د دواړو خصوصيا ت په لاندې ډول دي .

۱ دواړه ډيې نه پيدا کېدونکي وو.

۲: دواړه نه زنګ کېدل .

۳ : بې له دې چې وزن او ارزښت يې زيانمن شي دواړو د پانه کېدو خصوصيت درلود .

۴ : دواړه په اسانۍ لېږدول کېدل .

۵ : دواړه د ذاتي ارزښت لرونکي وو .

٦ : دواړه فلزونه د سينګار لپاره کارول کېدای شول.

ډېر زيات اقتصاد پوهان د تېر په څېر نن هم په دې باور دي، چې پيسې بايد لاندې ځانګړتياوې ولري.

۱ـ بايد په ډېره اسانۍ د يوه معيار په وسيله يې ارزښت وټاکل شي .

۲ ـ بايد په پراخ ډول د قبلېدو وړ وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – د ویش وړتیا ولري .

۴ – د لېږد وړتیا ولري.

٦ – ثبات یعنې په تېزۍ له منځه ولاړې نه شي.

**دوه فلزي پولي سیستم**

هغه پولي سیستم دی، چې په هغه کې دوه فلزونه سره او سپین زر دواړه د یوه بل سره موازي چلښت ولري او دوی په دې سیستم کې کومه اړیکه نه سره لري او نه د کوم نسبت په څېر فعالیت کوي د دغه ډول سکو وزن د صرافانو لخوا تضمین کېده مګر دغو سکو د صرافانو لخوا ونه شو کولی، چې د هغوی اعتبار د زیاتې مودې پورې وساتي او دغه کار د دې لامل شو، چې د دولت تضمین د صرافانو لخوا ارایه شو، د دې سره سره بیا هم دغه دوه ډوله پیسو د یوه ټاکلي نسبت او ټاکلي رابطې دنه درلودلو له امله و نشو کړای، چې د تبادلې پروسه تر یوه وخته جاري وساتي او یو شمېر ستونزې حل کړي.

**۲: دوه فلزي پولي سیستم (د سروزرو او سپینو زرو نسبت)**

په پورته سیستم کې د راپیدا شوو مشکلاتو وجود د دې سبب شو، چې د دغه مشکل د حل لپاره د سرو او سپینو زرو تر منځ یو تناسب و ټاکي هغه لمړی هېواد، چې په دې اړه یې اقدام وکړ فرانسه وه. په دغه هېواد کې د سرو او سپینو زرو تناسب ۱۵,۵/۱ ؤ یعنې د یوه واحد سرو په مقابل کې ۱۵,۵ سپین زر ورکول کېده. دغه کار د تبادلې د پر مختګ باعث شو او د تبادلې پروسې ته یې تېزوالی ورکړ مګر په ځینو هېوادونو کې د دغه ډول تبادلې د نسبت د لوړوالې له امله بیا هم په تبادله کې مشکلات را پیدا کړل او دغه مشکل په (۱۵۷۹ – ۱۵۱۹ ) کې ګراشام توضیح کړه، چې دغه ته د ګراشام قانون وایي، ګراشام په خپل دغه قانون کې داسې وایي، چې خرابې پیسې( سپین زر) ښې پیسې( سره زر) له دوران څخه او باسي. داسې ځکه وایي، چې سره زر خلک اخلي او سپین زر زیات نه پیري نو سپین زر د پیسو په ډول مارکېټ کې پاتې کیږي او سره زر له مارکېټ څخه ځکه وځي، چې خلک یې په نورو کارونو کې لکه سینګار، یا یې نورو هیوادونو ته قاچاق کوي تر څو په لوړه بیه یې و پلوري.

**یو فلزي پولي سیستم**

په لنډه توګه داسې ویلی شو، چې هغه پولي سیستم، چې په هغه کې یوازې یو فلز د پیسو په ډول چلښت ولري د یوه فلزي پولي سیستم په نوم یادیږي، ځکه دلته هغه پیسې، چې فعلا په اقتصاد کې جریان لري د یوه فلز څخه جوړې وي او هغه فلز کېدای شي سره زر، سپین زر او یا هم نور فلزات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مخلوط دوه فلزي سيستم**

دغه سيستم داسې ښکاره کوي، چې کله دوه فلزونه د مخلوط په ډول د يوې سکې په شکل د پولي واحد دنده تر سره کړي، په دې مانا، چې کومه سکه چې په مارکېټ کې فعلا چلښت لري داسې يوه سکه ده، چې دوه فلزات يو ځل سره ګډ شوي يو الياژ ترې جوړ شوی او بيا ترې سکه چوړه شوې او په اقتصادي جريان کې يا يوه هېواد کې د پيسو په ډول ترې ګټه پورته کيږي اويا په يوه هيواد کې کاغذي پيسې چلښت لري خو د دغو کاغذي پيسو شا ته د سرو زرو او سپينو زرو د خښتو پشتوانه لري او دغه دواړه کولی شي چه په يوه ټاکلې تناسب ددې پيسو د خريد وړتيا ولري ، په دې مانا، چې دغه کاغذي پيسې کولی شي، چې دواړه فلزات واخلي او دا، چې شاته دوه فلزات د پشتوانې په توګه لري نو ځکه ورته مخلوط سيستم وايي.

**ب: د بانکنوټ يا کاغذي پولي سيستم**

دغه پولي سيستم يوه ډېره لوړه اختراع ده، چې ټول اقتصاد يې په خوځښت راوست . د دغه سيستم منځ ته راتګ له دوه سببو څخه وه. د نړيوالو سرو زرو زخايرو د کمښت مخنيوی او د دې فلزاتو اهميت زياتوالي تر څنګ يې د پيسو د مصرف زياتوالی ورځ تر بلې زياتېده. دغه پيسې چې موږ ذکر کړې د سرو زرو سره نه بدليږي بلکې په خپله د خپل ځان سره د تبادلې وړ دي نن ورځ د نړۍ ټولې پيسې پدې ډول دي، ځکه د افغا نيو پر سر ليکل شوې جمله (ددې سند لرونکي ته وعده ورکوي، چې د غوښتنې په وخت کې شل افغانۍورکړي ) چې په خپله د ځان سره بدليږي. که بانک ته ورشو او شل افغانۍ وروړو نو موږ ته نور څه نه راکوي يوازې ۲۰ افغانۍ راکوي.

**د بانکنوټ يا کاغذي پيسو د نشر اصول**

**د احتياج اصل يا بانکي اصل**

هغه اصل دی، چې د ټولنې اړتيا د پيسو د عرضې اساس جوړوي په فرانسه کې دغه اصل په لمړي ځل جاري شو او د فرانسې اقتصاد پوهانو نظر درلود، چې بايد پيسې د احتياج يا اړتيا د اصل په اساس نشر شي نه د پشتوانې د اصل په اساس په دې مانا، چې هر څومره چې د خلکو غوښتنه وي په هماغه اندازه پيسې دې مارکېټ ته نشر شي او د خلکو غوښتنه اصل کې د خلکو اقتصادي حالت ښکاره کوي.

**پولي اصل يا پشتوانې اصل**

دغه اصل په انګلستان کې رامنځ ته شو هغوی بيا پشتوانه اساس ګڼي خو وروسته د وخت په تېرېدو سره دواړو هيوادونو د دواړو اصلونو څخه ګټه پورته کړه. د پشتوانې په اصل کې داسې نظر شتون درلود، چې هر څومره، چې مرکزي بانک پشتوانه ولري په هماغه اندازه دې پيسې مارکېټ ته نشر شي ځکه تر څو د خلکو د غوښتنې په وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وکولی شي د خلکو اړتیاوې پوره کړي او یا دا، چې که چېرته په اقتصاد کې انفلاسیون راځي نو د همدې پشتوانې په کارولو سره به په ډېر ښه شکل سره انفلاسیون کنټرول شي.

**ج: د سرو زرو سره د تبدیلیدو وړ بانک نوټ**

د بانک نوټ د پیدا ینښت څرنګوالی د اقتصاد پوهانو له نظره په مختلفو ډولونو وړاندې شوی دی یو شمیر پخواني اقتصاد پوهان پدې باور دي، چې بانک نوټ د لمړي ځل له پاره د یونان په سیمه کې رامنځ ته شوی دی او خلکو یا صرافانو د ( Recepta )په نوم یادولو دغه سند د فلزي مسکو کاتو نماینده ؤ، ځیني نور بیا د با بل ښار د دې سند د نشر ځای ښیي او ځیني بیا هالنډ هېواد د دې نوټ د رامنځ ته کېدو سیمه ښیي، ولې په نني شکل بانک نوټ ۱٦٥٦ میلادي کال کې سویډني پوه (Palm Struch) رامنځ ته کړی دی، چې دغه سند د سرو زرو سره تبادله کیده، چې دغه کال د پیسو د پیداینښت کال په نوم یادشوی دی.

**په سرو زرو د بدلېدو وړ بانک نوټ معیارونه (Gold Specie Standards)**

**د سروزرو د مسکو کاتو سره بدلېدونکی بانک نوټ**

دغه معیار کې پیسې د بانک نوټ په شکل مستقیما د سروزرو د سکو سره بد لیږي او تر ډیر وخته پورې دغې معیار د تبادلې په بازار کې د اعتباري سند لپاره حرکت مهیا کړی ؤ، خو د دولت اعتبار کمښت له یوه اړخه او د سرو زرو ساتل له بله اړخه په بانکونوباندې د خلکو هجوم د دې له پاره، چې خپل بانک نوټونه په سرو زرو سکو سره تبادله کړي چه په پایله کې د بانکونو د سرو زرو د زخایرو د کمښت سبب شول او یو ډېر جدي مشکل یې را پیدا کړ دغه وجې وي، چې دغه معیار یې زیات کارولو ته پرې نه ښود او باید یوه نوي معیار ته یې ځای پریښودلی وی، چې وروسته د بازار مېکانیزم د یوه نوي معیار په توګه د قانون مطابق رامنځ ته شو.

**د سروزرو د خښتې سره د بدلېدو وړ بانک نوټ (Bullion Gold Standard)**

د دې معیار اصلي سبب همدا ؤ، چې پورتني معیار له منځه ولاړ او هغې د منځه تلو له امله دغه معیار منځ ته راغی او هدف یې د بانکونو څخه د زیاتو سروزرو د وتلو مخنیوی ؤ دایو ډول خښتې وې، چې اووه ۷ کیلو وزن یې درلود . دې معیار هم تر لږې مودې کار وکړ او دومره کامیاب نه ؤ دلته هدف دا ؤ، چې که چېرته وکتل شي د مسکوکاتو سیستم کې یا هغه سیستم کې، چې سکې موجودې وي او د پشتوانې په ډول یې دنده اجرا کوله نو یو غریب شخص هم کولی شول، چې بانک ته لاړ شي او د کمو بانک نوټونو په مقابل کې هم د سرو زرو سکې تر لاسه کړي خو، چې کله د خښتو معیار رامنځ ته شو او یوې خښتې اووه کیلو وزن درلود نو هغه چا به، چې غوښتل د مرکزي بینک څخه د کاغذي پیسو په مقابل کې پیسې تر لاسه کړي نو هغه چا کولی شول، چې اقلا د اوو کیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرو زرو معادل کاغذي پیسې به یې درلودې نو ځکه له ډېرو کمو کسانو څخه پرته چا نه شول کولی، چې د مرکزي بانک څخه سره زر د کاغذي پیسو په مقابل کې تر لاسه کړي او د مرکزي بانک د سرو زرو د زېرمو د کموالي سبب شي نو ځکه دغه معیار رامنځ ته شو او د سرو زرو وتل یا کم او یا بیخي له منځه ولاړل.

**د سرو زرو د اسعارو معیار (Gold Exchange Standard)**

دغه سیستم کې به یوه کرنسي به د بلې کرنسۍ سره، چې هغه به د سرو زرو سره د تبادلې وړ وه بد لېده. د بېلګې په توګه: افغانۍ په مستقیم ډول د سرو زرو سره نه بدلیږي خو ډالر د سرو زرو سره بدلیږي، نو که چېر ته څوک غواړي سره زر تر لاسه کړي او نومړی شخص له ځانه سره افغانۍ لري نو لمړی به افغانۍ له ډالرو سره تبادله کوي او وروسته به همدغه تر لاسه شوي ډالر له سرو زرو سره تبادله کوي، چې په دې ډول سره زر تر لاسه کولی شي او دې معیار ته د سرو زرو د اسعارو معیار وایي .

**د اسعاري سرو زرو معیار**

لمړی باید دا ووایو، چې دلته ترې موخه هغه کرنسي ده کومه، چې په سیده توګه له سرو زرو سره د تبادلې وړ وي لکه ډالر. د دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته فاتحو هیوادونو وغو ښتل، چې د اقتصاد د بېرته احیا له پاره تصامیم ونیسي، چې ۱۹۴۵ میلادي کې ۲۹ هیوادونو د بریټن ووډز په نوم یو کانفرانس دایر کړ، چې پکې دوه نړیوالې مالي ادارې، چې د **I.M.F** او **I.B.R.D** په نوم وې چه وروسته په نړیوال بانګ مشهورې شوې تاسیس شوې مهمه خبره دا وه، چې په لمړي ځل نړیوال پولي سیستم رامنځ ته شو او د دې سیستم میکانیزم داسې ؤ، چې امریکا پدې تعهد وکړ، چې د ۳۵ ډالرو په مقابل کې به یو اونس سره زر تبادله کوي تر څو د سروزرو د نړیوالو زخایرو د کمښت مخه ونیول شي تر څو هغه اسعار پیدا کړي، چې د سرو زرو سره بد لیږي او د پشتوانې په حیث یې ومني د پام وړ خو دا وه، چې د تعهد په وخت کې امریکا د ۱۸ ملیارده ډالرو معادل پشتوانه درلوده خو د تعهد څخه ورسته، کله، چې نړیوالو ټول د تعهد شرایط ومنل او ترون لاسلیک شو نو ۸۳ ملیارده ډالر یې په عملي ډ ول په نشر ورسول او په دې سره یې خپل اقتصادي قوت پر جهان ومانه او دغه حرکت په اقتصادي قاموس کې د ډالرو ډیپلوماسۍ Dollar Diplomacy په نوم ثبت شوه وروسته بیا د امریکا متحده ایالاتو په ۱۹۷۰ م کې ۱۵ ملیارده ډالرو په مقابل کې، چې کولی یې شول د سرو زرو سره تبادله شي ۱۰۰ ملیارده ډالر یې عرضه کړل نو د دوګول په مشرۍ فرانسې دا پریکړه وکړه، چې د دې سیستم څخه و وځي او هغه ټول ډالر یې امریکا ته وسپارل، چې په فرانسه کې ذخیره وو او پدې تر تیب امریکا د سرو زرو د کمبود سره مخ شوه، چې بیا په ۱۹۷۳ م کې امریکا خپل تعهد بېرته واخیست او د بریټن ووډز سیستم یې مات کړ(50: 20 ــ 26).

## څلورم څپرکی

## د پیسو ارزښت او تیورۍ

مخکې مو یادونه وکړه، چې د تبادلې په اسانتیا کې پیسې عمده رول لوبوي او پیسې ځکه د تبادلې دوسیلې په توګه قبولې شوي دي، چې ارزښت لري .د دې ارزښت له مخې د ارزښت د ذخیره کېدو قابلیت ور ښښل شوی دی. نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې امله په اقتصادي معاملاتو کې پیسو ارزښت د خپل هم والي له کبله اهمیت لري او د پیسو د ارزښت مانا د هغې د پېر ځواک دی، چې د هغې په واسطه اجناس لاس ته راوړل کیږي .

څرنګه چې موږ پوهیږو دا د پیسو خپله ښکمرغي نه ده، بلکې موږ اجناسو او خدماتو ته، چې ورته ضرورت لرو لټه ده که چېرې د پیسو په واسطه د پخوا په نسبت ډېر اجناس لاس ته راوړو نو وایو، چې د پیسو ارزښت پورته تللی دی او برعکس که چېرې د پخوا په نسبت لږ اجناس لاس ته راوړو نو وایو چه ارزښت یې ښکته تللی دی. نو په یوه معلوم ځای او وخت کې د یوه پولي واحد حقیقي ارزښت د ټولو هغو اجناسو او خدماتو د خرید څخه عبارت دی، چې دیوې پیسې په بدل کې لاس ته راوړل شوې وي .

د پیسو ارزښت د قیمتونو د عمومي سطحې سره معکوسه رابطه لري کله، چې د قیمتونو په عمو مي سطحه کې زیاتوالی رامنځ ته شي د پیسو ارزښت ښکته راځي او کله، چې قیمتونه په عمومي ډول ښکته لاړ شي نو ور سره دپیسو ارزښت پورته ځي په ریاضیکي ډول د قیمتونو د عمومي سطحې او د پیسو ارزښت له یوه بل سره معکوسه رابطه لري .

د مثال په ډول که چېرته د پیسو ارزښت ٪۱۰ په اندازه ښکته راوغورځیږي نو د قیمتونو په عمومي سطحه کې ٪۱۰ زیاتوالی راځي همدا شان که چېر ته ٪۱۰ د پیسو په ارزښت کې زیاتوالی راشي نو ٪۱۰ د قیمتونو په عمومي سطحه کې کموالی راځي، او دا څرګندوي، چې د پیسو د ارزښت اړیکه د قیمت سره معکوسه ده.

**دقیمت پېژندنه**

قیمت یوه ډیره عامه کلمه ده، چې نه یواځې په علمي ادبیاتو کې پکار وړل کیږي بلکې په ورځنۍ عامیانه ژبه کې هم ډېره استعمالیږي. په علمي ادبیاتو کې د قیمت څخه مقصد هغه مقدار پیسې دي، چې د کالیو په بازار کې د یوه واحد او یا یوه ټاکلي مقدار امتعې په مقابل کې او د کار او خدماتو په بازار کې د یوه ټاکلي کار او یا خدمت په مقابل کې تادیه کیږي. په هغه اقتصادي نظامونو کې، چې په هغوی کې اقتصاد دمرکزي پلان پر بنسټ بنا شوی وي قیمت د مرکزي پلان د اصل او پرنسیب تابع وي خو په هغو اقتصادي نظامونو کې، چې په هغوی کې د ازاد بازار اصول او پرنسیپونه کاملاً او یا قسماً رعایت کیږي د کالیو او خدماتو قیمتونه د کالیو او خدماتو په بازار کې د کالیو او خدماتو د عرضې او تقاضا د اصل او پرانسیپونو تابع وي(9: 47).

خو پاتې دې نه وي، چې په اسلامي اقتصادي نظام کې قیمت ازاد دی خو خپل اصول او حدود لري.

**۱: د پیسو داخلي ارزښت**

د پیسو په داخلي ارزښت کې دوه عوامل تر مطالعې لاندې نیول کیږي .

- **د پیسو عرضه شوی مقدار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د مجموعي اجناسو مقدار**

د داخلي ارزش په تثبيت کې مونږ مجموعي مقدار پيسې د مجموعي مقدار اجناسو په مقابل کې ښيو، چې دا ډول ارزښت په لاس راوړو .دا پخپله دا ښيي، چې د داخلي ارزښت په تثبيت کې يوازې د پيسو مجموعي مقدار نشي کولی، چې په خپله دغه کار تر سره کړي يعنې په خپله دغه ارزښت وښيي ځکه، چې دا ډول مجموعي مقدار اجناس د مجموعي مقدار پيسو په مقابل کې قيمت ورکوي، چې د هغې په وسيله ارزش تثبيت کيږي . مجموعي قاعده دا ده، چې د پيسو ارزش د قيمت سره معکوس متناسب دی .يعنې په هغه صورت کې، چې د پيسو ارزش زياتوالی وکړي، قيمتونه نزول کوي . او برعکس کله چې د پيسو ارزش نزول وکړي نو قيمتونه لوړيږي .

**۲: د پيسو خارجي يا رسمي ارزښت**

د داخلي ارزښت خلاف دی، چې په داخلي ارزښت کې پشتوانه په نظر کې نه نيول کيږي .په خارجي ارزښت کې پيشتوانه په نظر کې نيول کيږي .او په دې ترتيب ټولې پيسې له خپله اړخه طلايي تعريف لري .چې د سياستونو په اصطلاح کې د رسمي ارزښت په نامه يادېږي.(بغير د خريد د قوې څخه په نظر کې نيول کيږي) دپيسو رسمي ارزښت د طلا د مقدار څخه عبارت دی، چې هر هېواد د خپل اقتصادي سياست او خپلې توانايۍ مطابق په نړيوال وجهې صندوق I.M.F کې ثبت کوي.

د پيسو حقيقي ارزش د پيسو د خريد د قدرت له لارې سنجش کيږي . دپيسو طلايي تعريف عبارت دی له ( د طلا ثبت شوی مقدار په نړيوال وجهي صندوق I.M.F کې) څرنګه، چې پورته ذکر شول، چې هر هېواد د اقتصادي سياست مطابق د پيسو خارجې ارزش په لاس راوړي او مشخص مقدار طلا ثبت کوي . د دوو طلايي تعريفونو يو د بل په مقابل کې د کيښودلو له لارې کولی شو د يو قسم پيسو ارزش د دوهم قسم پيسو څخه په لاس راوړو . يعنې يو ډالر د 0.888671 ګرامه طلا سره مساوي دی، چې د هغې په مقابل کې يوه افغانۍ د 0.000222 ګرامه طلا سره مساوي ده. د پيسو خارجي ارزش د تادياتو په بيلانس باندې تاثير لري . په هغه صورت کې، چې د تادياتو بيلانس مثبت شکل خپل کړي دا په دې مانا دی، چې طلا او اسعار هيواد ته داخل شوي او د هغې پواسطه د پيسو داخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزش تقویه شوی او برعکس د دي، یعني طلا او اسعار هیواد ته داخل شوي او د سرمایگذارۍ لپاره حالات اماده دي(50: 31ـ33).

**د پیسو اقتصادي ارزښت**

په دغه ارزښت کې د طلا مقدار په نظر کې نه نیول کیږي ، بلکې په دغه ارزښت کې د اقتصاد دوه عمده مسایل عرضه ، او تقاضا په پام کې نیول کیږي یعني د ملي پیسو د عرضې مقدار د خارجي پیسو په مقابل کې یا برعکس، تر بحث لاندې نیول کیږي . دغه ارزښت په اقتصادي معاملاتو کې لومړۍ درجه ارزښت لري (50: 65ـ66).

**د سود(ربا) معنی او مفهوم**

ربا په لغت کې زیاتوالي ، نمو ، ترقي کول او پورته والي او په شرعي اصطلاح کې ربا هر هغه زیاتوالي ته ویل کیږي، چې پرته د مالي عوض څخه په لاس راوړل کیږي یعنې هر قرض، چې ګټه وکړي ربا یا سود بلل کیږي .

**د سود تعریف**

سود په لغات کې زیاتوالي ته وایي(51: 136).

د لغت په لحاظ په څو معناؤ راغلی چې په لاندې ډول دی .

وده کول، د لړ ورکولو او زیاتو اخیستلو په معنا، دیوشي د روزلو او تر بیت په معنا، د هسک ځای په معنا، د زیاتوالي په معنا

او په اصطلاح کې عبارت دی له اضافه مال اخیستلو څخه، چې په مقابل کې یې عوض نه وي په داسې ډول، چې معاوضه د مال په مال سره وي. **د سود حکم** : په اسلام کې سود ورکول او سود اخستل دواړه حرام دي الله تعالی فرمایي .

وَ اَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَوا : ژباړه : حال دا چه حلال کړی دی الله تعالی تجارت او سود یې حرام کړی دی، سود د الله تعالی په ټولو کتابو کې، چې پخوا نازل شوي دي هم حرام دی .

دحرمت علت: د سود د حرمت د علت حکمت او فلسفې اړوند تفسیر پوهانو ویلي دي الله تعالی سود ځکه حرام کړی دی، چې په دغه ناوړه کاروبار کې زښت ډیر زیانو نه دي لکه (29: 85).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱» اخلاقي : اخلاقي زيان داسې چې په انسان کې بنستيز جوهر روح او حميده اخلاق دي، چې دهغې د خرابېدو لامل کيږي، په انسان کې زړه سوی ، انساني عاطفه ،سخاوت اونور ورک کوي، د دې پر ځای بخل ، ظلم ، او ځان پالنه ، پيداکوي.

۲» د غربت زياتوالی : غربت زياتوي او د عايد د عادلانه ويش په لار کې يو ترټولو ستر خنډ دی او بوازی د ځوکسانو په لاس کې د دولت راتلو ته لاره هواروي او د بېکاری د زياتوالي سبب ګرځي، چې دا خبره اوس د پانګوال نظام پوهان هم مني لکه .لارډ کينز نظر : انګلستان نامتو اقتصاد پوه په خپل کتاب (( General Theory of employment interest and money )) کې ويلي دي : تر څو پورې، چې سود خوري له منځه يو نه وړل شي تر هغو پورې له نړی څخه بې کاري ختمېدلی نه شي او بشري نړی تر اوږدې زمانې پورې دغه بې روزګاري زغملی نه شي، چې له پانګوال نظام سره تړلې ده. مطلب دا، چې سود د استثمار يوه مهمه لار ده او د غربت د زياتوالي تر ټولو بد عامل دی.

الله تعالی ډېرې چارې حرامې کړي دي او هغه يې کبيره ګناهونه ګڼلي دي لکه شرک ، ناحقه قتل ، غلا،زنا، چغلي ، غيبت، درواغ ، د مور او پلار نافرماني ،قذ فالمحصنات ، د يتيم خوړول ، د يتيم مال په نا حقه خوړل، حسد ، دوه مخي توب ،د جنګ په ډګر کې له کافر دښمن څخه تيښته بهتان او داسې نور مګر الله تعالی ددغو جناياتو د مرتکبينو له جملې څخه يو ته هم له خپل پلوه د جنګ اعلان نه دی کړی خو بوازې سود خوړونکي ته يې دغه اعلان کړی داځکه، چې دسود زيان زيات دی(23: 56).

۳» اجتماعي زيانونه : اجتماعي زيانونه هم ډير زيات دي لکه کرکه نفرت په ټولنه کې دښمني او ټولنيز افلاس او نور، چې پورته موږ ذکر کړل. سود په قيمت باندې ديو جنس ډېر زيات تاثير کوي او ديوه جنس د تمام شد قيمت لوړوي د مثال په ډول که د رخت صنعت فرض کړو سود يوډول مصرف دی، په توليد کې دا بوازې يوځل په يوه جنس نه اضافه کيږي بلکې بار بار اضافه کيږي، اول به يې يو دحقان په مصرف کې حسابوي او بيا يو تاجر بيا د رخت جوړولو کمپنۍ بيا د رخت تاجر به هم خپل سود ور علاوه کوي بيا آن تر دې، چې خياط هم په هغه خپل سود ور علاوه کوي، چې په قيمت باندې ډېر زيات تاثير کوي نو د پورته ټولو يادونو څخه دا ځرګنديږي، چې سود يوه ډېره بد ترينه پديده ده او غربيان او کاپيتليستان يې په دې له منځه نه وړي، چې دنړۍ اکثره پانګه له دوی سره ده او نه غواړي چه دغه پانګه د دوی له لاسه ووځي، په دې وجه خپلو انحصاري اهدافو ته دوام ورکوي تر څو دربيمه نړۍ همداسې په غربت کې پربېږدي او د هغوی ټول منابع په همدې طريقه انحصار کړي( 22: 56).

## د پيسو تيوريګانې

## د پيسو د تقاضا په اړه تيوريګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د پیسو مقداري تیوري Quantity Theory Of Money

د پیسو مقداري تیوري د لمړي ځل لپاره د مرکنتلیستانو مکتب رامنځ ته کړه مگر امرایکایي کلاسیک اقتصاد پوهان فیشر او ډېوېډ ریکارډو ( ۱۸۳۳- ۱۸۸۲)د دې تیورۍ اصلي موسسین گڼل کیږي.

### د ډېوېډ ریکارډو نظر یه The Divid Ricardo Theory

ریکارډو د نظر اصلاً د پیسو (پیسو او طلا) په رابطه دی او هغه پدې باور دی، چې پیسې باید تل سل په سلو کې د سرو زرو پشتوانه ولري. د ده په وینا پیسې یوازې د تبادلې وسیله ده هغه د پیسو د نورو دندو څخه انکار کړی دی د هغه په عقیده قیمتونه د پیسو د مقدار تابع دي او هغه د لمړي ځل له پاره دغه ( M=PT )فرمول لاس ته راوړ او د هغه څخه یې د قیمت فرمول تر لاسه کړ او هغه د خپلې د دې خبرې د اثبات لپاره، چې د قیمتونو سطحه د پیسو په مقدار پورې تړلي ده نور ټول عوامل یې له نظره وغورځول، چې قیمتونه تحدیدوي او همدغه فرمول یې د ټولو سوالونو حل و نبود.

او دغه فرمول په نړیواله کچه هم صادق دی. په دې ډول، چې کله سره زر په داخل د هیواد کې زیات شي نو قیمتونه لوړیږي او صادرات کمیږي او واردات زیاتیږي او دغه حالت تر هغه جریان پیدا کوي، چې تر څو بېرته حالات تعادل غوره کړي(9: 47).

### د فیشر تیوري

### د پیسو تقا ضا Demand Of Money

خلک پیسو ته تقاضا لري ځکه، چې پیسې د تبادلې د وسیلې په حیث دنده تر سره کوي او په ورځنیو معاملاتو کې په کار وړل کیږي یعنې د پیسو له پاره تقاضا د اجناسو د تبادلې لپاره ده.

### د تبادلې مساوات Equation of Exchange

د پیسو د مقدار تیوري د نقدو پیسو د معاملاتو تغیر د فیشر په واسطه وړاندې شوې، چې جوړښت یې په لاندې ډول دی.

$$pt = mv + m1v1$$

### د تورو مانا

(c) ketabton.com: The Digital Library



P د قیمتونو کچه ، M د پیسو مقدار ، V د M د گردش گرندیتوب ، M1 د کریډیټي پیسو مقدار، V1 د M1 د گردش گړندیتوب، T د اجناسو او تجارت ټول مقدار، د فیشر د پیسو مقدار تیوري کولی شو، چې د یو مثال په واسطه تشریح کړو.

M=2000AFs، M1=1000AFs، V=6، V1=4، T=8000goods که په فرمول کې دغه قیمتونه وضع شي نو قیمت په لاس راوړی شو، ځکه دلته (P) نا مالومه ده، که چېرته پورته ورکړ شوي قیمتونه دوه، چنده شي، قیمتونه به هم دوه چنده لوړ شي.

### د تیورۍ فرضیات Assumptions of The Theory

- بشپړ روز گار Full Employment
- V.T ثابت فرض شوي T AND M ARE CONSTANT د لنډې مودې له پاره
- د قیمت سطحه یو غیر فعال فکتور دی Price level (P) is a Passive Factor
- د M او M1تر منځ رابطه ثابته ده Relationship Between M and M1 are Constant

په پورته مساوات کې قیمت یو غیر فعال فکتور دی، چې د نورو فکتورونو لکه پانگونه، انحصار، احتکار، صادراتو، وارداتو او نورو فکتورونو په وسیله متاثره کیږي، نه دي ذکر کړي(9: 47 ـ 49).

### په تیورۍ نیوکې Criticisms Of The Theory

### په تیورۍ باندې د افتالیون نیوکې

په دوه دلایلو سره افتالیون په تیورۍ نیوکې لري

الف : د بېودل شوو رابطو تحلیل، چې د فارمول په منځ کې وجود لري .

ب : د هغو لاملونو تحلیل، چې د فرمول څخه د باندې پاتې دي .

هغه داسې نظر لري، چې داسې څه نه پیښیږي چه دتجارت په دوران کې تغیر او د پیسو په دوران کې تغیر دې یو شان وي یعنې هغه پدې باور دی، چې کیدای شي په تجارت کې لږتغیر راشي او پیسو کې زیات تغیرات رامنځ ته شي (50: 41).

### د فیشر په تیورۍ باندې نورې نیوکې

۱ – غیر واقعي فرضیه ده Unrealistic Assumption

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فيشر تيوري په غير واقعي فرضيو باندې بنا شوې ده په دې تيورۍ کې قيمت P د غير فعال فکتور په حيث په نظر کې نيول شوی دی T ازاد M1 V او V1د لنډې مودې لپاره ثابت فرض کړی شوي دي دا ټولې فرضيې د داسې حالت لاندې فرض شوي، چې نور ټول شيان ثابت وي ولې په اقتصاد کې داسې حالت، چې ثابت وي امکان نه لري نو په دې اساس تيوري غير واقعي او ناقصه ده .

٢ – په معاملاتو کې مختلف متحولين مستقل نه دي Various Variables in The Transaction are not Independent )

لکه څرنګه، چې په تيورۍ کې فرض شوې ده د معاملاتو په مساوات کې مختلف متحولين مستقيم (ازاد ) نه دي . ولې حقيقت دا دی، چې دوی يو بل ډېر زيات متاثره کوي ، د مثال په توګه کله، چې د پيسو عرضه (M) زياتيږي نو د پيسو چټکې هم پورته ځي ،د بله اړخه فيشر فرض کړې ده، چې قيمت (P)يو غير فعال فکتور دی او په T تجارت کوم تاثير نه واردوي ولې په عملي ډول کله، چې د قيمتونو سطحه پورته لاړه شي ورسره د لنډ مهال لپاره د سوداګرو ګټه زياتيږي او تجارت پرمختګ کوي خو د اوږد مهال لپاره قيمتونو کې زياتوالی انفلاسيون دی او په اقتصاد باندې ناوړه اغېز کوي.

٣ – د بشپړ روز ګار فرضيه غلطه ده Assumption of full Employment is Wrong خو د دې تر څنګه اقتصاد پوه J.M. Keynes انتقاد کوي چه د بشپړ روز ګار وقوع په يو اقتصاد کې ډېره نادره ده او واقيعت نه لري .

۴ – د سود نرخ په نظر کې ندی نيول شوی Rate of interest is ignored د فيشر په مقداري تيورۍ کې د پيسو په عرضه او د قيمتونو په سطحه د سود د نرخ تاثير بلکل له منځه وړی دی.

۵ – د تجارت د دايرې تشريح ناکامه کوي Facts to Explores Trade Cycles ځکه، چې دانه بيانوي چې ولې د بحران په حالت کې د پيسو په عرضه کې زياتوالی د قيمتونو په عمومي سطحه لږ تاثير کوي.

٦ – د قيمتونو د سطحې نور فکتورونه د نظره غورځول شوي لکه پانګه اچونه ، مصارف ، سپما ، عايد، چې په قيمتونو تاثير کولی شي(9: 49 ـ 50) .

**د ناګارو نظر يات**

ناګارو بيا د دې نظر مخالف دی، چې وايي ټولې پيسې مارکيټ ته نه داخليږي، چې کله نشر شي.

هغه وايي، چې ټولې پيسې مارکيټ ته نه داخليږي ځکه يوه اندازه يې د دولت سره پاتې کيږي مثال که چېرته ١٠ ميلونه نشر شي کيدی شي يو ميلون بې مصرفه پاتې شي او هغه په لاندې درې ټکو سره پايلې ته رسيدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله،چې د پیسو په مجموعي مقدار کې زیاتوالی را شي او د هغې په تناسب په کالیو کې هم زیاتوالی را شي نو په قیمتونو کې تغیر نه راځي.
- د پیسو د مجموعي مقدار په زیاتوالي سره که ولیدل شي، چې دغه پیسې بازار ته ندي داخلې شوې نو بیا هم قیمتونه تغیر نه کوي.
- که چیرته په کالیو کې تغیر رانشي او په پیسو کې تغیرات رامنځ ته شي نو قیمتونه تغیر کوي(50: 42).

**د پیسو رواني تیوري**

د دغې تیورۍ اصلي بنسټ گر دوه اقتصاد پوهان دي، چې یو ویزر او بل افتالیون دی، چې دا داوړه د کلاسیکو خلاف نظرونه لري، چې ویزر د پولي عاید تیوري پرمخ بوولې او افتالیون بیا د ځانگړې رواني تیوري تر بحث لاندې نیولې ده.

**د پولي عاید تیوري**

هغه داسې عقیده لري، چې د پیسو مجموعي مقدار کې زیاتولی د قیمتونو د سطحې د تغیر سبب نه گرځي بلکې د عوایدو په سطحه کې زیاتولی د قیمتونو د سطحې د زیاتوالي سبب گرځي او هغه وایي، چې له دوه لورو موږ عاید ترلاسه کوو.

- د تولید د عواملو څخه
- د دولت د مالي سیاستونو د پلي کولو په پایله کې عواید .

**خاصه رواني تیوري**

دغه اقتصاد پوه بیا داسې نظر لري، چې د ویزر تیوري د پلي کېدو وړ نده. هغه وایي، چې باید د خلکو اقتصادي حالات تر کتنې لاندې ونیول شي او هغه کولی شي، چې د قیمتونو سطحې ته تغیر ورکړي(50: 43ـ44).

**د کمبریج مساوات Key Cambridge Equation**

د کمبریج مساوات د پیسو د مقدار تیوري، چې د نقده بیلانس په اساس فورمول بندي کړې، د کمبریج مساوات Cambridge Equation په نامه یادیږي.

۱ – د الفرډ مارشال مساوات Alfred Marshall Equation

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الفرډ ما رشال مساوات د پيسو د مقدار تيوري، چې د نقده بيلانس په واسطه يې تعبيروي، چې د ميلټن فريډمن په واسطه مخې ته بيول شوې او په لاندې شکل ښودل کيږي. M = K*P*Y

M = د پيسو مقدار (د کرنسي او امانتي تقاضا) ، P = د قيمتونو سطحه، Y = مجموعي حقيقي عايد، K = د حقيقي عايد هغه برخه، چې خلک يې غواړي د پيسو په ډول يې وساتي.

اوس پورته فرمول په يوه بېلګه کې څرګندوو، چې څه ډول پايله ورکوي.

M=1000AFS، Y=10000UNITS، K=O,5، چې کله دغه شمېرې په فرمول کې وضع شي نو لاندې پايله به تر لاسه شي.

$$P = \frac{M}{KY} = \frac{1000}{10000 * 0.5} = 0.2\text{Afs}$$

پورته تر لاسه شوې پايله داسې څرګندوي، چې د قيمتونو سطحه او دپيسو ارزښت به د اجناسو پنځه واحده په يوه افغانۍ وي ، په دې مانا، چې د يوې افغانۍ به پنځه ډوله يا پنځه واحده اجناس پېرلی شو.

### د کينز مساوات Keyne's Equations

کينز په يوه کتاب کې خپل مساوات د استهلاکي اشياوو په حواله ورکوي ، د هغه مساوات د پيسو د مقدار د تيورۍ (Demand for Money) په اړه عبارت دي له:

P = د استهلاکي اشياوو د قيمت سطحه

N= په ګردش کې ټولې عرضه شوې پيسې

K = د ټولو استهلاکي اشياوو واحدونو شمېر

په پورته مساوات کې که چېرېK ثابت وي نو په M (پيسو مقدار ) کې زياتوالی د P (قيمتونو په اندازه ) کې په هماغه تناسب زياتوالی راځي، چې په پيسو کې راغلی دی کينز داخبره ډېره زياته تشريح کړې ده، چې که چېرې په خپل ځای پاتې شي او دM په اندازه کې زياتوالی راشي نو په هماغه تناسب مستقيما د قيمتونو په سطحه کې د زياتوالي سبب ګرځي(9: 51).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## دپیسو عرضه

## د عرضې متاثره کوونکي عوامل

### د پیسو عرضې د تغذیه کولو سرچینې

په مارکیټ کې د پیسو زیاتول د پیسو پالیسۍ په وسیله، چې د مرکزي بانک په اختیار کې ده کولی شي په مارکیټ کې پیسې زیاتې کړي تر څو د غوښتنې ورې پیسې د مارکیټ د تغذیې له پاره وکارول شي. د پیسو په عرضه کې تغیرات، پراقتصادي فعالیتونو باندې د پیسو د عرضې د تاثیراتو په دلیل د ربحې نرخ اغیزمنوي، دا مهمه ده ترڅو پوه شو، چې د پیسو عرضه څه ډول ټاکل کیږي، څوک هغه کنټرولوي؟ څه شی د پیسو په عرضه کې د تغیر لامل ګرځي؟ او څرنګه د هغوی کنټرول کېدی شي بهبود ومومي؟

لاندې هغه عوامل دي، چې د پیسو عرضې سره سره د پیسو تقاضا کې هم بدلون راوستلی شي ځکه دا هغه عوامل دي، چې نه یوازې په پیسو باندې تاثیرات غورځوي بلکې په ټولو اقتصادي کړنو باندې تاثیرات پرې باسلی شي.

۱: د سود نرخ، ۲: د قیمتونو نوسان، ۴: صادرات، ۵: واردات، ٦: تولیداتوکې تغیر، ۷: د خلکو عوایدو کې تغیر، ۸: نفوسو کې تغیرات، ۹: اقتصادي وده او پرمخ تګ، ۱۰: احتکار، ۱۱: انحصار، ۱۲:د تبادلې نرخ، ۱۳: انفلاسیون او داسې نور(2: 86).

### د پیسو د عرضې په پروسه کې څلور مراجع

1. مرکزي بانک: د دولت استازي، چې له بانکي سیستم څخه نظارت کوي او د پیسو سیاست د کارولو مسؤل دي.
2. بانکونه او مالي وساطت کوونکي موسسات: امانات له وګړو څخه اخلي او نورو وګړو او موسساتو ته پورونه ورکوي لکه تجارتي بانکونه، د سپما تعاوني بانکونه، تعاوني موسسات او داسې نور.
3. امانات سپارونکي: هغه وګړي اوموسسات، چې خپل امانات بانکونو ته سپاري.
4. له بانکونو څخه پور اخیستونکي: هغه وګړي او موسسات، چې له بانکونو څخه پور اخلي او هغه موسسات، چې د قرضې اسناد صادروي او دا اسناد د امانت اخیستونکو بانکونو پواسطه پیرودل کیږي(30: 61).


(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پیسو عرضه**

**د مرکزي بانک سیاستونه**

دا، چې مرکزي بانک د ربحې نرخ ته د پیسو د عرضې د اندازې تغیرولو په وسیله تغیر ورکوي که چېرې مرکزي بانک د پیسو اندازه زیاته کړي، د ربحې نرخ کموالی مومي او که چېرې د پیسو اندازه کمه کړي، د ربحې نرخ زیاتوالی مومي. خو تر اوسه مو پدې اړه خبرې ندي کړي، چې ولې مرکزي بانک باید وغواړي، چې د ربحې نرخ ته تغیر ورکړي. کله چې د ربحې نرخ تغیر وکړي تاثیرات به يې په اقتصاد باندې څه ډول وي؟ د ربحې ټيټ نرخ مصارف په خصوصي ډول سرمایگذاری تحریک کوي. د ربحې لوړ نرخ مصارف کموي، د ربحې نرخ تغیر په وسیله مرکزي بانک کولی شي مجموعي تولید (عاید) تغیر کړي. کله، چې مرکزي بانک د اقتصاد د محدود کولو لپاره د پیسو د عرضې په کموالي لاس پورې کوي، دغه اقدام د انقباضي پولي سیاست په نوم یادیږي. برعکس کله چې مرکزي بانک د پیسو د پراختیا له لارې اقتصاد تحریکوي دغه يو انبساطي پولي سیاست دی. د امریکا متحده ایالاتو د۱۹۸۲،۱۹۷۵ او ۱۹۹۲ کلونو په لومړیو کې د پیسو په پراختیا او د ربحې د نرخ په کموالي لاس پورې کړ، دغه انبساطي سیاستونو په نومورو کلونو کې د رکود څخه د بهبود په لور اقتصاد کې ډېره مرسته وکړه(28: 18_23).




**انقباضي سیاست (د پیسو راټولوني سیاست)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولت هر سیاست، چې هدف یې د مجموعي تولیداتو کمول وي د انقباضي سیاست په نوم یادیږي. انبساطي سیاستونه د اقتصادي پرمختګ لپاره استعمالیږي په داسې حال کې، چې انقباضې سیاستونه د اقتصادي فعالیتونو د بطي کولو لپاره استعمالیږي. پوهیږو، چې د اقتصادي سیاست یو عمده هدف اقتصادي پرمختګ دی خو پوښتنه دا ده، چې ولې د مجموعي تولید د کموالي لپاره دا سیاست اختیاروي؟ د انفلاسیون  په وړاندې د مجادلې یوه لاره د مجموعي مصارفو کمول دي، کله، چې د انفلاسیون نرخ لوړ شي په داسې سیاست لاس پورې کیږي، ترڅو اقتصادي فعالیتونه بطي کړي. مخکې له دې څخه، چې په هغه انقباضي سیاستونو، چې دولت پدې آخرو کلونو کې په غاړه اخیستي دي، بحث وکړو، موږ اړتیا لرو، پدې موضوع بحث وکړو، چې مالي او پولي انقباضي سیاستونه څه ډول کار کوي.

**انبساطي پولي سیاست (د پیسو خپرونې سیاست)**

هرکله، چې مرکزي بانک تصمیم ونیسي، چې د پیسو عرضې ته بازار د عملیاتو له لارې زیاتوالی ورکړي، په اقتصاد باندې به څه اغیزه وکړي؟ په لومړي قدم کې د ازاد بازار عملیات په سیستم کې نوي ذخیرې پرانیزي او د پیسو عرضې ته زیاتوالی ورکوي ځکه، چې د پیسو د عرضې اندازه اوس د هغې اندازې څخه زیاته ده کومه، چې کورنۍ یې غواړي، چې ذخیره یې کړي په نتیجه کې د ربحې د نرخ تعادل کمیږي. د سرمایه ګذارۍ مصارف پلان کیږي (چې د مجموعي مصارفو یوه برخه ده). کله چې د ربحې نرخ نزول وکړي نو پانګونه زیاتوالی مومي. د پلان شوې سرمایه ګذارۍ د مصارفو لوړېدل په دې معنی دي، چې مجموعي پلان شوي مصارف اوس د مجموعي تولید څخه ډېر دي اوشرکتونه غیر پلان شوي کمښت په ذخیرو کې تجربه کوي او تولید ته زیاتوالی ورکوي. د پیسو په عرضه کې زیاتوالی د ربحې نرخ کموي او مجموعي تولید زیاتوي. د دې سره سره د تولید لوړه سطحه پیسو ته اړتیا زیاتوي، دغه په خپله د دې سبب کیږي چې د ربحې نرخ کموالی ونه مومي یعنې بېرته زیات شي ځکه په اوږد مهال کې کله، چې تولید د سود د ټیټوالي له امله زیاتیږي نو د تولید زیاتوالی بېرته پانګې اچونې او د پورونو زیاتوالي ته لاره هواروي، چې د سود د زیاتوالي سبب ګرځي.

په لومړۍ مرحله کې د پیسو په اندازه کې زیاتوالی د ربحې نرخ کموي، په دوهمه مرحله کې د ربحې ټیټ نرخ سبب کیږي ترڅو د پلان شوې سرمایې مصارف لوړ شي. په دریمه مرحله کې مصارف زیاتیږي، پلان شوې سرمایه ګذاري په مجموعي پلان شوو مصارفو کې د زیاتوالي بیانوونکې ده، چې دا په خپله پدې معنی ده، چې تولید زیاتوالی موندلی دی یعنې کله، چې شرکتونه د زخیرو د غیرې پلان شوي کموالي په مقابل کې عکس العمل ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. په څلورمه مرحله کې په تولید کې زیاتوالی (عاید) پیسو ته د اړتیا د زیاتوالي سبب ګرځي که چېرې پیسو ته د اړتیا زیاتوالی نه وي کړی د ربحې نرخ په کمه اندازه کمیږي.

د توکو بازار د اغېزو لپاره د پولي سیاست قدرت پدې پورې اړه لري، چې د دې سلسلې په ځنځیر کې هرعکس العمل په څومره اندازه پېښیږي. شاید مهمه اړیکه د ربحې د نرخ او پانګونې ترمینځ اړیکه وي. پولي سیاست یوازې هغه وخت کولی شي اغېزمن واقع شي، چې پانګه د ربحې د نرخ د تغیراتو په وړاندې عکس العمل وښیي. که چېرې شرکت د سرمایه ګذارۍ د پروژو اندازه کله، چې د ربحې نرخ کموالی مومي زیات کړي، پراختیا ورکوونکی پولي سیاست د اقتصاد په تحریکولو کې اغېزمن وي. کله، چې شرکتونه د ربحې په کم نرخ کې پانګونې ته مایل نه وي، پراختیا ورکوونکی پولي سیاست به محدود بریالیتوب ولري یا په بل عبارت د پولي سیاست موثریت د سرمایه ګذارۍ د میلان سره اړیکه لري.

**د لوی اقتصاد د سیاست ترکیب**

کولی شو چې پولي او مالي سیاستونه همزمان مطالعه کړو د مثال په ډول: د دولت پیرودنې (G) د پیسو عرضه کولی شو په عینې وخت کې زیاته کړو لکه څنګه، چې مو مخکې ولیدل، چې د دولت پېرودنو کې زیاتوالی په یواځې ډول تولید او د ربحې نرخ لوړوي. په داسې حال کې، چې د پیسو په عرضه کې زیاتوالی یواځې تولید لوړوي او د ربحې په نرخ کې کموالی راولي. که چېرې دولت وغواړي، چې تولید پرته د ربحې د نرخ د تغیر څخه لوړ کړي کولی شي د دولت د پیرودلو د زیاتوالي او د پیسو د عرضې د زیاتوالي له امله دې هدف ته رسیدلی شي. د سیاست ترکیب په یوه معین وخت کې د مالي او پولي سیاستونو په ترکیب دلالت کوي. د سیاست ترکیب، چې د دولت د مصارفو کموالی او د پیسو د عرضې زیاتوالی په بر کې نیسي، د سرمایه ګذاریو د مصارفو په ګټه وي څکه، چې د پیسو د عرضې زیاتوالی او د دولت په پېرودنو کې کموالی د ربحې د نرخ د کموالي او د پلان شویو سرمایه ګذاریو د زیاتوالي سبب ګرځي. د دې برعکس یو بل سیاستي ترکیب، چې انبساطي مالي سیاست او پولي انقباضي سیاست په بر کې نیسي. د سیاست دغه ترکیب د دولت د مصارفو په ګټه خو د پلان شویو سرمایه ګذاریو په زیان دی. د دې سیاست اغیزه د دولت د مصارفو لوړوالی او د پیسو د عرضې کموالی دی. د پیسو محدوده عرضه او د دولت د مصارفو پراختیا د ربحې نرخ لوړوي او پلان شویو سرمایه ګذاریو ته کموالی وربښي. دا، چې کوم ترکیب د سیاست ښه ترکیب دی پدې اړه کومه قاعده وجود نه لري او د دې مسلې په اړه اقتصادپوهان موافقه نه لري. ځینې اقتصادپوهان د تولیداتو مختلف ترکیب ته ترجیح ورکوي یعنې په خصوصي مصارفو زیات تاکید کوي خو د دولت په مصارفو نسبتاً کم ترکیب لري او دا د دې مسایلو په اړه د شخص په موافقو پورې اړه لري(28: 49ــ52).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پیسو عرضې او تقاضا کنټرول لارې**

**د پولي سیاست لارې**

**د ازاد بازار سیاست**

د ازاد بازار عملیاتي سیاست عبارت له یو لړ تدابیرو او مداخلو څخه دی کوم، چې مرکزي بانک یې د ازاد بازار لپاره په کار اچوي او هغه اندازه د نغدو پیسو کوم، چې په لازمو وختونو کې د اقتصادي جریان لپاره ضروري وي، چې د یو دولت مرکزي بانک یې د قیمتي پاڼو، ذخیروي اسنادو او کریډټي اسنادو د خرڅلاو او اخستلو په صورت کې تنظیموي پدې معنی، چې مرکزي بانک د ارزښت لرونکو پاڼو د اخیستلو په صورت کې د پیسو مقدار په اقتصادي جریان کې زیات او د هغې د خرڅلاو په صورت کې د پیسو مقدار په اقتصادي جریان کې کموي او پدې ترتیب سره هغه اندازه د پیسو کومو ته، چې په اقتصادي جریان کې ضرورت وي، په دوران کې اچوي. کله چې مرکزي بانک د ارزښمنو پاڼو د اخیستلو اقدام وکړي نو پدې صورت کې د اخیستل شویو قیمتي پاڼو د ارزش معادل پیسې رسما په اقتصادي جریان کې اچوي او بلا فاصله د پیسو حجم په اقتصاد کې زیاتوالی مومي. د دی کمیتي تاثیر په تعقیب، چې د پیسو د مقدار اندازه په اقتصاد کې زیاتوالی مومي د ارزښتمنو پاڼو عرضه کوونکي هغه مقدار پیسې کومې، چې د هغې د خرڅلاو له درکه لاسته راوړي دوباره د دې پیسو ځینې یې په مستقیم ډول د خپلو مصارفو لپاره او ځینې نورې په بانکونو کې د جاري حسابونو او یا د پس انداز په شکل په دوران کې اچوي. هغه اندازه پیسې کومې، چې د پس انداز د حسابونو په اساس تر لاسه کیږي دوباره په جریان کې غورځي. بنا پر دې هغه قیمتي پاڼې کومې، چې د مرکزي بانک له خوا خریداري کیږي د پیسو د حجم اندازه په اقتصادي دوران کې اضافه کوي او د غه د پیسو توسعوي تاثیرات رامنځته کوي لکه: د پانگونې زیاتوالی ، د تولید د اندازې زیاتوالی، د استخدام د سطحې لوړوالی او بلاخره د حقیقي عاید زیاتولی په اقتصاد کې رامنځته کوي .

د پورتني حالت برعکس کله چې مرکزي بانک په ازاد بازار کې د ارزښتمنو پاڼو د خرڅلاو اقدام وکړي نو پدې صورت کې د پیسو د مقدار اندازه په اقتصاد کې کموي او یو محدودوونکی پولي تاثیر واردوي.

څرنگه، چې خلک د قیمتي اوراقو د اخیستنې په منظور هغه پیسې، چې دوی په بانکونو کې د پس انداز او یا امانت شکل ایښې، یو څه اندازه یې د پس انداز حسابونو څخه اخلي او په هغې باندې ارزښتمنو پاڼو پیرنه کوي، چې پدې سره دوه ډوله اغېز پرې باسي.

الف : د بانکونو کریډټي قوت محدودیږي

ب : په اقتصاد کې د پیسو اندازه کموالی مومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( هغه خلک، چې د بانکونو څخه خپل امانت ترلاسه کوي او په هغې باندې ارزښتمنې پاڼې خریداري کوي دلیل یې دا دی، چې د دولتي اسنادو مفاد نظر په بانک کې د امانت ایښودلو ته زیات وي بنا پر دې هغه خلک چې امانتي پیسو ته ضرورت لري د هغو په ذریعه د دولت قیمتي اسناد خریداري کوي. د پیسو د مقدار دغه زیاتوالی په خپل نوبت سره د اشیاوو د خریدارۍ اندازه کموي او په نتیجه کې د انفلاسیون ضد تاثیرات (ډیفلاسیون) په اقتصاد باندې واردوي، په دې وجه د ازاد بازار سیاست د پولي سیاست لپاره د یوې مهمې وسیلې په توګه په کار وړل کیږي او د دې سیاست څخه منظور د انفلاسیون په ضد مجادله کول دي(52: 51ــ52).

**د تنزیل مجدد سیاست**

مرکزي بانک کولی شي ارزښت لرونکو پاڼو د تنزیل د نرخ د لوړوالي او ټیټ والي  د منلو په صورت کې د پولي سیاست لازمه موارد د توسعوي پولي سیاست او یا محدودونکي پولي سیاست د عملي کېدو په صورت کې طرحه کړي. د توسعوي پولي سیاست په ذریعه کولی شي یو اقتصادي رونق او د محدوودونکي پولي سیاست په ذریعه د اقتصادي حالت استقرار عملي کړي. کله چې د توسعوي سیاست په اثر او یا د بانکونو لخوا د قرضو په زیاتوالي سره د پیسو حجم نظر په هغه مقدار کوم چې په حقیقي ډول په اقتصاد کې ورته ضرورت وي زیاتوالی ومومي نو پدې صورت کې اجناسو ته تقاضا زیاتوالی مومي او ورسره د اشیاؤ د قیمتونو سطحه لوړیږي او اقتصاد د انفلاسیون د تهدید لاندې راځي. پدې حالت کې مرکزي بانک کوشش کوي تر څو د ارزښتمنو پاڼو(پور پاڼو) د تنزیل نرخ د هغوی د خوښې مطابق لوړ کړي او د دې په ذریعه د ارزښتمنو پاڼو تنزیل او د پیسو د زیات مقدار د جریان مخنیوی په اقتصاد کې رامنځته کړي. دغه نوعه د محدوونکی پولي سیاست د دې سبب ګرځي، تر څو هغه قرضې چې د لنډې او اوږدې مودې لپاره ورکړل شوي وي د ربحې نرخ لوړ او په نتیجه کې په پولي او مالي بازارونو کې د نرخونو د لوړوالي سبب ګرځي. دربحې د لوړوالي په صورت کې د پیسو لپاره تقاضا کموالی مومي او په پولي او مالي بازارونو کې د سرمایه ګذاریو د کموالي سبب کیږي. د دې تدابیرو په اثر بالاخره په بازار کې تقاضاوې کموالی مومي او په نتیجه کې د قیمتونو سطحه د یوه استقرار په لوري میلان کوي.

که چیرې یوه ټولنه داسې ټولنه وي، چې په هغې کې د اسعارو د کنټرول لپاره یو منظم سیستم موجود نه وي نو پدې صورت کې د تنزیل د نرخ او د ربحی د نرخ لوړوالی د ملي سرمایې د فرار باعث ګرځي، په نتیجه کې د خارجي سرمایه ګذاریو جلب صورت نیسي او دې سره د سرمایه ګذاریو زیات مفاد د خارجي سرمایه ګذارانو په لاسونو کې غورځیږي. د پورته حالت برعکس که چېرته په اقتصاد کې د پیسو کموالی رامنځته شي او د دې ضرورت د رفعه کولو لپاره اضافي پیسو ته ضرورت وي نو پدې صورت کې مرکزي بانک داسې تدابیر پرمخ وړي، چې د هغو په ذریعه د تنزیل مجدد نرخ کموي. پدې وسیله مرکزي بانک یو توسعوي پولي سیاست پرمخ وړي او د هغې په ذریعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیسو د حجم اندازه لوړوي، چې دې سره مجموعي تقاضا د اشیاؤ لپاره زیاتیږي او د اقتصادي فعالیتونو د رونق سبب ګرځي(17: 524ـ535).

**د زیرمو سیاست**

د اوسني عصر د اقتصاد په ټولو پولي او بانکي سیستمونو کې معاملاتي بانکونه پدې مکلف دي ترڅو یوه اندازه د مجموعي اماناتو څخه، چې دوی یې په لاس راوړي د مرکزي بانک سره د امانت په ډول کېږدي او همدارنګه یو معین نسبت یا اندازه د مجموعي شتمنۍ، چې دوی یې په لاس کې لري د نغدي شتمنۍ په شکل د ځان سره وساتي.

په اوسني عصر کې د معاملاتي بانکونو قانوني امانات او نغده شتمنۍ د پولي سیاست دوه اهم او اساسي وسایل تشکیلوي، دهغوی زیاتوالی او کموالی یو ډول تاثیر په اقتصاد او د پیسو په ارزښت واردوي.

کومې زېرمې د پیسو سیاست د وسیلې په توګه کارول کیږي؟ په دې برخه کې موږ له دوه ډوله زېرمو څخه ګټه اخلو:

**قانوني زېرمو نسبت Resrve Ratio**

- د دې زېرمو مقدار مرکزي بانک د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ په نظر کې نیولو سره ټاکي ځېنې وختونه مرکزي بانک او اقتصادي واحدونه چې د دې زېرمو په شتون قانون مکلف کړي، ترمنځ ستونزې هم رامنځ ته کیږي.بانکونه تل دا فکر کوي، چې که د بانکونو قانوني زېرمې کمې وي په هماغه اندازه بانک ځواکمن وي، چې له فرصتي لګښتونو څخه ځان خلاص کړي او د بانک ګټه، چې د بانک اساسي موخه ده ترلاسه کړي.
- دلته دوه ډوله حرکتونه رامنځ ته کیږي

۱: په هغه صورت کې، چې دولت پوه شي، په بازار کې کافي اندازه پیسې شتون لري د قانوني زېرمو مقدار لوړ ټاکي.

۲: په هغه صورت کې، چې دولت پوه شي، په بازار کې ډېرو پیسو ته اړتیا ده، دولت له دې زېرمو ګټه پورته کوي او بازار ته یې وړاندې کوي(16: 1ــ32).

**نقده زېرمو نسبت (اختیاري زېرمې) Liquidity Ratio**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ته نقده زخاير هم واي. بانک کولی شي، چې په ټولو حالاتو کې خپل نقدوالی وساتي او د مشتري په وړاندې چمتو وي. مشتري د غوښتنې پر وخت د پیسو ورکړه د بانک نغدوالی او بانکي سیستم جوړوي، چې دا کار د بانک له خوا ډېر جدي تعقیبیږي. بانکونه په دې اړه د ډېرو پیسو ساتلو لپاره لیواله نه دي او تل هڅه کوي څو خپلې پیسې په کاروبار ولګوي او ډېره ګټه ترلاسه کړي.

۱: که دولت فکر وکړي، چې په بازار کې کافي اندازه پیسې شتون نه لري نو دلته دولت یا مرکزي بانک هڅه کوي، چې اختیاري زېرمې کمې او پیسې په بازار کې دود کړي.

۲: که دولت یا مرکزي بانک په دې عقیده وي، چې په بازار کې په کافي اندازه پیسې شتون لري په دې وخت کې د اختیاري زېرمو کنترول ډېر جدي ترسره کیږي .

۳: کله، چې مرکزي بانک په دې پوه شي، چې په بازار کې پیسې له اړتیا ډېرې شتون لري او باید اضافي پیسې له بازار څخه وباسي په دې حالت کې دولت هڅه کوي، چې په بانکونو کې د پیسو ډېر مقدار د اختیاري زېرمو په نامه د بانک په لاربښونه وساتي، چې په دې حالت کې د کریډیټونو اجرا نزولي حالت غوره کوي(53: 125_127).

**اسعاري سیاست**

د اسعاري سیاست په صورت کې د خارجي پیسو ارزش او هغه تدابیر، چې د پولي استقرار په لوري میلان کوي د بحث لاندې نیول کیږي. دخارجي پیسو ارزش دا مانا ورکوي، چې د داخلي یا کورنیو پیسو په ذریعه څومره اندازه خارجي اشیا او یا خارجي اسعار ترلاسه کېدای شي. که چېرې دیوه هیواد د تادیاتو په بېلانس کې کسر موجود وي پیسو ارزش د خارجي اسعارو په مقابل کې کمیږي، پدې صورت کې خارجي اسعارو ته تقاضا د دې لپاره زیاتوالی مومي ترڅو د تادیاتو د بېلانس کسر رفعه او په نتیجه کې د خارجي اسعارو ارزش د داخلي پیسو په مقابل کې لوړیږي. دخارجي اسعارو د ارزش لوړوالی له یوه طرفه د تقاضا د زیاتوالي او له بله پلوه د خارجي اسعارو ورود د یوه هیواد داخل ته صورت نیسی. د دې برعکس دتادیاتو د بېلانس د مازاد په صورت کې خارجي اسعاروته تقاضا کموالی مومي او په نتیجه کې د داخلي پیسو ارزښت د خارجي اسعارو په مقابل کې لوړیږي.

څرنګه چې اکثره مخ په ودې هیوادونه د تادیاتو د بېلانس د کسر سره مخ وي او دغه کسر د تجارت د بېلانس په نتیجه کې رامنځته کیږي. بنا پردې مخ په ودې هېوادونه کوشش کوي تر څو د تادیاتو دبېلانس کسر د خارجي اسعارو په واسطه جبیره نه کړي. خو څرنګه، چې دغه هېوادونه په کافي اندازه سره خارجي اسعار و نه لري نو بنا پر دې دوی مجبور دي تر څو د خپل ضرورت وړ خارجي اسعار د تقاضا د زیاتوالي په اساس ترلاسه کړي، پدې صورت کې د خارجي اسعارو ارزښت لوړیږي او د داخلي پیسو ارزښت کموالی مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پس پدې حالت کې مرکزي بانک دا وظيفه لري، چې د امکان تر کچې د داخلي پيسو ارزښت د خارجي اسعارو په مقابل کې تأمين کړي، يعنې خارجي اسعاروته د تقاضا په صورت کې د خارجي اسعارو عرضه زياته او يا دا، چې په خپله هغه تقاضا چې دوی ورته ضرورت لري د بازار نه کمه کړي. دا کار مرکزي بانک هله کولی شي، چې د خارجي اسعارو کافي ذخاير و لري بايد يادونه وکړو، هغه لارې، چې د انفلاسيون تر عنوان لاندې د انفلاسيون د کنټرول لپاره کارول کيږي د پيسو د عرضې د کنټرول لپاره هم کارول کېدای شي نو دلته يې تکرار نه ذکر کوو(17: 524_535).

## د پيسو په عرضه او حجم کې د بدلون لاملونه

### ۱: د بوديجې د کسر سياست او د اضافي پيسو د نشر په واسطه د هغه له منځه وړل

د يوه مملکت بوديجه هغه وخت د کسر سره مخامخ کيږي، چې په يوه معينه دوره کې د هغه مصارف له عوايدو څخه زيات شي. او هر وخت دغه کسر د اضافي پيسو د نشر په واسطه تمويل کيږي. طبعاً د پيسو حجم په اقتصاد کې اضافه کيږي او په دې ترتيب په ازاد بازار کې د ربحې د تنزيل نرخ سبب ګرځي.

د بوديجې د کسر سياست د مختلفو اهدفو لپاره صورت نيسي مثلاً هغه وخت، چې د خريد قدرت لوړوو د خريد قدرت لوړولو سياست په نوم هم ياديږي. په دې حالت کې دولت کوشش کوي، چې د دولتي کارکوونکو د خريد قدرت د دوی د حقوقو په لوړولو سره زيات کړي. په دې حالت کې مستقيماً د دولتي کارکوونکو د خريد قدرت لوړيږي نو توانيږي تر څو د خريد قدرت نور عاملين تر تاثير لاندې راولي. يا هم د سرمايګزارۍ د تمويل په خاطر يعنې د انکشافي پروژو، نظامي مصارفو، تعميراتي مصارفو د تمويل لپاره اضافي پيسې د بوديجې د کسر په دوران کې اچوي او له دې طريقه د پيسو حجم په اقتصاد کې لوړيږي، چې په نتيجه کې د سود نرخ او د توليد حجم هم متاثره کيږي.

هر کله، چې دولت خپل زيات شوي مصارف د ماليې او قرضونو له لارې تمويلوي په دې صورت کې د مصارفو زياتوالی د پيسو د حجم زياتوالي باعث نه ګرځي يعنې ماليه او قرضونه په اقتصاد کې د راکدو مبالغو څخه نه دي ، مګر که دولت ماليات او قرضونه د راکدو مبالغو په شکل ترلاسه کړي په دې صورت کې د پيسو جريان په اقتصاد کې لوړيږي په نتيجه کې د سود نرخ او د توليد اندازه په اقتصاد کې متاثره کيږي مګر په هغه صورت کې دولت اضافي مصارف د ماليې او قرضونو له لارې بغير د راکدو مبالغو په اقتصاد کې تامينولو په حالت کې څومره، چې د دولت مصارف لوړيږي په هماغه اندازه د خصوصي اقتصاد مصارف کميږي او په نتيجه کې په اقتصاد کې تعادل رامنځ ته کيږي . اما هر کله، چې دولت د بوديجې کسر د اضافي پيسو د نشر له لارې تمويل کړي لکه څرنګه، چې دلته اقتصاد کې پيسو عرضه زياتيږي نو تعادل له منځه ځي(19: 5_28).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کریډیټونو یا بانکي اعتباراتو زیاتوالی**

څرنګه، چې د یوه هېواد اعتبارات د بانکي سیاست له لارې زیاتوالی پیدا کوي نو هغه وخت، چې د بانک ورکړې پای ته ورسیږي دوی توانیږي، چې د کریډېټ د جاري حسابونو سهولوتونه مشتریانو ته خلاص کړي او زیات اعتبارات جاري حسابونو ته ورکړي. د اعتباراتو د سطحې په لوړوالي سره د اعتباري پیسو حجم زیاتوالی کوي او په نتیجه کې د مجموعي پیسو حجم زیاتوالی مومي او قیمتونه لوړیږي.

**د راکدو پیسو څخه د بیا استفاده کولو له طریقه د پیسو د حجم زیاتول**

هر کله، چې په یوه اقتصاد کې راکدې پیسې بیا په کار واچول شي په دې صورت کې د پیسو د دوران په تغیر سره د پیسو حجم زیاتیږي. د راکدو پیسو څخه بیا استفاده په رواني عواملو پورې تړلې ده یعنې، چې خلک د اینده وضعې په باره کې څه فکر لري. هر کله، چې خلک د قیمتونو د لوړوالي پیشبیني وکړي نو په دې صورت کې په راکدو او ذخیره شویو پیسو باندې شیان اخلي، چې له دې سره د پیسو دوران چټک او په نتیجه کې د پیسو حجم زیاتوالی کوي. برعکس که چېرې خلک په اینده کې د قیمتونو ټیټوالی پیشبیني وکړي په دې حالت کې شیان او اجناس خرڅوي او د هغې په عوض کې پیسې ترلاسه او ساتي، چې نوموړی عمل د پیسو دوران سست او د پیسو د حجم د کموالي باعث ګرځي.

**د تادیاتو د بېلانس کسر**

یو هیواد هغه مهال د تادیاتو د بېلانس د کسر سره مخامخ کیږي، چې خارج ته ورکړې د خارج څخه د راکړو په نسبت زیاتوالی وکړي په دې صورت کې نوموړی هیواد مجبور دی، چې د نورو هیوادونو یا بین المللي موسساتو لکه (IMF) څخه لنډ مهاله قرضونه ترلاسه کړي په دې حالت کې، چې سرمایه له خارج څخه ترلاسه شوي ده نو د تادیاتو د بیلانس کسر سره متناسب داخلي پیسې زیاتوالی کوي.

**د پیسو د حجم او سود نرخ تغیر**

په حقیقت کې هغه انګېزه، چې د سیالیت رجحان په وجود راوړي د پیسو تقاضا په یوه ټولنه کې معلوموي نو موږ ویلی شو، چې د پیسو د حجم او سیالیت د رجحان ترمنځ متقابله اړیکه وجود لري په دې معنی، چې څومره د پیسو حجم زیاتوالی کوي نو د نغدو پیسو د ساتلو میلان په جامعه کې کمزوری کیږي او هر څومره، چې د پیسو حجم کموالی وکړي په هماغه اندازه د نغدو پیسو د ساتلو میلان د خلکو ترمنځ زیاتیږي.

له بله طرفه ربحه د مصارفو په مقابل کې د جبران په حیث د پیسو د سیالیت له ګټو څخه ده پس د هغې نرخ د کینز په عقیده له یوه طرفه د افرادو په نظر د سیالیت په اهمیت پورې مربوط او له بله طرفه د پیسو د حجم په تغیر پورې تړلی دی. هرکله، چې د پیسو حجم زیات او د سود نرخ ټیټ شي په دې صورت کې د افرادو په وړاندې د راکړې ورکړې موجودي زیاتوالی مومي او د تصدیو په ساحه کې سرمایه ګزاري تشویق کیږي او تولید توسعه پیدا کوي، چې په نتیجه کې د هېواد ملي عاید زیاتوالی مومي(53: 150ـــ155 ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## انفلاسیون Inflation

انفلاسیون هغه پروسه ده، چې په هغې کې د قیمتونو عمومي سطحه په جاري ډول لوړیږي او په هغې سره په جاري ډول پیسې خپل ارزښت د لاسه ورکوي(7: 510).

او یا د (گارډنیر اکلي ) په وینا : انفلاسیون په عمومي سطحه یا په اوسط ډول د قیمتونو د اصرار کیدونکي لوړوالي څخه عبارت دی .

دلته د یادولو وړ خبره دا ده چې د عمومي سطحې نه مراد د ټولو اشیاو په قیمتونو کې او زیاتوالی نه دی کېدای شي د انفلاسیون په دوران کې هم د ځینو اجناسو په قیمتونو کې نسبي ثبات موجود وي او د ځو نورو قیمتونه ښکته روان وي او انفلاسیون دا مانا هم نه لري، چې د اجناسو قیمتونه دې په منظم ډول برابر پرمخ روان وي انفلاسیون په عمومي سطحه د قیمتونو دمسلسل پورته تگ څخه عبارت دی(16: 1ـــ32).

یا د (فریډمن) په وینا : انفلاسیون په قیمتونو کې د یوه منظم او دوامداره لوړېدو څخه عبارت دی.

### انفلاسیون مانا

ښایې تاسي لیدلي وي، چې دپیسو د ودې او انفلاسیون ترمنځ د اړیکې ټول شواهد، چې تر اوسه پرې بحث وشو یوازې هغو حالاتو ته گوري، چې په هغو کې د بیو کچه په دوامداره توگه په شدید رقم دزیاتوالي په حال کې ده،او دا هماغه د انفلاسیون تعریف دی، چې فریدمن او نور اقتصادپوهان یې په کار وړي،یعنې دهغو په عقیده انفلاسیون تل او په هر ځای کې یوه پولي پدیده ده.کله، چې تاسې د انفلاسیون نرخ په هکله له خپلو راډیوگانو څخه اورئ، دمثال په توگه د میاشتني انفلاسیون یو سلنه ده (په کال کې ۱۲٪) دا یوازې د دې مانا ورکوي، چې دبیو کچه په هغه میاشت کې یوې سلنې ته زیاتوالی موندلی دی.او دا کېدای شي موقتي وي یا دایمي خو که چېرې د انفلاسیون نرخ دیوې دوامداره مودې لپاره لوړ پاتې شي په همدې توگه فریدمن وایي، چې دبیو په کچه کې صعودي نوسانات یوه پولي پدیده ده،یوازې په هغه صورت کې، چې دا پروسه دوامداره وي.کله، چې انفلاسیون د گړندي او دوامداره زیاتوالي په توگه د بیو په کچه تعریف شي پدې صورت کې زیاتره پول پلوه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کینزي پلوه اقتصادپوهان، فریډمن له دې نظریې سره به موافق وي، چې کولی شو پیسې دانفلاسیون عامل وګڼو(30: 152).

**ډیفلاسیون (Deflation)**

ډیفلاسیون په ملي اقتصاد کې یو له هغو ستونزو څخه دی، چې امتعوي تولید او په بازار کې د محصولاتو او اقـتصادي اموالو او پـیسو د انـډول سره نېغ په نېغه اړیکي لري. ځومره، چې په ټولنه کې اقتصادي مناسبات ، د پیسو دوران او د امتعې د تولید پروسه پېچلې کیږي یا د هغو پر اړوند بـېلا بېلې پالیسۍ غوره کیـږي، د ډیـفـلاسیـون ستونزه منځـته راځي .

ډیفلاسیون د قیمت په عمومي سطحه کې یو ټیټوالی دی. باید یو لوستونکی په سطحي توګه فکر وکړي، چې ډیـفـلاسیون یوازې د انـفـلاسیون برعکس دی؛ داسې به ښکاري، خو په حقیقت کې انـفـلاسیون یو کاملاً بیل اقـتصادي حالت او ډیفلاسیون ځانګړی حالت دی؛نو ښه به وي، چې، د ډیفلاسیون په تعریف کې یوازې، داسې ونه وایو ، چې ډیفلاسیون د انفلاسیون بر عکس حالت دی بلکې پوره تعریف یې داسې دی:

ډیفلاسیون د قیمتـونو په عمومي سطحه کې د ټـیټـوالي څخه عبارت دی ، چې د پولي انـقباض په نوم هم یادیږي او دا هغه وخت پـیـښیـږي ، چې د عرضه شوو اجناسو او خداماتو دوران لاندې پـیـسو د حجم په پرتله زیات وي یا دا ، چې کله د راتـلونکې وېرې څخه او یا د هغې په هـکله د بې باورۍ له امله مستهلکـین خپل ارزښت کم کړي او د دوران چـټکـوالی کم شي. لنډه دا، چې ډیفلاسیون د مستهلکینو د کم مصرف په پایله کې د دوران د سرعت د کموالي څخه عبارت دی. د دې سره جوخت په ملي اقتصاد کې د ډیفلاسیون تـفاوت یا پولې انـقباض او تشوالی رامنځته کیږي، چې په ترتیب سره د هغو د موجوده قیمتونو سره د خدماتو او اموالو د جذب او د کامل استخدام د تامین لپاره په پام کې دي او د هغو پیسو تر منځ ، چې په رښتینې توګه د دولت او خصوصي موسسو او د ټـــولنې د افرادو په واسطه لګول کیـږي ، تـفاوت رامنځته کیـږي د هغې مقدار څخه کمې دي ، چې د کامل استـخدام د تامیـن لپاره لازمـې وي؛ نو، ځکه د موجوده لګښت او د هغې لګـښت تر منځ چې د کامل استـخـدام لـپاره باید شوي وای ،تـفاوت مـــوجـود دی. دغه تفاوت ته د دیـفـلاسیـون تـفاوت ویل کیـږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چې ، پورته وويل شول په ډيفلاسيون کې د پيسو زيات حجم له چلند څخه باسي او دومره اندازه په چلند کې پريږدي، چې پخوا د انفلاسيون څخه د امتعې دوران لپاره د نوي زيات توليد شوي او يا کم شوي جنس لپاره ورته ضرورت وي(8: 413).

**د ډيفلاسيون نور لاملونه**

۱.ماليه لوړول او هغه اندازه پيسې له دوران څخه باسي ، چې د ماليې له لارې د دولت بوديجې ته ليږدول کيږي.

۲.توليد او خداماتي پروسس لوړوي او په هغه اندازه پيسې چلند کې پريږدي، چې د نوموړو توليدي او خداماتي چارو لپاره لازمي ګڼل کيږي(18: 153ـ169).

۳.خپل صادرات زياتوي او واردات کموي. بيېلانس يې اکتيف کيږي او د اکتيف د بدلون لپاره خپلو ملي پيسو ته اړتيا پيدا کوي او د هغه تغير لپاره په هغه اندازه پيسې د انفلاسيون په وخت کې پريږدي او په غير انفلاسيون وخت کې نوې پيسې دهغې لپاره په کار اچوي(8: 413).

**نيوليفيکېشن**

کله، چې پيسې خپل ارزښت په يو نظام کې له لاسه ورکړي او خپل نقش په مستحکم او نيمه مستحکم ډول سرته ونه رسوي دولت د پيسو د استحکام له پاره مجبور دی ، چې په نيوليفيکېشن عمل لاس پورې کړي. چې په دې حالت کې دولت نوې پيسې نشروي او پخوانۍ پيسې ناچله او بې اعتباره اعلانوي.

په سرمايداري نظام کې د نيوليفيکېشن موضوع ډېره ليدل کيږي. نيوليفيکېشن د دولت په تصميم سره منځته راځي او زړې پيسې د نويو پيسو سره تر يوې ټاکلې مودې پورې بدليدای شي او له هغه وروسته زړې پيسې له چلنده وځي او ټول کارګران نوې پيسې د خپل کار په مقابل کې لاسته راوړي.

**د علتونو په اساس انفلاسيون ډولونه**

**۱- تقاضا کش کوونکی انفلاسيون(Demand Pull Inflation):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې دعرضې لوړېدل دتقاضا سره مساوي نه وي نو دغه په عموم کې دقيمتونو د لوړېدو سبب ګرځي، چې دغه حالت ته تقاضا کش کوونکی انفلاسيون وايي. يا په ساده ډول دغه انفلاسيون هغه وخت رامنځته کېږي کله چې تقاضا دشيانو او خدماتو دعرضې څخه لوړه شي. او دا ډول انفلاسيون ته دمجموعي تقاضا انفلاسيون هم وايي. موثره تقاضا شيانو ته دلاندې فکتورونو په اساس رامينځ ته کېږي.دپيسو په عرضه کې زياتوالی،دحکومت لخوا شيانو ته دتقاضا زياتېدل، دتوليد د مختلفو فکتورونو عوايدو زياتيدل،يا په لنډ ډول بې حده زياته دپيسو عرضه دانفلاسيون حالت منځ ته راوړي.تقاضا کش کوونکی انفلاسيون د وسايلو کمښت او کارګرانو په کمښت سره هم مشخص کېدای شي.

دمجموعي تقاضا دپورته کېدو وسايل: دپولي علم پوهان لکه فريډمن او د هغې پيروان پدې عقيده دي چې انفلاسيون هميشه او په هر ځای کې يوه پولي پېښه ده، د دوی په عقيده کله چې مرکزي بانک په يوه اقتصاد کې د تقاضا څخه زياتې پيسې چاپ او نشر کړی نوځينې شيانو ته تقاضا لکه سون توکو ته زياتيږي.دپولي اقتصاد کورنۍ عقيده لري کله چې د پيسو عرضه د هغو پيسو څخه علاوه، چې خلک اوتصدی يې دځان سره ساتي زياتې شي نو ورسره په مجموعي تقاضا کې هم زياتوالی رامنځ ته کوي او دغه اجناسو او خدماتو ته دافراطي تقاضا د مصارفو دزياتوالي سبب ګرځي او دغه د مصارفو زياتوالي قيمتونه پورته خوا ته کشوي، چې په لاندې ډول يې ښودلی شو.

J.M.Keynes او د هغه همکاران تقاضا کش کوونکی انفلاسيون يا دتقاضا په واسطه رامنځ ته شوی انفلاسيون يو پولي واقعه نه بولي د دوی په وينا کېدای شي يو يا د يوه څخه ډېر فکتورونه دمجموعي تقاضا زياتوالي ته لار هواره کړي دمثال په ډول داخلي مستهلکين کېدای شي زيات اجناس او خدمات خريداري کړي سبب يې په شتمنۍ کې ډېروالی همدارنګه کاروبارونه دزياتې ګټې او سود د نرخ دکموالي په توقع زياته پانګه اچونه کوي،دخارجي تقاضا زياتوالی د داخلي اجناسو ته مجموعي تقاضا په واسطه رامنځ ته شوی(9: 65).

**۲-دمصارفو څخه راټوکيدونکی انفلاسيون(Cost Push Inflation):**

دغه انفلاسيون هغه وخت رامنځته کېږي،کله، چې زياتيدونکي مصارف دتوليداتو عمومي قيمتونو څخه لوړ وي دمصارفو څخه راټوکيدونکی انفلاسيون همدارنګه هغه وخت منځته راځي کله چې ديو هيواد اقتصاد استخدام اخري حالت ته رسيدلی وي، پدې حالت کې بيا هم قيمتونه پورته کېږي،سره ددې چې دشيانو عرضه ډېره هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه د دغه انفلاسیون په نتیجه کې دمزد مصارف لوړېږي اودهغې سره موازي تولیدات زیاتوالی نه مومي. او د ورداتي اجناسو قیمتونه هم لوړېږي، په خارج کې دپیسو بي اعتباره کیدل ددې انفلاسیون دلاملونو څخه ګڼل کېږي. دغه ډول انفلاسیون له لاندې لاملونو څخه رامنځ ته کیږي: په مزد کې زیاتوالی، د ګټې زیاتوالی، د خامو موادو قیمتونو کې زیاتوالی، مالیاتو لوړ والی او د وارداتي اجناسو قیمتونو لوړوالی.

**۳-د ګټې څخه را پیداشوی انفلاسیون(Profit Induced Inflation):**

دغه انفلاسیون په حقیقت کې(cost push inflation) په کټګوری کې راتلی شي کله، چې تولید کوونکي او خرڅوونکي د انحصار په وجه ګټه لوړوي.کیدای شي(profit induced inflation) سبب وګرځي.

**۴- بودجوي انفلاسیون(Budgetary Inflation):** اکثره وختونه کله چې د حکومت په بودجه کې کسر رامنځته شي.پدې معنی چې عواید یې نظر مصارفو ته کم شي نو پدې صورت کې حکومت د بودجې د کسر پوره کولو لپاره نوي بانک نوټونه چاپوي،چې پدې سره تقاضا زیاتیږي، او د انفلاسیون د رامنځته کیدو سبب ګرځي. په دې ځای کې بدون لدې چې تولید د شیانو زیات شي،بلکې په عمومي ډول قیمتونه پورته کیږي

**۵- پولي انفلاسیون(Monetary Inflation):**Milton Firedman په دې عقیده دی، چې دا ډول انفلاسیون یوازې د پیسو د تېزې عرضې په وجه راپیدا کېږي، بل هیڅ علت نه لري.

**٦- څو اړخیز انفلاسیون(Multi Casual Inflation):** دغه انفلاسیون یو تعداد علتونه لري.چې مهم یې دادي.دپیسو په عرضه کې زیاتوالی، بي حده زیاته د مزد تقاضا، بي حده زیاته د شیانو تقاضا،د شیانو کمښت او داسې نور. یو علت د انفلاسیون نه شي کیدای چې په بل کال به هم د دې علت په وجه انفلاسیون منځ ته راغلی وي. څرنګه چې انفلاسیون مختلف علتونه لري نو ددې لپاره مختلف النوع پالیسیو ته ضرورت دی، چې دانفلاسیون سره وربانديې مبارزه وکړی شي(9: 65).

**د شدت له مخې انفلاسیون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- حفیف انفلاسیون(Mild Inflation):** که په یوه هیواد کې په قیمتونو کې په ورو ورو ډول اضافوالی راشي،نو دیته حفیف انفلاسیون وایي.

**۵-شدید انفلاسیون:** کله چې په یو هیواد کې په ډیر سرعت سره په قیمتونو کې اضافه والی راشي نودیته شدید انفلاسیون ویل کېږي.چې دغه انفلاسیون دجنګ اونورو غیرو مترقبه پیښو څخه وروسته رامینځته کېږي.چې ددغه انفلاسیون په نتیجه کې عاید او پانګه اچونه کمېږي،چې پدې صورت کې خلک دخپل ملک په پولي واحد اعتبار نه کوي. احتکار او تور بازار وده کوي د ټاکلي عاید خاوندان سخت متاثره کېږي،د دولت په ویش کې بې عدالتي خپلې لوړې کچې ته رسېږي.همدارنګه د مزدورانو او ملکانو ترمنځ هم جنجالونه زیاتیږي.

**استخدام په وجه انفلاسیون(On the Basis of Employment)**

**۱-نیمګړی انفلاسیون(Partial Inflation):**J.M.Keynes دوینا مطابق دغه ډول انفلاسیون هغه وخت منځ ته راځي،چې د شیانو تولید مصارف زیاتېږي. او د هغې په نتیجه کې عمومي قیمتونه یو څه لوړېږي. داستخدام ته دنه رسیدلی حالت په نتیجه کې د پیسو عرضه هم د نیمګړی انفلاسیون سبب کېږي.

**۲-بشپړ انفلاسیون(Full Inflation):**کله چې دیو هیواد اقتصاد کامل استخدام حالت ته رسیږي پدې وخت کې بشپړ انفلاسیون منځ ته راځي. د پیسو په عرضه کې زیاتوالی، چې داستخدام کچې څخه زیات وي او د بل طرفه تولید مقدار د هماغه په تناسب نه زیاتیږي. پدې حالت کې هم full inflation منځ ته راځي. او همدارنګه دغه انفلاسیون ته حقیقي انفلاسیون هم وایې. دانفلاسیون د علتونو په برخه کې د معاصرې نړی ټول اقتصادپوهان یو د بل سره موافق نه دي، خو بیا هم دوه عمومي توضیحات ورکړل شوي دي(9: 66).

**د ګرندیتوب په اساس انفلاسیون**

**۱-ښویدونکی(Creeping Inflation)**

دا هغه انفلاسیون دی، چې په هغه کې د نرخونو عمومي کچه په یوه موده کې په ډېر ورو ډول پورته ځي،په دا ډول حالت کې د نرخونو سطحه (۲٪) په کال کې پورته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲-مزل کوونکی انفلاسیون(Walking Inflation)**

دا ډول انفلاسیون یو ډول معلوم زیاتوالی دی په انفلاسیون کې او د خپوړې وهوونکي انفلاسیون سره پرتله کیدای شي پدې حالت کې قیمتونه په کال کې(۵٪) لوړیږي.

**۳- منډه وهوونکی انفلاسیون(Running Inflation)**

په دغه ډول انفلاسیون کې د قیمتونو کچه په کلني ډول له 8 څخه تر لسو فیصدو پورې رسیږي.

**۴- ټوپ وهونکی انفلاسیون Galloping Inflation or Hyper Inflation**

دغه انفلاسیون کې قیمتونه د انفلاسیون لوړ حالت دی(Keynes) دغه انفلاسیون د inflation اخري مرحله بللې ده.دغه مرحله د انفلاسیون هغه وخت شروع کیږي، چې د استخدام کچه اخري حالت ته ورسیږي په دې انفلاسیون کې قیمتونه په لنډه موده کې لوړیږي. ډیر تیز(ټوپ وهوونکی انفلاسیون کله، چې پورته کیدل دنرخ دمزد اوقیمتونو دلوړیدو سبب شي دا بیا هم نرخونه پورته کیدل بلل کیږي. دنرخونو تېز پورته کیدل هیڅکله ښه نه دي داسې حالت (۱۹۲۰-۱۹۲۳)م پورې په جرمني کې پیښ شوی او پدې وروستیو کې بیا په چین او هنګري کې هم پیښ شو. پدې سره تولید او حتی ټولنیز نظام ګډوډیږي،کله، چې پیسې ارزښت دلاسه ورکوي پدې حالت کې دټولنې دلویو ګروپونو شتمنۍ له منځه ځي.پوروړی پخپلو پور ورکوونکو پسې لګیا کیږي تر څو په ټیټو پیسو د دوی قرضونه ور پرې کړي . هغه چا، چې په ګټه پیسې اخیستې وي په پیسو کې ګټه کوي لیکن پدې سره دوی نرخونه نور هم پورته بیایي، دجنوب یو کس هم confederate inflation په وخت کې ویلې وو، چې موږ به مغازوته پیسې په جیبونو کې وړلې او غذایي مواد به مو په ټوکرنو کې راوړل خو اوس موږ پیسې په ټوکرنو کې وړو او غذایي مواد په جیبونو کې راوړو.هر شی ګران دی خو پیسې ارزانې دي نرخونه نامعلوم او تولیدات غیرمنظم دي یو خوراک، چې دموسیقۍ د کنسرټ سره برابر وو.اوس هغه شل چنده قیمت شویدی بیزنس اکثره وخت په ټپه ولاړ حالت کې دی ځکه، چې هیڅوک نه پوهیږي، چې څومره پیسې واخلي موږ به د جنګ نه وروسته قرار شو ځینې دا وایي. په نتیجه کې هر سړی ښه بولي، چې خپل شیان وساتي(احتکار) وکړي او کوشش کوي، چې د بدو(ټیټو) پیسو نه ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص کړي چې داحالت به پيسي دجريان څخه اوباسي.او حالت به دې ته وروګرځي، چې خلک شيان په شيانو واخلي نه په پيسو، چې ورسره نور نا راحتي هم رامنځته کېږي.

خوشبختانه،د لوړ انفلاسيون حالتونه ډېر کم دي او يوازې ځو حالتونه دي خو د جنګ نه وروسته حالت او دانقلابونو په وخت جلا خبره ده.په اوس وخت کې د نرخونو دوامداره مخ پورته خوځېدنه ويره رامينځته کوي.سوالونه راپورته کېږي چې آيا دا دوامداره مخ پورته خوځيدنه دنرخونو، به تېز انفلاسيون رامنځته کړي؟ د دې لپاره هيڅ معلوم ځواب نشته. دنن ورځې اکثره اقتصادپوهان انديښمن وي کله، چې د نرخونو دوامداره مخ پورته کيدنه رامنځ ته کېږي د جنګ نه وروسته لومړيو کالونو کې د نرخو تېز پورته کيدو يو شمير اقتصادپوهان ناهيلې تياره او نامعلوم حالت ته کش کړل. دکار يا مزدورى او نرخو جګيدو څخه پرته موږ هيڅکله بشپړ روزګار ته نه شو رسيدى.د نرخونو سمولو بوره کولى شي، چې بشپړ روزګار رامينځته کړي او نرخونه آرام وساتي او دا دواړه سره سم کړي(9: 64).

**د انفلاسيون نور ډولونه**

**وارداتي انفلا سيون**

دغه انفلاسيون هغه انفلاسيون دى، چې د وارداتو تابع وي کله، چې هم د وارداتو په قيمتونو کې زياتوالى راځي نو په واردوونکي هيواد کې د انفلاسيون د راتلو او يا زياتيدو لامل ګرځي دغه انفلا سيون هغه وخت په يوه هيواد کې وجود نيسي چې کله يو هيواد تر زياتې اندازې په بل هيواد تکيه ولري، چې کله په صادروونکي هيواد کې انفلاسيون رامنځ ته کيږي نو په واردوونکي هيواد کې هم انفلاسيون رامنځ ته کيږي، چې دغه انفلاسيون په اصل کې د يوه هيواد څخه بل هيواد ته ليږدول کيږي او يو ښه مثال يې افغانستان دى .

**بنستيزو پروژو له امله انفلاسيون**

په لنډ ډول داسې ويلى شو، چې دغه انفلاسيون هغه مهال رامنځ ته کيږي، چې کله هم يو هيواد په پراخ ډول د بنستيزې پروژې په کار واچوي، چې په پايله کې د خلکو عوايد ډېر په سرعت سره لوړيږي او هم مهاله د دې سره بيې هم لوړ والى پيدا کوي.

**د توليداتو له امله انفلاسيون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې معنی، چې کله د تولید د عواملو قیمتونه لوړ شي نو د اجناسو قیمتو نه هم ورسره لوړیږي دلته درې لاملونه په نښه کوو ۱ : مزد او معاش ۲: د سرمایې ګټه ۳: پیش بیني. دغه درې واړه عوامل د شرایطو مطابق کولی شي، چې د انفلا سیون د رامنځ ته کیدو لامل شي(35: 58_59).

**د ورکړو له امله انفلاسیون**

د پرداخت (ورکړو ) له لارې انفلاسیون، چې کله خلک زیات تادایات وکړي دلته د خلکو مصارف زیاتیږي همدارنګه دلته زیاتې پیسې د خلکو او دولت له خوا بازار ته عرضه کیږي، د پیسو ارزښت کمیږي او د انفلاسیون د رامنځ ته کیدو لامل کرځي .

**د کنټرول د درجې په اساس انفلاسیون**

دا ډول انفلاسیون په دوه ډوله دی.

**۱- خلاص انفلاسیون(open inflation)**

پدې انفلاسیون کې د قیمتونو دلوړیدو سطحه دکنټرول څخه ووځي.Milton Friedman دغه انفلاسیون پدې ډول تشریح کوي،دا انفلاسیون هغه پروسه ده، چې په هغې کې قیمتونه پرېښودل کېږي، چې لوړشي دحکومتی ارګانونو او دې ته ورته ادارو له خوا نه کنټرول کېږي.

**۲- بند انفلاسیون(suppressed inflation)**

پدې ډول انفلاسیون کې حکومت هڅه کوي، چې قیمتونه کنټرول کړي. حکومت نه پرېږدي، چې قیمتونه لوړ شي،د دې په نتیجه کې بعضې مشکل رامینځته کېږي.لکه: اداري فساد، احتکار،تور مارکیټ،او داسې نورو هغه انفلاسیون ډول، چې دغه علایم ولري(9: 64 _ 65).

## د انفلاسیون د کنټرول لارې چارې

**۱-مالي اقدام(Fiscal Measure)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالي اقدام د کینزي انقلاب څخه وروسته اهمیت پیدا کړ،موږ باید په دې پوه شو، چې مالي پالیسي د حکومت د لګښتونو او مالیاتو سره سروکار لري.د دې لپاره، چې انفلاسیون کنټرول کړی شي،نو حکومت باید غیرې انکشافي لګښتونه کم کړي. لکه دانتقالاتو مصارف،او په ضمن کې خبر ښیګڼې تادیات باید کم کړی شي، چې دا په خپله د لګښتونو کمښت او د تقاضا کموالې سبب ګرځي، په خاصو مالیاتو کې زیاتوالی د عمومي مالیاتو دبهتروالي باعث ګرځي، چې د هغې په نتیجه کې یو شمیر شیان له خلکو حکومت ته انتقال مومې او په دې سره استهلاکي مصارف کموالی کوي، خو ډېر سخت پابند مالي اقدامات به د قیمتونو د ډېر تېزوالې مخنیوی وکړي،په هغه صورت کې، چې حکومت غیرې تولیدي مخارج کم کړي.

### ۲-پولي اقدام(Monetary Measures)

اکثره وخت پولي پالیسي دمرکزي بانک سره تړلې وي، نو ټول هغه اقدامات، چې د مرکزي بانک لخوا پورته کېږي د پیسو د عرضې لپاره پولي پالیسي بلل کېږي. هر کله چې مرکزي بانک د سود نرخ زیات کړي، چې په دې صورت کې قرض ورکول ګرانیږي، چې دغه عمل دقرض ورکړې دکمښت سبب ګرځي او ملي عواید تر تاثیرلاندې راولي او دقیمتونو د کچې دټیټوالې باعث کېږي.که چېرې مرکزي بانک ارزښتمنې پاڼې خرڅوي،او دتجارتي بانکونو د زېرمو کچه زیاتوي،او یا تجارتي بانکونو ته کریډیټ ورکوي په دې صورت کې دپیسو عرضه په یو هیواد کې کموالی پیدا کوي. سره له دې بیا هم باید د قیمتونو په کچه او عمومي تقاضا باندې کنټرول صورت ونیسي.

### ۳-ساختماني اقدام(Structural Measure)

دغه ټول اقدامات به یا خو مجموعي عرضه زیاته کړي یا به عمومي تقاضا کمه کړي،او په لاندې ډول ښودل کېږي.

### ۱-په زراعتي او صنعتي لګښتونو کې زیاتوالی

کوم بدلون، چې د یوه هیواد په زراعتي سکتور کې راځي دهغې په وجه به د نوموړي هیواد تولیدات د غنمو، وریجو او پنبې د زیاتوالې لامل وګرځي. هر کله، چې د یوه هیواد زراعت د میکانیزه کولو په مورد ګامونه پورته کړی شي، یعنې ښه تخمونه استعمال شي او همدارنګه د زراعت د مارکېټنګ مشکلات حل شي،او همدارنګه د صنعتي کیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ښه ستراتيژي په کار واچول شي، د کورنيو صنايعو څخه حمايت وکړی شي،که چېرې پانګه اچوونکي داسې ماشين ګيري هيواد ته راوړي، چې د خامو موادو اسانتياوې له منځه يوسي، په داسې حالتونو کې دصنعتې توليداتو ډېرښت منځته راځي کله، چې زراعتي او صنعتي توليداتو کې زياتوالی راځي هغه اضافه شوې تقاضا به بدون له دې، چې قيمتونه پورته شي پوره شوې وي.

**۲- د طبعي منابعو لټون (Exploration of Mineral Resources)**

تېل، ګاز، اوسپنه، ډبروسکاره، سره او سپين زر، زېړ، او داسې نور د يو هيواد غټ کانونه بلل کېږي،د ګازو او اوسپنې دپيدا کېدو هڅه وشي، بدون له دې، چې قيمتونه پورته شي اضافي تقاضا پوره شي.

**۳- د نفوسو کنټرول(Population Control)**

د کتاب مولف په وينا بايد د يوه هيواد نفوس کنټرول شي ځکه، چې نفوسو زياتوالی د خلکو او هيواد لپاره بار ګڼل کېږي. د هغو لارو څخه ګټه پورته شي، چې د نفوسو دکنټرول په برخه کې عامې وي اوکله، چې نفوس کنټرول شي،پدې صورت کې شيانو او خدماتو ته تقاضا کميږي او د قيمتونو د جګوالې مخه نيول کېږي.

**۴- د قيمتونو کنټرول(Price Control)**

په ازادو اقتصادي مارکيټونو کې خلک نه غواړي، چې قيمتونه کنټرول شي، چې په دې سره ازاد سيستم د ډېرو بې نظميو په وجه ډېر تاوان مومي. په دې صورت کې د تور مارکيټ او قاچاق مسله هم منځ ته راځي. د دې لپاره، چې د قيمتونو د جګوالې مخه ونيول شي،ښه دا ده، چې قيمتونه کنټرول کړی شي.

**۵- دمزدونو او مؤلديت ترمنځ ارتباط (Link Between Productivity And Wages)**

دمزدونو چټک زياتوالی ممکن د زياتو کارګرانو دزياتېدو باعث وګرځي.ضرور ده، چې يو څه ارتباط د کارګر په توليد او دهغه په مزد کې ممکن شي.

**٦- د ژوند په حالت کې تغير راوستل(Change in Life Style)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله، چې په یو هیواد کې ساده توب عام شي د ژوند سطحه په داسې طریقه تغیر و مومي، چې خلک د زیات اصراف څخه ډډه وکړي، یعنې په ټوله معنی، هغه څه د پس انداز د ودې باعث ګرځي، عچې ملي شي او همدارنګه هغه لګښتونه، چې په ودونو او اجتماعي رواجونو کې کېږي کنټرول شي، واردول او استعمال د قاچاقي شیانو بند شي، دغه اقدامات به عمومي تقاضا کمه کړي او انفلاسیون به د کنټرول لاندې راوستل شي.

## د قیمتونو د کنټرول یا تنظیم اسلامي لارې

### لمړی ډول لارې

**۱» د سود منع کول**

په اوسني اقتصادي سیستم کې سود د انفلاسیون یوه اهمه وجه ده کله، چې صنعتکار په لوړ سود باندې قرض واخلي د دې قرض سره له سوده د واپس کولو په منظور د خپلو تولیداتو نرخ او چتوي څرنګه، چې په اسلام کې سود حرام دی او بې سوده اسلامي بانکونه شته، چې تولیدونکي ته د مضاربت او مشارکت په بنیاد پانګه ورکړي نو ځکه د انفلاسیون د دغه عامل مخنیوی کیږي .

**۲»د تحسیني اجناسو د زیاتې پېرودنې منع کول**

کله، چې د شیانو عرضه له تقاضا څخه زیاته شي انفلاسیون منځته راځي اسلام وسط دین دی او بې فایدې مصارف (اصراف) په کې منع دی. نو دولت ته په کار دي، هغه اجناس، چې انسان اړتیا ورته نه لري د انفلاسیون له امله منع کړي تر څو انفلاسیون راکم کړی شي.

**۳» د احتکار او انحصار له منځه وړل**

احتکار یا د صنعتکار او یا د تو لیدونکو لخوا د نرخ د او چتولو په خاطر د ضروري شیانو پټول تر څوهمدا اجناس په لوړ نرخ خرڅ کړي دا د اسلام له نظره جواز نه لری همدا راز اسلام دا هم منع کوي، چې تولیدونکي دنرخ لوړولو لپاره (cartel) اتفاق یا اتحاد وکړي، چې ټول به په یوه معین لوړ قیمت شیان پلوري حکومت د دې مخنیوی باید وکړي تر څو قیمتونه بېرته خپل حالت ته راشي.

### دویم ډول لارې

**الف» پولي لار :** په دې طریقه کې انفلاسیون د پیسو د عرضې په کمونې سره کنټرولیږي او دا په یو د لاندې شکلونو سره کیدی شي .

**۱» د قرض حسنه د نسبت کمول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي اقتصادي سیستم کې بانک بې سوده دی او بانک د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنیاد ولاړ دی او له خلکو څخه پیسې د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنا اخلي او نورو مراجعینو ته یې هم په همدغه بنیاد د مشارکت مضاربت په ډول ورکوي .

د دې تر څنګ بانک د خپلې بودیجې یوه برخه د قرض حسنه په ډول مراجعینوته ورکوي یعنې بې له سوده قرض د انفلاسیون په وخت کې شاید د صنعتکارو لخوا د قرض حسنه غوښتنه زیاته شي ځکه دوی غواړي ډېره پانګونه وکړي او شی په لوړه بیه خرڅ کړي پدې وخت کې مرکزي بانک کولی شي نورو بانکونو ته و وایي، چې د قرض حسنه نسبت کم کړي او پدې سره په معاشره کې د پیسو د عرضې اندازه کمېدای شي او د قیمتونو او یا د انفلاسیون د زیاتیدو مخنیوی کیږي .

**۲»د ګټې د اندازې بد لون**

د ګټې د اندازې بدلول هغه ګټې ته وایي، چې د بانک او د بانک مشتري تر منځ ویشل کیږي د دغې ګټې د نسبت بدلون هم د پیسو په عرضه او تقاضا باندې اثر کوي یعنې کله، چې په ګټه کې د بانک برخه کمه وي خلک په بانک کې ډېرې پیسې اچوي او بانک د صنعت کارو لپاره ډېره پانګه برابرولی شي او که چېرې په ګټه کې د بانک برخه د پیسو ورکونکي د برخې په نسبت زیاته وي نو بیا ددې خلاف عمل کیږي .

**۳» د قانوني زېرمو نسبت ( Reserve Ratio)**

دا په اسلامي بانک کې د نورو بانکونو په شان کیږي یعنې هر بانک قانوناً باید د خپلو ټولو پیسو څخه یوه معینه فیصدي مرکزي بانک ته د امانت په ډول وسپاري مرکزي بانک د انفلاسیون په وخت کې دغه د پشتوانې نسبت زیاتولی شي، چې په د ې سره د بانکونو سره کمې پیسې پاتې کیږي او ډېرې پیسې نشي عرضه کولی او پدې سره انفلاسیون کمېدای شي.

**۴»د ازاد مارکیټ عملیه (Open Market Operation)**

په معاصر بانکي سیستم کې مرکزي بانک ((په آزاد مارکیټ کې د دولتي اسنادو( Government Securities) د پلورلو او اخیستلو په وسیله عرضه کنټرولولی شي )) مطلب دا، چې حکومت خلکو ته د یو ټاکلي وخت لپاره اسناد ورکوي او په بدل کې پیسې ترې راټولوي او کله، چې وخت پوره شي بیا خلک دغه اسناد بېرته حکومت ته ورکوي او حکومت د دوی پیسې سره له ګټې بېرته دوی ته سپاري اسلامي مرکزي بانک هم دغه شان دولتي اسناد ( Government Securities) او سکوک (اسلامي بانډ ) مارکېټ ته وړاندې کوي خو دغه ټول به له سود څخه پاک وي په دې ډول هم انفلاسیون کنټرولیدی شي.

**۵» نقده زخاېرو نسبت (اختیاري زېرمې) Liquidity Ratio**

په اسلامي بانکونو کې هم د نورو بانکونو په شان هر بانک مکلف دی، چې د ورسپارل شویو پیسو یو نسبت په نقده توګه له ځان سره وساتي تر څو د مراجعینو ورځنۍ تقاضا پوره کړی شي، بعضې وخت بانکونه له ځانه سره کمې نقدې پیسې ساتي او کله داسې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیښیږي، چې بانک ټولې پیسې په کار اچولې وي او د مراجعینو کوم، چې له بانک څخه خپلې پیسې وباسي د دوی لپاره د بانک سره هېڅ روپۍ نه وي نو بانک په خپله د دې لپاره قرض اخلي د انفلاسیون په وخت کې مرکزي بانک د نقدو پیسو د ذخیرې نسبت زیاتولی شي او په دې سره د پیسو عرضه کمیږي ځکه بانکونه مجبوریږي، چې ډېرې پیسې له ځانه سره وساتي او ډېره قرضه نشي ورکولی او دا د انفلاسیون په کموالي کې مرسته کوي(47: 52_54).

## اووم څپرکی

## بـازار (Market)

بازار د اقتصاد په علم کې د خورا اساسي مفاهیمو څخه شمېرل کېږي، بازار په اقتصادي معنی او مفهوم په هر رنګه اقتصادي تبادلې دلالت کوي، په کلي توګه د بازار لپاره درې ځانګړني په پام کې نیول کېږي.

الف: بازار هغه ځای دی، چې پیرودونکي او پلورنکي یو له بل سره په آزادانه توګه مخامخ کېږي او پلور او پېر یې ترمنځ کېږي.

ب: بازار هغه ځای دی، چې په هغه کې د شیانو او خدماتو تبادله صورت نیسي.

ج: که چېرې په مخابراتي او تیلېفوني بڼه هم معاملې سرته رسېږي؛ بازار منځ ته راځي، ځکه پدې ځای کې بازار په ځانګړې ډول د یو خاص ځای او مکان معنی نلري؛ او بازار په خلاصه ډول پدې توګه تعریفوو:

د پیرودنکو او پلورنکو اړیکې د توکو او خدماتو د تبادلې په منظور په یوه ټاکلې وخت او ځای کې عبارت له بازار څخه دي، د همدې تعریف پر بنسټ یو څو ټکو ته پام کوو او هغه دا، چې کله بازار منځ ته راځي لازمه ده، چې پیرودونکي او پلورنکي د توکو او خدماتو د تبادلې توان او اراده باید ولري. همدارنګه که چېرې پیرودنکي شتون ولري، مګر دوی د تبادلې انګېزه ونه لري بازار هم نه غواړي، چې توکي ولري (پدې معنی، چې بازار ته څوک توکي نه عرضه کوي).

په همدې ترتیب سره که چېرې پلورونکي د خرڅلاو اراده ونه لري، چې توکي خرڅ کړي، نو د توکو اخیستل صورت نه نیسي، بیا هم د لته بازار منځته نه راځي.

دربیم دا، چې په پخوا وختونو کې بازار هغه ځای ته ویل کېده، چې هلته فقط یو څو بندې (تړلې) مغازې موجودې وې؛ نو د بازار اطلاق ورته کېده، اما نن ورځ، چې د دومره ارتباطي وسایلو په لرلو سره لکه تیلیفون، کمپیوټر، انټرنټ، فکس او...، چې شتون لري؛ نو بیا هم بازارونه ډېر زیات پراخه شوي دي. د بېلګې په ډول پخوا وختونو کې به، چې په ښارونو کې د بازار څخه خبرې اترې کېدلې؛ نو همدغه تصور د سړي په ذهن کې راتلو، اما نن ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زياتي توجو او د خلکو د چټکو ارتباطاتو يا اړيکو په اساس سره د يو هېواد نه، بلکې د نړۍ هېوادونو يو بازار منځ ته راوړی دی. په اوسني وخت کې که چېرې  د سرو زرو قېمت يا بيه په نړيواله کچه لوړه او گرانه شي، په ډېرې چټکۍ سره د سرو زرو قېمت په ايران يا نورو هېوادونو کې هم لوړېږي دا په دې معنی، چې بازارونه د پخوا په پرتله اوس ډېر زيات  لوی او پراخه شوي دي(9: 17ـ18).

له يوه لوري کولی شو بازارونه د توکو او توليد د عواملو په توګه طبقه بندي کړو، له بل لوري هر دغه ډول بازار د آزاد رقابت د بازار، نيمګړی رقابت او انحصاري رقابت په توګه تقسيم کړو.

د بازارونو يو بل ډول وېش هم شونی دی پدې ترڅ کې بازارونه د هغو شيانو د ډولونو يا د توليد د هغو عواملو له مخې طبقه بندي کېږي، چې هلته يې عرضه او تقاضا کېږي. د مثال په توګه: د توکو او شيانو بازار کولی شو د سبزيجاتو، قهوې او داسې نورو بازارونو باندې و ويشو. د طبقه بندۍ يو مهم ډول په بازار کې د شرکت کوونکو د تعداد يعنې په بازار کې  دتقاضا کوونکو او عرضه کوونکو دتحقق له مخې صورت نيسي. د غه تقسيم بندي د (چمبرلين ) او (ستاکلبرګ) د نظرياتو زېږنده ده. هغوی د بازارونو تعداد د کامل او غير کامل بازار په حالت کې د ونډه اخيستونکو له نظره تر مطالعې لاندې نيولي دي(8: 104).

**مالي بازارونه**

مالي بازارونه د هغو بازارونو څخه عبارت دي چېرته، چې مالي وسايل سره تبادله کېږي. يا چېرته ، چې د مالي وسايلو د خريد او فروش معاملې صورت نيسي. د غه بازار داسې شرايط رامنځ ته کوي ترڅو خلک وکولی شي خپل قېمتي پانې په هغه کې خرڅې کړي او يا نور اشخاص په اسانۍ سره وکولای شي، چې د مالي بازارونو له طريقه خپله سرمايه په قېمتي پاڼو کې سرمايه ګذاري کړي(2: 12).

**نقدي بازار Spot Market**

د هغه بازار څخه عبارت دی چېرته، چې په چټکۍ سره د مالي وسايلو(مالي دارايي) خريد او فروش ترسره کيږي.او په دوه برخو ويشل شوي دي، چې د سرمايې بازار او بل د پيسو بازار څخه عبارت دي(2: 16).

1. **د پيسو بازار:** د پيسو بازار په ۱۸۰۰ زېږديز کال کې رامنځ ته شو خو په ۱۹۷۰ کې زيات مشهور او د اقتصادي کړنو لپاره اړين و بلل شو  د دې لامل دا ؤ، چې په هغه وخت کې د سود نرخ خپل اوج ته ورسيد او زيات لوړ شو او دا بيا د دې لامل شو، چې زيات بانکونه خپل کار پربږدي او له مارکيټ څخه و وځي. دا ټولې او دې ته ورته پېښې، چې رامنځ ته کيږي نو د دې لپاره يوازې پيسې مهمې دي؟ دې پوښتنې ته موږ د نه ځواب وايو ځکه دلته د دغو پيسو د سمون او ټيکاؤ لپاره د پيسو بازار ته اړتيا ده، چې څنګه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شي دغه پیسې په خپلو ځایونو کې خوندي کړي، په دې مانا، چې کوم وخت ځومره او چا ته د پیسو اړتیا ده او څنګه باید و وېشل شي او داسې نور(5: 273).

د پیسو بازار د هغه بازار څخه عبارت دی، چې په هغه کې هغه مالي وسایل، چې د هغه د بلوغ یا دوباره خرید یا تادیې موده یو کال یا د یوه کال څخه د صدور یا نشر په وخت کې کمه وي معامله کېږي. لکه: د شرکتونو تجارتي پاڼې او د خزانې بیلونه(4: 254).

2. **دسرمایې بازار:** د سرمایې بازار د هغه بازار څخه عبارت دی، چې په هغه کې اوږد مهاله مالي وسایل، چې د شرکتونو او دولتونو لخوا صادر شوي وي اخیستل او خرځول کېږي. پدې بازار کې د مالي وسایلو د بلوغ موده یا د پای ته رسیدو موده د یو کال څخه زیاته او د نامحدود وخت اړوند بیه لرونکې پاڼې پکې په خرید او فروش رسېږي. لکه اوږد مهاله قرض پاڼې او اسهام(4: 33).

د سرمایې د بازار ډولونه

د سرمایې بازار په دوؤ برخو وېشل شوی دی، چې هر یو یې په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسو.

1. ابتدایي (لومړی لاس) بازارونه: ابتدایي بازارونه د هغو بازارنو څخه عبارت دي چېرته، چې د لومړي ځل لپاره نشر شوي مالي وسایل اخیستل او خرڅول کېږي. یا په بل عبارت د اول لاس بازار له هغه بازار څخه عبارت دی، چې په هغه کې بیه لرونکې پاڼې ( اسهام او قرض پاڼې ) په لومړیو خریدارانو پلورل کېږي. د بیه لرونکو پاڼو اول لاس بازار هغه ځای دی، چې شرکت کولی شي، خپلې مالي شتمنۍ په لوړو قیمت لرونکو مالي منابعو بدلې کړي(7: 101).

**د اول لاس بازار دوه ښېلې ځانګړتیاوې لري**

1. چې په هغه کې د سرمایې تشکیل صورت نیسي.
2. اسهام او قرض پاڼې، چې نشر شوي وي په همدې بازار کې د اول ځل لپاره وړاندې کېږي. وروسته راکړه ورکړه د همدغو پاڼو په دوهم لاس بازارونو کې ترسره کېږي. د سرمایې په بازار کې په سلګونو داسې بانکونه شته، چې سرمایه ګذاري کوي ترڅو اول لاس بازارونه په ښه ډول نقش ولوبوي، دغه مالي مؤسسې له شرکتونو سره کومک کوي، ترڅو په آسانه ډول هغه نشر شوې پاڼې په بازار کې په پلور ورسوي.

د ((سرمایه ګذار بانک)) کلمه یوه بې معنی کلمه یا نوم دی، ځکه همدغه بانکونه پانګه اچوونکې نه دي ( مالي شتمنۍ او سرمایې نه اخلي ) او نه هم بانک له خلکو ورسپارل شوې پاڼې قبلوي مګر کوم خدمتونه، چې وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي زيات اهميت لري. ترديې، چې لوی سرمايه ګذار خلک همدغو مؤسسو ته رجوع کوي، ترڅو هغه اسناد او بيه لرونکې پاڼې، چې په اول لاس بازار کې په خرڅلاو رسېدلې دي په اړوند يې لازم اطلاعات لاس ته راوړي(46: 168_170).

2. **دوهمي يا ثانوي بازارونه(Secondary Market):** د هغه بازارونو څخه عبارت دي چېرته، چې د دوهم لاس يا د پخوانيو پلورل شويو مالي وسايلو پلورل او پېرودل ترسره کېږي.

يا د هغه ځای څخه عبارت دی، چې هلته مالي وسايل د پانګه اچوونکو ترمنځ دوباره خرڅيږي. دوهم لاس بازارونه د سرمايې له هغه بازارونو څخه عبارت دي، چې په هغه کې هغه قيمتي پاڼې، چې مخکې نشر شوي دي او دوهم لاس په کې اخيستل او خرڅول کېږي. شرکتونه په دې بازارونو کې د خپلې نوې سرمايې تأمين نه کوي. دوهم لاس بازارونه د بورس د جوړښت په شکل او د بورس څخه په خارج شکل کې وجود لري(46: 188).

**د دوهم لاس بازارونو رول**

دوهم لاس بازارونه د شرکتونو د مالي لګښت په پوره کولو کې هم رول لري، ځکه دغه بازارونه لاندي وظايف اجراء کوي:

1. دوهم لاس بازارونه د سرمايه ګذارانو لپاره دا امکان برابروي، چې کوم اسهام يې په اول لاس بازار کې اخيستي وي وپلوري. او دغه امتياز کولی شي، چې د سرمايه ګذارانو لپاره د ضرورت وړ سرمايه برابره کړي، تر څو نوي اسهام واخلي، او دې ته مجبور نشي، تر څو اخيستل شوې بيه لرونکې پاڼې د تاريخ تر پوره کېدو پورې وساتي.
2. دوهم لاس بازار د هغو بيه لرونکو پاڼو قيمت ټاکي کوم، چې په اول لاس بازارکې پلورل کېږي. دمثال په توګه: د نويو منل شويو اسهامو قيمت د اوسني اسهامو تر قيمت په ډېره لږه اندازه کم ټاکي کوم، چې د شرکت له خوا پلورل کېږي. د نويو قرض پاڼو قيمت کوم، چې نشرکېږي بايد د مخکې نشر شويو قرض پاڼو سره معادل وي.
3. څرنګه، چې سرمايه ګذاران کولی شي دوهم لاس بازار ته مراجعه وکړي او د خپلو بيه لرونکو پاڼو په اخيستلو او خرڅولو لاس پورې کړي او خپلې پيسې د مالي واسطو په لاس ورنکړي. دوهم لاس بازار دوی ته دغه ميدان خلاصوي تر څو اخيستنه او خرڅونه وکړي، بغير له کوم شرط او کوم تأکيد څخه او دغه امتياز د بيه لرونکو پاڼو غوښتنه هم زياتوي.
4. د شرکت د قرض پاڼو او اسهامو قيمت په دوهم لاس بازارونوکې، مستقيماً د هماغه شرکت د سهم لرونکو په سرمايه تأثير لري، همدا شان نور ځيني عوامل شته، چې په سرمايه باندې تأثير لري (شرکت په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنترول نه لري) که شرکت وغواړي، چې د بيه لرونکو پاڼو او اسهامو قېمت لوړکړي؛ نو په خپلو هغو بيه لرونکو پاڼو، چې په بازار کې نشر شوي وي تأثير لرلی شي.

زيات شمېر د سرمايه گذارۍ بانکونه، چې په اول لاس بازار کې فعاليت کوي په دوهم لاس بازار کې هم د کارکوونکو، د بازار جوړوونکو او منځ ته راوړونکو په ډول د بيه لرونکو پاڼو راکړې ورکړې ته زياتوالی ورکولی شي، دوی په ښه توگه د اخيستونکو او خرڅوونکو نظريات اخيستلی شي ځکه دوی د دې کار لپاره مناسبه تجربه لري. کولی شي کمېسون جوړ او خپلې سرمايې ته زياتوالی ورکړي، په دې اساس ويلی شو په دوهم لاس بازارونوکې ډېر شرکتونه دوه طرفه رول لوبوي ( هم کار منځ ته راوړونکي او هم معامله کوونکي)(46: 188ـ189).

**د بيه لرونکو پاڼو بورس بازار**

د امريکا په متحده ايالاتو کې 13 محلي بورسونه کارکوي، چې مهم يې د نيويارک بورس، امريکا بورس او د منځني لويديځ بورسونه دي.

تقريباً 90 فيصده د بورس معاملات په دغو درېو بازارونو کې صورت نيسي. معامله کوونکي او کار منځ ته راوړونکي معمولاً د شرکتونو منځ ته راوړونکي دي، چې خپله د بورس غړي بلل کېږي. په دغو بازارونو کې يوازې اسهام معامله کېږي، چې بازارته د وړلو غوښتنه يې شوې وي. هر بورس خپل خاص شرايط او مقررات لري. په مجموعي ډول هر شرکت، چې اول ځل رامنځ ته کېږي، او خپل اسهام، قرض او قېمتي پاڼې په يوه بورس کې په پلور رسوي، بايد کم ترکم د دغو لازمو شرايطو ( د لومړيتوب حق، لويوالي او سود لاس ته راوړنې ) لرونکی وي، بايد د سهامي شرکت له ډلې څخه وي او د زياتو اسهامو لرونکی وي.

له بورس څخه معمولاً د يوه مرکزي تشکيل شوي او منظم بازار د نوم په حيث يادونه کېږي، او دا په دوه دليله:

1. ټول هغه معاملات، چې د بيه لرونکو پاڼو اړوند تر سره کېږي دا د بورس په تالار کې کېږي او د همدغه بورس د کارکوونکو له خوا سرته رسېږي، چې د بورس غړي دي.
2. کار منځ ته راوړونکي کوشش کوي، تر څو ارايه شوې قېمتي پاڼې په بورس کې په ټيټ ترين قېمت سره د اخيستونکو لپاره واخلي او هم هڅه کوي ترڅو په لوړ ترين قېمت سره بيه لرونکې پاڼې وپلوري.

د مقرراتو له وضع کولو څخه په بورس کې هدف دا دی، چې اخيستونکي ډاډه شي، چې په کم قېمت سره اسهام اخيستلای شي او هم اخيستونکي ډاډ حاصل کړي، چې دغه پاڼې بيا په لوړ قېمت سره خرڅولی شي(46: 190).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له بورس څخه خارج بازارونه (Over-The Counter Markets(OTC**

له بورس څخه خارج بازارونه په امريکا کې د زيات شمېر دلالانو او کار منځ ته راوړونکو څخه جوړشوي دي، چې قرض پاڼې يا اسهام، چې بورس کې منل شوي نه وي د څان يا اخيستونکي لپاره اخلي او يا يې خرڅوي. د دوی ترمنځ ارتباط، د تيليفون او فاکس له لارې دی

. په دغه بازار کې قېمت د مذاکرې يا چنو وهلو په واسطه معلومېږي.

د (د قېمتي پاڼو د معاملې کولو ملي ټولنې) مقررات په دوی باندې حاکم دي، که څه هم دغه معامله کوونکي او دلالان په جغرافيايي لحاظ په مختلفو ښارونو کې تيت دي، خو بيا هم مجبور دي ترڅو خپلې معاملې په يوه خاص ډول سره ترسره کړي او په يوه بې مصرفه ترمينال کې يې ثبت کړي.

له 90% فيصده څخه زياتې د شرکتونو قرض پاڼې يا د دولت بيه لرونکې پاڼې، چې نشر شوې وي په دې ډول بازارونوکې معامله کېږي. پخوا د بيمې شرکتونو اسهام په دې ډول بازارونو کې اخيستل او خرڅول، مګر په اوس وخت کې د دا ډول مؤسسو زيات اسهام د بورس په تالار کې معامله کېږي(3: 327).

د نويو بازارونو منځ ته راتګ، چې کولی شو هغو ته ((دربيم لاس)) يا ((څلورم لاس)) بازار ووايو. له دې کبله رامنځ ته شوي دي، چې هغه ناقبولې شوې بيه لرونکې پاڼې، چې په بورس تالار، اول او دوهم لاس بازار کې ونه پلورل شي نو بيا دې ډول بازارونو ته راوړل کېږي.

د دربيم لاس بازار د پرمختګ دليل دا دی، چې د بورس د بازار په نسبت د دغه کمېسون نرخ ټاکنه کمه ده او مؤسسې د همدغې ګټې په خاطر دې ډول (دربيم لاس ) بازار ته رجوع کوي. څلورم بازار بيا په دې خبره دلالت کوي، چې لوی سرمايه ګذاران د دې په ځای، چې کارکوونکو ته توجو وکړي او له هغو څخه کار واخلي په خپلو کې سره راکړه ورکړه کوي. دا ډول بازارونه د الکترونيکي ارتباطاتو څخه برخمن دي. دغه بازارونه هم يوې لويې اندازې سرمايې سره راکړه ورکړه کوي. دغه مؤسسې له يو بل سره د تيليفون يا فاکس له لارې ارتباط نه نيسي.کله، چې وغواړي معامله وکړي د اسهامو نوعه او اندازه اعلانوي، که بله مؤسسه دغه معاملې ته حاضر شي نو له مذاکرې او چنې وهلو وروسته، چې کله توافق ته ورسېږي، نو معامله سره کولی شي. د بازار جوړوونکو او شرکتونو ځينې کړې، چې د سرمايه ګذارانو ترمنځ ارتباط پيداکوي، نو د دې کار له امله خپل کلنی حق العمل له اخيستونکو څخه ترلاسه کولی شي او ځينې د دې حق العمل سربېره د کمېسون څخه هم څه ترلاسه کوي. دغه څلورم لاس بازار په تېزۍ سره پراختيا پيدا کوي او د معاملاتو پراخه پيمانه يکې پېرل او پلورل کېږي(46: 190_192)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بورس او د هغه د ډولونو تعریف**

بورس: بورس کلمه له فرانسوي ژبې څخه اخیستل شوې ده او له هغه بازار څخه عبارت دی، چې راکړه ورکړه ( خصوصاً د بیه لرونکو پاڼو) پکې صورت نیسي.

د منځنیو پیړیو په اواخرو کې کله، چې تجارت په چټکۍ سره پرمختګ وکړ؛ نو تجاران به په یوه خاص ځای کې راټولېدل او دغه معامله ( د بیه لرونکو پاڼو راکړه ورکړه ) به یې کوله.

د پنځلسمې پیړۍ یعنې 1450م کلونو په شاوخوا کې د بلژیک هیواد تجاران او دوکانداران د بورژ په ښار کې، چې د بلژیک په لویدیځ کې موقعیت لري سره راټولېدل. د دې سیمې نوم تربوئیرس وو، چې له ډېرو راکړو ورکړو وروسته د دې ځای نوم په بورس سره مشهور شو.

ورو، ورو خلک د بورژ له بازار څخه د آنورس بازار ته راغلل، چې بالاخره د بورس تالار په همدغه ښار کې تأسیس شو.

په اروپا کې د زیات پرمختګ او تجارت د انکشاف له وجې، د بورس بازار لمنې پراخه شوې، آن محلي ځایو ته هم وغځېدې، چې په اوس وخت کې بورس په مجموعي ډول په لاندې دریو ډولونو فعالیت کوي.

1. **د اسعارو بورس**
2. **د کالیو یا توکو بورس**
3. **د بیه لرونکو پاڼو بورس**

لومړی به د اسعارو او کالیو په بورسونو باندې خبرې وکړو او د هغه وروسته به د قیمتي پاڼو په بورسونه باندې خبرې وکړو. د اسعارو بورس د مختلفو هېوادو د پیسو اخیستلو او خرڅولو او د هغوی د معامله کولو لپاره ځانګړی شوی دی، چې له هغې جملې څخه مختلف هېوادونه د خپلو پیسو د تبادلې لپاره (د نورو هېوادونو په پیسو باندې) همدغه ډول بورسونو ته مراجعه کوي. په دې ډول بازارونو کې نورې معاملې هم ترسره کېدای شي البته، چې په پیسو پورې مربوطې وي یا له پیسو سره ارتباط ولري. د توکو یا کالیو بورس د خرید او فروش دایمي ځایونه دي، چې هر ډول توکي پکې خرڅېږي. او سربېره په جامو خام مواد، غنم، اوربشې، اوړه، غلې دانې، قهوه، ککو، اوسپنه، سرپ، مس، قلعي، د ډېرو سکاره، نفت، پنبه، چرم، وړی او کېمیاوي مواد پکې شامل دي. په دې ډول بازارونو کې پورتنې توکي په مکمل ډول وجود نه لري یوازې د هغوی نمونې وي. د دې بورسونو ښه مثالونه د نیویارک د سرو زرو بورس، د لندن د سپینو زرو بورس او د استرالیا د پنبې بورس(42: 129ــ130).

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د سرمايې د بازار او پيسو د بازار ترمنځ فرق

د سرمايې بازار د اوږد مهاله پورونو بازار دی. د پانګې مارکېټ وسايل د اسهامو، قرض اسنادو او ګروی څخه عبارت دي. د سرمايې بازار وسايل په اسانۍ سره په نقدو پيسو نشي تبديليدای يعنې د سرمايې بازار وسايل دکم سياليت لرونکي دي. د سرمايې بازار مهمې اداري د بيمې شرکتونه، د پانګې اچونې بانکونه، د اسعارو مارکېټ او داسې نور دي. اوږد مهاله پورونه ته تقاضا خصوصي سکتور، توليدي تصدي او دولت لري. سوداګريز بانکونه د سرمايې په بازار کې مرکزي رول نلري بلکې په يوه برخه کې يې مهم رول لري.

**د پيسو بازار:** دپيسو بازار د لنډ مهاله پورونو بازار دی. د پيسو د مارکيټ وسايل ليکلې وعدې، د تبادلې بيلونه، د خزانې بيلونه، او د اړيکو پورنو څخه عبارت دي. د پيسو د مارکېټ وسايل د لوړ سياليت قابليت لري يعنې په اسانۍ سره په نقدو پيسو بدليدای شي. لنډ مهاله پورونو ته دولتي صنعتونه، سوداګريزې مؤسسې، تاجران، د تبادلې بازار تقاضا لري. د پيسو د مارکيت مهمې اداري لکه، سوداګريز بانکونه، بيل مارکېټ او مرکزي بانک څخه عبارت دي. د پيسو بازار تر زياتې اندازې د سوداګريزو بانکونو تر شاوخوا را څرخي(9: 117).

### د سرمايې بازار ځانګړتياوې

- د سرمايې بازار مالي وسايل د سود د ببرته ورکړې نامعلوم نرخ لري.
- د سرمايې د بازار مالي وسايل د نقدېدو کم قابليت لري.
- د سرمايې د بازار مالي وسايل د پای ته رسيدو منځ مهاله او اوږد مهاله موده ( زيات له يوه کال حتی نامحدود وخت ) په بر کې نيسي.
- د سرمايې د بازار مالي وسايل زيات خطر ( نوسان او بيرته ورکړې انحراف ) لري(42: 262).

### د سرمايې بازار اهميت

د سرمايې بازار د يو هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره د اوږد مهاله پورونو په برابرولو کې ډېر مهم رول لوبوي، چې د دې اهميت د لاندې وظايفو څخه څرګنديږي.

1. د پانګې برابرول ( Mobilization of Equity capital)

د قېمتي پاڼو يا د اسهامو مارکيټونه (ابتدايي او دوهمي ) د کمپنيو د اوږد مهاله پانګې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، په کومو ځايونو کې، چې داسې منظم مارکيټونه موجود نه وي؛ نو د اسهامو تبادله په نغدو باندې د ډېرو ستونزو سره مخامخ وي د ونډو مارکيټونه دغه اسانتياوې مهيا کوي.

2. د سپما کوونکو او پور اخيستونکو سره همکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرمايي بازار د مالي منابعو د سپما کوونکو او پور اخيستونکو ترمنځ يو ارتباط رامنځته کوي، زيات سازمانونه لکه د بيمې شرکتونه، د سپما شرکتونه او داسې نور، چې د خلکو څخه د دوی پس انداز ترلاسه کوي او د هېواد په پانګه اچونه کې د پرمختګ لپاره ځينو سازمانونو لپاره پانګه برابروي نو پدې اساس د سپما کوونکو او پانګه اچوونکو ترمنځ د اړيکو په پيدا کولو کې مهم رول لوبوي.

### 3. د سپما انګېزه يا تشويق

که چېرې په يو هېواد کې د سرمايې بازار په منظم ډول تنظيم شوی وي خلک د پيسو سپما ته تشويق کېږي. که چېرې په هېواد کې د بانکوالۍ سيستم او نورې غيرې بانکې مالي اداري وجود ونلري، چې د خلکو پس انداز ترلاسه کړي نو پدې صورت کې به دغه پس انداز په غير مؤلد شيانو لکه سره زر، ځمکه او جواهراتو په پيرودلو کې مصرف شي.

### 4. متوازنه اقتصادي وده

د سرمايې بازار پس انداز او نورې مالي منابع د هغو سيمو څخه، چې خلک يې ښه اقتصادي وضيعت ولري وروسته پاتې سيمو ته د تجارت او صنعت د پرختيا لپاره انتقالوي، نو په همدې سبب د سرمايې بازار په يوه هېواد کې د متوازنې ودې په رامنځته کولو کې مرسته کوي.

### 5. د بهرنيو پانګه اچوونکو توجو را جلبول

د سرمايي يو مؤثر بازار د بهرنيو کمپنيو توجو د کمپنۍ په اسهامو کې د پانګې اچونې لپاره راجلبوي او بهرنۍ پانګه اچونه د يو هېواد په مؤلديت او شتمنتوب کې مرسته کوي.

### 6. د قېمتي پاڼو په قېمتونو کې ثبات

د سرمايي يو ښه او تنظيم شوی بازار د اسهامو په قېمتونو کې ثبات راولي او د هغوی په ارزښت کې د نوساناتو په کمولو کې مرسته کوي(11: 116ـ117).

## اتم څپرکی

## په افغانستان کې د پسو پيدايښت

افغانستان د پيسو د تاريخي بهير په باب يو روايت دا دی، چې د لوی احمد شا بابا( ۱۱۳۵ـ ۱۱۸٦ هـ ق) د واکمنـــۍ ( ۱۱٦۰ـ ۱۱۸٦ هـ ق) په دوره کې د غيران ( قران) سکه د چرم د پاسه د سروزرو په اوبو وهل شوې وه، خـــو څرنګه، چې داسې کوم چرمي نوټ لا، لاس ته نه دی راغلی ، نو ځکه يې د يوه کـــــمزوري احتمال په توګه يادولی شو. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلې خوا د دې روایت په ملاتړ کې په پښتنو کې یوه اصطلاح اوس هم شته او هغه دا، چې کوم پوروړی د چا پیسې نه ورکوي نو د پور خاوند ورته وایې: «پر پوست به دې سکه ووهم او خپلـــــې پیسې به درنه بود کړم» او هم کله، چې پوروړی د ناداری پر وخت ځواب ورکوي: « د ځان په پوست خو سکه نشم درته وهلی» نو ښایې، چې دا اصـــطلاح هم د پوستي پیسو له هغه دود نه منځ ته راغلې وي، چې د پوستي پیسو په باب له چینې او نورو فولکلوري کیـــسو څخه را پاتې دي او یا به په خپله په هېواد کې کوم وخت پوستي پیسې موجودې وې او دا اصـــطلاح به هغه وخت رامنځته ته شوې وي او په فولکلور کې به راپاتې شوې وي(27: 32).

د کتاب لیکوال لیککي، چې په افغانستان کې هم لکه د نورې نړۍ په ډول تر ډېره په شیانو او توکو راکړې ورکړې تر سره کېدې ،په دې حساب په افغانستان کې سکې د نن څخه ١٦٦٨ کاله ترمخه وهل شوې دي .خو بیاهم تر ۴۰ کاله وړاندې پورې چې زه په کلي کې اوسیدم یولړ کلیوالي راکړې ورکړې د توکو په تبادلو سره سرته رسیدې ،د کلي مخکې به یوه چا بادرنګ یا بانجان راوړي وو ، ویل به یې بانجان او بادرنګ په غنم دوه توله او د جوارو سره سر په سر ورکوو،که به دغنم راوړل نو د همغه سره به دوه ځله بادرنګ تلل کیدل او که به دې جوار ورکړل نو یوه خوا به جوار وو بله تله کې به بادرنګ وو او سره به یې برابر کړل او راکړې ورکړې به صورت نیوه. زموږ د پلرونو تر وخته د نیکونو د لاس د سرو او سپینو روپۍ، چې د انجریو په نوم موجودې وې رارسیدلي دي .خو د هېواد په کچه د پیسو د پیدایښت تاریخ د افغانستان د اوسني نوم د جوړېدو نه تر مخه دی او دا دی د ځینو یادونه یې په دوه پړاوونو کې ستاسې مخې ته ږدو لومړی د سیکو د وهلو او یا د نوټونو د چاپ سره د دغو پیسو د وهونکي او چاپونکي نوم او کال یادوو، لیکن د هر پاچا په اړه معلومات زموږ موضوع ډېره اوږدوي ،راځۍ د لاتفصیل او معلوماتو لپاره تاریخي کتابونو ته مراجعه وکړو او دلته یواځې د نوم ،تاریخ او یا په ځینو لنډو اړینو معلوماتو باندې بسنه وکړو. د کاغذي پیسو په اړه حبیب الله رفیع صاحب په پښتو او دري کتابونه لیکلي، چې د بانک نوټونو انځورونه او د هر انځور د لیکنو تفصیل پکې شتون لري، لوستونکي هغې ته د لا ډیرو تفصیلاتو لپاره مراجعه کولی شي(26: 6).

### په افغانستان کې د سکو وهلو مخینه

سکه یا سکې د فلزاتو څخه جوړو شویو هغو پلنو شویو ټوټو ته ویل کیږي، چې د اقتصادي ژوند د اسانتیا او سوداګریزو راکړو ورکړو په موخه د یوه دولت له خوا په معلومو ارزښتونو او قیمتونو د یوه ټاکلي وزن سره وهل کیږي او د ځانګړي نښان لرونکي وي، پخوانۍ سکې د سروزرو، سپینو زرو او مسو څخه وهل کېدې، اوس هم د سکو وهل شتون لري، چې د کاغذي پیسو سره تر څنګ د وړو تبادلو په موخه جوړیږي، چې په اوسنیو سکو کې د نیکل د فلز ترکیب زیات لیدل کیږي، او دپیسو د وهلو کار په ډېر منظم شکل د کارخانو په ماشین الاتو کې سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسيږي. په دې ليکنه کې هڅه کوو چې د افغانستان د زړو سکو يادونه وکړو، داچې کله او چا وهلي دي، د اسلام تر مخه او د اسلام د راتلو وروسته، په لاندې ډول ترې يادونه کوو(34: 34ــ35).

**د اسلام څخه د مخه د افغانستان وهل شوې سکې**

کېداره يا کندهارا په (۳٦۷م) کال کې سکه ووهله، د (۳۵۰م) څخه تر(۴۸۴م) کال پورې کېداريانو يا قيدار، چې کوشاني شهزادګان و له کابله تر کشميره يې د هفتليانو د ظهور په وخت کې حکومت کولو، د کېداريانو پلازمينه لومړۍ په کاپيسا او بيا په پېښورکې وه، په کنشکي دورو کې په سيکو باندې د هېواد د مشهورو ارباب انواع ښودل شوي وُ، د کوشانيانو ژبې د تخاري ژبې هم تو پير کولو او ختنی بلل کېده، په سيکو دغه ژبه ليکل شوې او په ځينو سېکو د يوناني ژبې تقليد هم شوی دی، خو خرابه شوې او لوستل يې ډېر ستونزمن دي. د مير زکې(ګردېز) سپړل شوې سيکې، د تپه مرنجان(کابل)، د بګرام د عاجې سپړل شوې ګانې او په کاپيسا کې د( قول نادر) د معبدونوڅخه سپړل شوي اثار او د شترک او شمشېر غار د معبدونو څخه، د مجسمو سره يو ځای په لاس راغلې سکې د اسلام څخه مخکې د ميلادي پيړيو د کوشاني دورې د سکو څخه دي. د لومړي کانشکا طلايي سکې،چې د کوشاني مقتدر شاهنشاه انځور پرې جوړشوی دی، د سکې په يوه مخ يې د کوشاني او باختري ژبې ليکنه شوې او په بل مخ يې د بودا انځور ليکل شوی دی. د کو شانيانو په وخت کې د افغانستان تجارت پوره پراخه وه، د چين، هند او ايران ټرانزيټ يعنې د وربښمو تجارتي لار د افغانستان په لاس کې وه. دا، چې د افغانستان په کا پيسا ولايت کې هغه نقشه شوي لوښي ميندل شوي دي، چې دمديتراني د سمندر په غاړو پورې اړه لري، او د عاجو هغه صندوقچه، چې د هندوستان د جواهرو په ساتلو پورې يې اړه لرله او په چين پورې تړلي لوښي په هغې کې پيداشويدي، دا د افغانستان د پراخ نړيوال تجارت ګواهي ور کوي. د افغانستان د دغه وخت د سيکو جوړښت د سروزرو، سپينوزرو او دسرو ډوله معدنونو څخه وُ. با يد و ويل شي، چې هغه (۲۵۰) داني سکې؛ چې د دويمې او دريمې ميلادي پېړۍ د کوشانيانو په واکمنۍ پورې تړاو لري، د ( ۱۳۹۱ ه ل) کال د ميزان مياشتې په (۲۸) تاريخ، د بريتانيا حکومت له خوا د افغانستان حکومت ته سپارل شويدي، او دا سکې د (۱۹۹۱م) څخه تر (۲۰۰۱ م) کال پورې د افغانستان څخه د طالبانو او مجاهدينو د واکمنيو په وخت کې په غلا په نورو هېوادونو باندې پلورل شوې وې(34: 35ــ39).

**په افغانستان کې د اسلام له راتلو وروسته د وهل شوو سکو يادونه**

افغانستان ته د اسلام دين له راتلو وروسته لومړۍ سکه، چې په افغانستان کې وهل شويده، هغه په (۷۵۰م) کال او (۱۳۳هـ ل) کال کې د عبدالرحمن بن مسلم وه، چې په مروه کې د ابومسلم په نوم ووهله. د سکې په مخ ليکل شوي: لااله الاالله وحده لا شريک له. ژباړه: نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی، يو دی او شريک نه لري. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسکې دمخ په غاړو لومړۍ لیکنه ده: قل لا اسئلکم علیه اجراً الاالمودة فی القربی. اود سکې پر مخ د غاړې دویمه لینکه ده: بسم الله ضرب هذا الدرهم ببلخ سنه ثلثین ومئه. ژباړه: پیل کوم د الله یه نوم، دا درهم په کال(۱۳۰ ه ل) کې په بلخ کې وهل شویدي او د سکې پرشاه لیکل شویدي : الله احد الله الصمد لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوااحد. ژباړه: الله (ج) یو دی، الله(ج) بې نیازه دی، نه د چا نه پیداشوی دی او نه ترې څوک پیدا شویدي او نه کوم څوک ساری لري: همدا ډول د سکې پرشا لیکل شوي دي: محمدرسول الله ارسله بالهدین و دین الحق لیظهره علی الدین کله ولو کره المشرکون. ژباړه: (محمد دالله(ج) استازی دی، دلاربښوونې او حق دین سره یې راستولی دی،ترڅو یې په ټولو د ینونو برلاسی کړي، اگرکه دا کار مشرکان بد گڼي).

افغانستان په ( ۷۴۶م) کال کې د اموي خلفاوو د حکومت څخه د ابومسلم په ذریعه ازاد اعلان شو، وروسته له دې چې ابومسلم د افغانستان مسلمان شوي ولایتونه د عربو د واک څخه او ایران یې د اموي دولت له پلویانو څخه پاک کړل او په (۵۵۲م) کال کې یې د ماورالنهر په لور خپلې قواوې وخوځولې او هلته یې عرب حاکم (زیاد) ووژلو؛ او یو لوی خراساني دولت یې تشکیل کړ، په (۷۹۰م) او (۱۷۴ق) کالونو کې یې خالد عطریف د خراسان حکمران د عطریفي درهم سکه ووهله. په ( ۱۵۳ ه ل) کال کې امام علي رضا په هرات کې سکه ووهله، چې د مشهد په موزیم کې تر اوسه شتون لري او ( ۸۴۶م) کال کې دادو بن الیاس د بانیجور کهول د شمالي هندوکش، بلخ، تخار او هندوکش د سیمو پا چا خپله سکه ووهله، او ابو داود بن احمد بن بانجور، چې دبلخ،تخار،جوزجان او ترمذ پاچا په (۲۶۰ق) کال کې خپله سکه ووهله.

په ( ۹۶۵ م ) او( ۳۵۵ق) بلکاتگین وروسته له دې، چې د الپتگین زوی اسحاق په غزني کې مړشو، په تخت کېناست، او په (۳۵۸ق) کې یې په غزني کې سکه ووهله او په (۳۶۵ ) مړ شو. همدارنگه په اندراب کې د سهلان بن مکتوم، چې د امارت دوره یې د (۳۶۵ ق) څخه تر (۳۷۴ق) پورې وه ده هم خپله سکه وهلې وه، ناصرالدوله ابوالحسن محمدبن ابراهیم بن سمجور واتی په کال(۹۸۸م) کې عمادالدوله ابوعلی محمد مظفر بن محمدابراهیم دواتی دخراسان لوی حکمران دی، ده هم خپله سکه وهلې وه، د سلطان محمود غزنوي زوی، چې د غزنو یانو اتم پاچا وُخپله سکه یې وهلې وه، طغرل سلجوقي په نشاپورکې خپله سکه و وهله، دغزنویانو دولسم پاچا دوهم مسعود دمودو زوی په غزني کې خپله سکه ووهله، همدارنگه په(۱۱۱۷ م) کال کې د غزنویانو یویشتم پاچا بهرامشاه خپله سکه ووهله، د سلطان سنجر سلجوقي نوم یې پرې کنبلی وُ، په (۵۴۰ ق) کال کې ملک فخراالدین بن عزالدین غوري، چې د غوري کهول نولسم پاچا وُ خپله سکه یې ووهله. د غوري کورنۍ شلم پاچا ملک سیف الدین بن علاؤ الدین جهانسوزغوري په(۱۱۷۲م) کال کې خپله سکه ووهله. سیف الدین قرلغ په (۶۲۲ق) کال کې د الظاهرخلیفه په نوم سکه و وهله. ملک نصرالدین ابوالفتح بن مسعود صفاری په (۶۵۲ق) کال کې په نیمروز کې سکه و وهله. په (۶۹۴ ق) کال کې سلطان رکن الدین ابراهیم شاه خلجي په هند کې سکه ووهله. ملک قطب الدین محمد بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



رکن الدين محمود بن بهرامشاه د سيستان صفاري پادشاه په نيمروز کې په (۷۳۱ق) کال کې سکه و وهله. ملک عزالدين د رکن الدين محمود زوی په نيمروزکې په (۷۳۳ق) کال کې سکه و وهله. په (۷۳۵ق) کال کې شمس الدين طاهرشاه مير سواتي په کشمير کې سکه و وهله. او په(۸۰۸ق) کال کې ملک قطب الدين بن تاج الدين په نيمروز کې سکه ووهله. که تاريخ ته نظر وکړو نو وبه وينو، چې دغه وخت افغانستان، چې د خراسان په نوم يادېدلو، هروخت وړوکی شوی او غټ شوی دی، يعنې په دې وخت کې داسې جغرافيايي پولې نه وې مشخصې، چې دهغې په چاپيريال کې دې د يوه تن حکومت وي، او کله، چې د هغه حکومت د بل تن لاس ته ورځي؛ نو هغه ټول دولت، چې د تېر پاچا يا حاکم سره و، هغه دې د نوي حاکم سره هم وي، بلکې يوه تن به يوه برخه ونيوله، ولې بل پلو ته به د يوه ولايت والي خپل حکومت اعلان کړ او هغه به په بل لوري غزونې وکړې، نو ويلی شو، چې د دولت مرکز يا د حکومت ټاټوبي او مساحت هر وخت بدلون کولو، دلته گورو، چې په يوه لږه موده کې څومره بدلونونه منځ ته راغلي دي. په (۸۵۳ ق) کال کې ميرزا ابوالقاسم بابر د بايسنقر زوی سکه ووهله او پاچا شو، ميرزا علاءالدوله او ميرزا سلطان ابراهيم يې بنديان کړل، دغه وخت ميرزا بابر له هراته سيستان ته ولاړ او شاه حسين يې تابع کړ؛ ميرزا سلطان محمد چې د عراق او فارس حکمران و، پر هرات راغی او ميرزا بابر يې د جام په جنگ کې مات کړ او خپله د هرات پاچاشو، په (۱۵۲٦م) کال کې د افغاني لوديانو سلطنت په هند کې وُ، چې د دوی پايتخت ډهلي کې وُ او په (۱۴۵۰م) کال کې ميرزا ابوالقاسم له هراته بلخ ته ولاړ او بيا په (۱۴۵۲م) کال کې ميرزا ابو قاسم بابر شېراز تر اسفهانه ونيولو، خو کله چې ړوند ميرزا علاءالدوله په فارياب او مرغاب کې ياغي شو نو بابر بېرته هرات ته راغی او علاءالدوله سيستان ته وتښتېد؛ عراق او فارس په (۱۳۵۳م) کال کې د هرات د سلطنته بېل شول او ميرزا ابو قاسم بابر له هراته د عراق خواته په جنگ و خوځېد او په (۸۵۷ ق) کال کې مازندران ته ورسيد؛خو دغه وخت سلطان ابو سعيد تر امو را اوښتی وُ او بلخ يې نيولی وُ، نو بابر بېرته له عراقه د بادغيس له لارې بلخ ته ولاړ او ابو سعيد بېرته د امو وا وښت او بلخ يو ځل بيا په (۸۵۸ ق) کال کې بابر ونيولو، خو ميرزا بابر کرار کښې ناست او د امو ورتېر شو او دوخش يې ونيولو او بيايې سمر قند کلا بند کړ او په پای کې يې د ابوسعيد سره سوله وکړه او بېرته هرات ته راغی او په (۸٦۱ ق) کال کې ميرزا ابوقاسم مشهد ته ولاړ او هلته په چار باغ کې مړ شو؛ سلطان ابوسعيد په هرات کې پاچا شو او سکه يې وو هله او په (۷٦۴ ق) د ابو سعيد مملکت له هراته تر ماوراءالنهر، ترکستان،کاشغر، قبچاق، کابل او زاول پورې ورسيد او غرب ترمازندراان او عراق پورې ورسيد. په (۸۷۳ ق) سلطان حسين بيقرا د خراسان او سيستان ښارونه ونيول، او پرخپله سکه ټنگه يې عدل او بهبود وليکلو. په (۹۹۰ ق) کال کې ميرزا محمد حکيم د همايون زوی په کابل کې سکه و وهله. په (۱۱۴۰ ق) کال کې شاه اشرف هو تک، عثماني لشکرې وشړلې او له عثماني دولت سره يې روغه وکړه، شاه اشرف هوتک افغان په اسفهان کې خپله سکه و وهله، همدغه وخت شاه حسين د کندهار پاچا له هرات او فراه څخه تر غزني، گومل، اسماعيل خان، ملتان او دره بولان پورې پاچاهي کوله او ناصر خان دغه وخت د کابل او پېښور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



باقرخان د غزني حکمرانان ؤ. په (۱۷۵۰ م) کال کې د نادر افشار لمسي شارخ په مشهد کې د احمدشاه په نامه سکه و وهله. په (۱۷۵۵م) کې ازادخان افغان په اصفهان کې سکه و وهله. په (۱۸۳۴ م) کال کې د محمد زیانو د دولت تشکیل د امیر دوست محمدخان په امارت منځ ته راغی دغه دولت په ډېره وړه ساحه کې د خطبې په ویلو او د سکې په وهلو پیل شو، چې د خطبې په ویلو یې ځان ته د امیرالمؤمنین خطاب ورکړ، دا، چې امیر دوست محمدخان په پیل کې د یوه سیاسي مشر او پادشاه په قصد نه و را پاڅېدلی او یوازې د پنجاب د سیکانو په ضد یې جګړه کوله او هغوی څخه یې د افغانستان د ختیځو ولایتونو را ګرځول مقصد و نو ځکه یې په خپلو سکو باندې دا بیت لیکلی ؤ: امیردوست محمدخان به عزم جنگ وجهاد کمربست و به زد سکه ناصرش حق باد. امیر عبدالرحمن په(۱۳۱۴ق) کال کې د ضیاءالدوله لقب غوره کړ او په همدې نامه یې خپله سکه وو هله. په تېراکې په (۱۸۹۸م) کال کې د میر بشیرخان ملک دین خېل په مشرۍ یو حکومت جوړکړ، چې د څرمنې څخه یې نوټونه جاري کړل. په (۱۹۰۷م) کال کې شیخ محمد رضا هروی د امیر حبیب الله خان په نامه د (خزاین السکوک فی مسکو کات الملوک) کتاب د افغانستان د مسکوکاتو په اړه ولیکه. تر اوسه دسیکو وهل د ورځنیو راکړ ورکړو په موخه شته، چې د ښاغلي حامد کرزي دورې د وخت مروجو او وهل شوو سکو یوګون، دوه ګون او پنځ ګون لا تر اوسه هم د ښاغلي محمد اشرف غني په دور کې کارول کیږي(34: 39ـ49).

### د افغانستان کا غذي پیسې

اووه اویا کاله مخکې په ۱۳۱۸ لمریز کال کې د افغانستان مرکزي بانک ( د افغانستان بانک) په کابل کې تاسیس شو او د همدې کال د دلوې په ۲٦مه نیټه یې نوي بانکنوټونه چاپ کړل .د نوو کاغذي پیسو چاپ سره، د افغانستان پیسې، چې په لمړي ځل د امیر امان الله خان په دوره کې چاپ شوې وې، یو نوي پړاوو ته داخلې شوې. اوس د غازي امان الله خان د دور نه تر نن پورې هغه دورو ته کتنه کوو چې په هغې کې کاغذي پیسې چاپ او نشر شوی وې.

### د غازي امان الله خان دوره

په ۱۲۹۸ هـ ل کال کې په افغانستان کې د غازي امان الله خان په واکمنۍ کې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې مطبوعاتو وده وکړه تعلیم د تېر هروخت ډېره وده وکړه د ژوند د ټولو چارو د سمبالښت لپاره قوانین او کړنلارې وضع شوې ، او د هېواد د پرمختګ لپاره هر اړخیزې هلې ځلې پیل شوې(27: 51).

د نورو تحولاتو او بدلونونو ترڅنګ پولي سیستم هم پر خپل حال پاتې نه شو او د سرو ، سپینو، زیرو، مســـو او نورو فلزاتو د سکو په څنګ کې د پیسو د وړن راوړن په برخه کې د اسانۍ د رامنځته کیدو په غرض ، کاغذي پیسې هم خپرې او خورې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د لومړي کاغذي نوټونه په ډېر ابتدايي او ساده ډول په ۱۲۹۸ لمريز لېرديز کال په هېواد کې دننه خپاره شول، د دې نوټونو دوهم مخ سپين ؤ او لکه د لاټري د ټکټونو غوندې يې کوندې درلودې، چې په «شبکه» سره بېلېدې، د نوټ او کوندې نومره به سره يوه وه، چې کوندې په بانک کې پاتې کېدې او نوټونه يې د چلند په غرض د راکړې ورکړې ميدان ته راوتل، خو څرنګه، چې له يوې خوا د دې نوټونو کاغذ ډېر خراب او له بلې خوا يې چاپ ډېر ساده او بسيط و، نو ځکه د ۱۲۹۹ لمريز کال د سلواغې په ۱۸ نيټه د دې نوټونو د بېرته راټولېدنې په باب يو فرمان صادر شو، فکر کيږي، چې د دې فرمان په راوتو او د ۱۳۰۰ لمريز کال د نوروز تر راتلو وروسته به هغه لومړني کاغذي نوټونه، چې په ۱۲۹۸ـ۱۲۹۹ کلونو کې خپاره شوي وو او د يوګون، پنځګون، پنځوسګون او سلګون نمونې يې په لاس کې دي، له چلند نه لوېدلې وې. تر دې وروسته يو پنځګون نوټ شته، چې د چاپ کال نه لري خو له پخوا نه ډېر ښه شوی ، دوه مخيز دی او په راز راز پخو رنګونو له هيواد نه بهر چاپ شوی دی. ورپسې يو لسګون او يو پنځوس ګون نوټونه دي، چې په ۱۳۰۷ کال کې په ښکلي ډول، په راز راز رنګونو له هيواده بهر چاپ شوي او د اماني دورې وروستنی کاغذي نوټ همغه لسګون دی، چې د ۱۳۰۷ کال تر وږي وروسته چاپ شوی او د افغانستان نوی نښان، چې لويې جرګې د ۱۳۰۷ کال په وږي کې تصويب کړی ؤ، پکې راغلی، خو څرنګه، چې نومړې لا نه وې پرې وهل شوې نو ښايي، چې چلند ته نه وي لوېدلې.

همدا راز له يوه قلمي رپوټ څخه، چې سند نه لري او په اماني دوره کې د يوه پنځوسګون جعلي نوټ د تحقيقاتو په برخه کې د پاچا حضور ته وړاندې شوی، څرګندېږي، چې د نوټونو له راوتلو سره سم په برتانوي هند کې د افغانستان د مالي کمزورتيا په غرض جعلي نوټونه هم جوړ شوي او افغانستان ته د بېلا بېلو کسانو په لاس راليږل شوي دي.

له دې رپوټ څخه، سربيره پردې، چې د جعلي نوټونو موجوديت ثابتيږي، دا هم بريښي، چې ښايي د دې نوټونو د ناچلۍ په باب د فرمان صادرېدل به هم د جعلي نوټونو د مخنيوي په منظور شوي وي او د دې له پاره، چې بيا هم څوک جعلي نوټونه جوړ نه کړي د دوهم ځل نوټونه يې له سادګۍ څخه را ايستلي او په مخصوص ډول يې جوړ کړي دي. د نوټونو د بېرته راټوليدلو او له هندوستان نه د جعلي نوټونو د راتللو سندونه دا هم ښيي، چې دا نوټونه د نورو فلزي سکو ترڅنګ په چلند کې لويدلي وو او خلکو راکړې ورکړې پرې کولې او هم څرنګه، چې د لومړنيو نوټونو ارزښت، په څلورو: « پښتو، دري، او اردو او ترکي ژبو» ليکل شوی، ښکاروي، چې دا نوټونه حتی له افغانستان نه د باندې په ايران، هندوستان او ترکيه کې هم چلېدل او ورپسې چاپ شوي نوټونه فرانسوي  ليکنې او انګليسي عددونه هم لري، چې په نړيوال معيار چاپ شوي دي.

د دې نوټونو په باب يو بل د يادولو وړ مطلب دا دی، چې په لومړنيو نوټونوکې د افغانستان سکه ( د روپۍ) په نامه ده خو په را وروسته نوټونو کې (د افغانۍ) په نامه اوښتې ده  چې دا کار عليحضرت امان الله خان د مليت او ملي وحدت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پختابه له پاره کړی او په یو فرمان کې یې رڼا پرې اچولې ده. د امان افغان د ۱۲۹۹ کال د غبرګولي ٦ نیټې د له یو چاپي اعلان څخه څرګندیږي، چې د دې نوټونو سپارښتنه او څارنه اعلیحضرت امان الله خان په خپله کړې او دنوټونو په ډیزاین او جوړښت کې یې زیاته علاقه ښودلې او د دې نوټونو د چاپېدلو په باب یې د دې اعلان په متن کې ځینې تشریحات ورکړي او دا کار یې د خلکو هوساینې، تجارت د پراختیا او د راکړې ورکړې اسانۍ لپاره کړی دی. په اعلان کې دا هم ویل شوي، چې د دې نوټونو ډیزاین د هېواد نامتو رسام پروفیسر غلام محمد خان میمنګي او دمهندس رضابېګ تر څارنې لاند په دولتي ماشین خانه کې چاپ شوي دي.

د ۱۲۹۹ کال دچونګاښ په ۱۴ نېټه د امان افغان په ۱۴ ګڼه کې د افغانستان دنویو سیکو، چې په سرو زرو ، سپینو زرو ، مسو او یوه نوي فلز وهل شوي او د افغانستان د کاغذي نوټونو عکسونه خپاره شوي ، په دې عکسونو کې د سلګون،پنځوسګون،پنځګون او یوګون نوټ عکسونه راغلي دي  په اعلان کې د  (پنځه ویشتګون) نوټ یادونه هم شوې ده خو ځرنګه، چې عکس یې نه دی خپور شوی نو فکر کیږي، چې دځینې نیمګړتیاؤ له امله به نه وي خپور شوی ځکه له اوږده لټون سره سره یې تر اوسه نمونه لاس ته نه ده راغلې.

## د حبیب الله کلکاني دوره

د ۱۳۰۷ کال په مرغومي کې د کورني تاو تریخوالي د رامنځ ته کېدو له امله د دولت ټولې چارې معطلې شوې او حتی ځینې وزارتونه لغوه شول، د ښوونځیو ورونه وتړل شول او هرځه د ګډوډۍ سره مخامخ شول(26: 11ـ15).

خو د بچه سقاو (حبیب الله کلکاني) د واکمن کېدو سره سم هماغه د امیر امان الله خان د دورې بانکنوټونه د نوي ځانګړې مهرپه وهلو سره یو ځل بیا د پېر او پلور لپاره په بازارونو کې جریان پیدا کړ. په هغو بانکنوټونو باندې، چې د بچه سقاؤ نښان لیدل شوی دی، یو ډول ٥ افغانۍ، ۱۰ افغانۍ، ٥۰ افغانۍ او د اماني دورې په درې ډوله یوه کابلۍ روپۍ څخه عبارت دي. په دغو پیسو باندې د حکومتي نښان پر ځای، د بچه سقاوو نښان او د خادم دین رسول الله له عبارت سره لیدل شوي دي او هم یوګون نوټ دنوي امیر له خوا چاپ او چلند ته ولوېد.

## د ظاهر شاه د واکمنۍ دوره او د افغانستان بانکنوټونه

د ۱۳۰۸ لمریز کال د تلې په ۲۳ نیټه په هېواد کې د نادري حکومت په منځته راتګ سره د اداري او تشکیلاتو بیا رغونه پیل شوه او په دې ترځ کې د اماني اصلاحاتو د پروګرام ځینې هغه برخې، چې د خلکو حساسیت ورسره نه ؤ او خطر نه ترې پیښبده هم را ژوندی شوې لکه د وزارتونو بیا جوړول، د هلکانو د ښوونځیو بیا پرانستل، د لمریز لیږدیز کال بیا رسمي کول او داسې نور. د اصلاحاتو د پروګرام هغه برخې، چې حساسیتونه یې راپارول وځنډول شول لکه د نجونو ښوونځي، د ښځو مخ لوځوالی، د ازادو خپرونو چلېدل او داسې نور، چې په دې لړ کې د کاغذي نوټونوچاپېدل وځنډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول او دا ښايي، چې له کاغذي نوټونو سره هم حساسيت موجود ؤ او چا د پيسو په ارزښت نه ورته کتل او په راکړو ورکړو کې يې له اخيستلو نه ډډه کېدله، له همدې امله وو، چې د ۱۳۰۷ نه تر ۱۳۱۵ کال پورې نوټونه چاپ نه شول او د پخوا په شان د سرو، سپينو زرو او نورو فلزاتو سکې چلېدلې. د نوټونو د توقف په دوران کې د هېواد عمومي مطبعې ته د نوټونو د گراف او چاپ لپاره نوي ماشينونه راوړل شول، پروفيسور غلام محمد ميمنگي او د ده ملگرو د پخوا په شان په ښکلي بنه ډيزاين کړل او بيا چاپ شول د نوټونو د چاپولو په باب استاد عزيزالدين خان وکيلي ليکي، چې دا نوټونه په عمومي مطبعه کې چاپېدل خو ارواښاد سيد قاسم رښتيا ليکلي، چې کاغذي نوټونه په اروپا کې په ډېر دقت او ښکلي ډول چاپ شوي دي، څرنگه، چې ياد شوي محققان دواړه عيني شاهدان دي نو سړی د دوی د وينا نه دا نتيجه اخيستلی شي، چې د دې کاغذي نوټونو نقشه او ډېزاين به ترپايه پورې په عمومي مطبعه کې د دې ماشينونو په وسيله کيدله خو د چاپ له پاره به اروپا ته لېږل کېدل، چې د نوټونو په معياري او سپين نخښې کاغذ خپاره شي او پولي نفاست او ځانگړتيا ولري، دا خبره د دې دورې د نوټونو د هغه جرمني ليکنې نه هم ثابتيږي، چې په هر يوه نوټ کې په واړه ليک شوی او ښايي، چې نوټونه په «زوريخ » کې چاپ شوي دي او هم د هغه مشين عکس، چې د سويس نوټونه پرې جوړيږي او د ۱۳۱۵ کال په کابل کلنۍ کې خپور شوی ښيي، چې مطبعې يوازې د نوټونو د ډيزاين ماشينونه درلودل نه د چاپ.

**د ۱۳۱۴ لمريز کال د بانکنوټونو اصولنامه**

په اماني د وره کې د کاغذي نوټونو د چلند په اړه بيلا بيل فرمانونه صادر شوي وو خو د ظاهرشاه په دوره کې د ۱۳۱۵ کال د کاغذي نوټونو د خپرېدو وړاندې د ۱۳۱۴ کال د لړم په ۴ نيټه د نوټونو لپاره يو اصول نامه چې دوه څپرکي او ۲۱ مادې يې لرلې خپره شوه.

لومړۍ ماده - د ماليې وزارت ته واک ورکوي، چې مستقيماً په خپله او يا د ملي بانک له لارې کاغذي نوټونه خپاره او دود کړي.

دوهمه ماده: توضيح کوي، چې د ماليې وزارت به د نوټونو د چاپولو شمېر وخت پر وخت ټاکي او د وزيرانو د مجلس تر تدقيق وروسته به يې ملي شورا تصويبوي اود پاچا دفرمان له مخې به چلند ته لويږي.

دريمه ماده: توضيح کوي، چې کاغذي نوټونه به د وخت د افغاني سکو معادل چاپ او رامنځته کيږي په دې ماده کې ټاکل شوې وه، چې چاپېدونکي نوټونه په لاندې بيو وي سربيره دوه گون هم پکې وو چې اصول نامې يې وړاندوينه نه وه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورمه پنځمه او شپږمه ماده: د خپرو شويو نوټونو نخښو د اعلانولو وعده ورکوي او پنځمه ماده خلکو ته باور ورکوي، چې کاغذي نوټونه د افغاني سکو غوندې اعتبار لري، په دولتي خزانو کې د حکومت د ټولو وارداتو په بدل کې اخيستل کيږي او همداراز په ټولو تنخواګانو او لګښتونو لګول کيږي او د خلکو ترمنځ راکړه ورکړه او معامله پرې کيږي. په شپږمه ماده کې ډاډ ورکوي، چې د کاغذي نوټونو برابر د هېواد په خزانو کې زر، سکې او خارجي اسعار شته، چې حتی په يوه ورځ د ټولو نوټونو د بيو د ورکولو توان لري.

اتمه، نهمه او لسمه ماده: د زاړه شويو نوټونو د چلند مقرارات، چې دولتي خزانې يې بېرته اخلي توضېح کوي يوولسمه ماده: د نوټونو جعل کوونکو ته د سختې سزا ورکولو يادونه کوي.

د اصول نامې دوهم څپرکی له دولسمې تر پنځلسمې مادې: د اصول نامې په دوهم څپرکي کې له دولسمې تر پنځلسمې مادې پورې د ماليې په وزارت کې د کاغذي نوټونو د محاسبې په دفتر خبرې شوي، چې چاپ شوي، په چلند کې اچول شوي او له چلنده لويدلي نوټونه به يکې قيديږي. د شپاړسمې تر شلمې مادې: شپاړسمې تر شلمې مادې د نوټونو د نومرو د قيدولو او نورو دفتري ادابو په باب لاربښوني شوي. يوويشتمه ماده: يوويشتمه ماده د ماليې وزارت د دې اصول نامې په تطبيق کولو مکلفوي(26: 15ـــ18).

### دافغانستان بانک تأسيس

په ۱۳۱۸ لمريز کال کې افغانۍ پولي واحد يو بل نوي پړاؤ ته ننوت. په همدې کال د عبدالمجيد زابلي په وړانديز "دافغانستان بانک " تاسيس او د ملي بانک ټوله پانګه د افغانستان بانک ته انتقال کړای شوه د افغانستان بانک په تاسيس سره په بانکنوټونو باندې د دري او نورو ژبو ليکنې لرې او يواځې د پښتو په ملي ژبه ليکنې وشوې.

د بانک د اساسنامې لومړۍ مادې د بانکنوټونو د امتياز او انحصار حق نومړي بانک ته ورکړ، چې د هېواد د حقيقي او اقتصادي اړتياو او قوانيونو سره سم کاغذي پيسې چاپ کړي، د بانک عالي شورا ته واک ورکړل شو، چې د چاپ کېدونکو کاغذي نوټونو بڼه، کچه او ځانګړې نښې وټاکي، له چلند نه د لوېدلو، لغوه کولو او د زړو نوټونو د بدلولو شرايط د قانون له مخې تعين کړي. د بانک څارونکي هيئت ته واک ورکړل شو، چې په کال کې لږ ترلږه دوه ځله بانک نوټونه او کاغذي پيسې موجودې کړي، همداراز د اساسنامې د حکم له مخې د بانکنوټونو د پانګې د څارنې لپاره يو اووه کسيز هيئت ټاکل کېده، چې غړي يې دوه تنه د ولسي جرګې وکيلان يو تن د وزيرانو د مجلس غړی يو تن د تميز د محکمې رئيس يو تن د بانک رائيس يو تن د ټولو خزانه دار اويوتن په بانک کې د حکومت مفتش ؤ، او دې هيئت ته دنده ورکړل شوې وه، چې چاپ شوي نوټونه وګوري او ډاډ ترې حاصل کړي د چاپ شويو نوټونو په اندازه قانوني پشتوانه وګوري او ځان پوه کړي، چې د دې نوټونو بيه پوره کوي که نه؟ او بيا نوټونه بانک ته وسپاري، زاړه شوي او له چلند نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویدلي نوټونه او ترتیب شوي حسابونه یې وګوري، په بشپړ احتیاط یې وسوځوي او د سوځولو پر وخت یې ټول جریان په ځانګړي کتاب کې ثبت او یو نقل یې د مالیې وزیر ته وسپارل شي، د بانکنوټونو د ضمانت په باب د حساب څارنه وکړي او د څارنې هیئت ښايي، چې په میاشت کې یو ځل د چاپ شویو نوټونو اود هغې د سرو او سپینو د ضمانت په باب حکومت ته راپور وړاندې کړي، چې د حکومت له خوا به د خلکو د خبرتیا له پاره خپریږي.

د ۱۳۱۵ کال د نوټونو راوتلو په افغانستان کې د کاغذي پیسو د چلېدلو تجربه کامیابه کړه ، د افغانستان بانک په جوړېدلو سره دولت د اساسي او معیاري نوټونوچاپولو ته لاس وغځاوه او په ۱۳۱۸ کال کې یې د کاغذي نوټونو د یوې پراخې لړۍ په خپرولو لاس پورې کړ دا نوټونه چې د وخت د پاچا محمد ظاهرشاه ښکاره او پټ عکسونه پکې خپاره شوي وو په ښکلي ډیزاینونو راووتل چې دوه ګون، پنځګون، لسګون، شلګون، پنځوسګون، سلګون، پنځه سوه ګون او زرګون نوټونه یې درلودل.

**په بانکنوټونو کې د ظاهر شاه عکسونه او د روحاني خلکو مخالفت**

په کاغذي نوټونو کې د وخت پاچا د عکسونو د خپرېدلو د هېواد په ځینو روحاني خلکو کې د مخالفت یو لړ ګنګوسې راولاړې کړې، چې ګواکې د عکس لرونکو نوټونو سره لمونځ نه کیږي او داسې ښکارېده، چې یو ځل بیا لکه د اماني دورې غونډې د دولت د دې کړنو سره پراخه مخالفتونه راولاړ شي دا ګنګوسې د وخت د مقتدر او مستبد او ورسره مدبر صدراعظم محمد هاشم خان غوږونو ته هم ورسیدې خو بې لدې، چې غبرګون وښيي او یا بیړنی اقدام وکړي یو پاخه تدبیر ته لاس وغځاوه او هغه دا، چې په شاهي ارګ کې یې د قران عظیم الشان د یو شانداره ختم ترتیبات ونیول او د هېواد نامتو عالمان او ملایان یې دې ختم ته ور وغوښتل، د قران کریم د ختم وروسته یې پر ټولو راغلو عالمانو یو یو پاکټ نوټونه وویشل، ټولو په خپلو جیبونو کې کیښودل بیا د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه تر ډوډۍ وروسته آذان وشو او په جمع د ماسپښین لمونځ ادا شو او تر لمانځه وروسته ټول راغلي عالمان او ملایان خپلو کورونو ستانه شول، پدې توګه د تصویر لرونکو نوټونو سره په جمع لمونځ کولو سره د مخالفت ګنګوسې غلې کړل شوې او بې لدې، چې د وخت ملایان یا حکومت تشدد ته لاس وغځوي د مصورو نوټونو د چلند موضوع حل شوه.

لیکوال زیاتوي، چې د دې ټولو نوټونو د چاپ نیټه د ۱۳۱۸ کال د سلواغې ۲٦ ده، خو دافغانستان بانک د نوټونو د یو چاپي «بنډل پیچ» کاغذ نه چې زما لاس ته راغلی څرګندیږي چې نوټونه اساساً تردې نیټې ډیر پخوا چاپ، بنډل بندي او ویشل شوي دي دا بنډل پیچ کاغذ، چې د سل دانې لس ګونو نوټونو لپاره جوړ شوی د ۱۳۱۸ کال د لړم په میاشت کې چاپ شوي او ټول بانکي تعاملات یې ترسره شوي دي. همداراز د «حساب حبیب» په رساله کې هم، چې د همدې کال چاپ دی، دا نوټونه یاد شوي او دواړه سندونه زبادوي، چې نوټونه تر لیکلې نېټې پخوا چاپ شوي او ویشل شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ترتیب په ۱۳۱۸ کال کې د کاغذي نوټونو د یوې بشپړې لړۍ په خپرېدلو سره کاغذي نوټونه د افغانستان د اصلي او بنیادي پیسو په توګه رامنځته شول ، د سرو او سپینو زر سکو وهلو تقنني، تزییني او فرعي حیثیت وموند او خلک نور د کاغذي نوټونو له چلند سره عادت شول او وروسته پرلپسې نوټونه چاپ شول.

له ۱۳۱۸ ل تر ۱۳۲۷ کال پورې ما د چاپ شویو نوټونو کومه نمونه ونه لیده، ښکارې تر دې کال پورې د ۱۳۱۸ ل کال نوټونه چلېدلي او بیا د دې نوټونو د زړېدو او هم د کچې او اندازې د لویوالي له امله د هرې بیې تردې نوټونو واړه نوټونه چاپ شوي ، چې پیل یې له ۱۳۲۷ لمریز کال څخه دی، تردې کال وروسته ګام په ګام نوټونه چاپ شوي او تر ۱۳۴۰ کال پورې تجدید شوي دي، چې په دې نوټونو کې دوه ګون، پنځګون، لسګون، شلګون،پنځوسګون او سلګون شامل دي.

په ۱۳۴۰ ل کال کې د کاغذي نوټونو د چاپېدلو یوه بله لویه څپه راولاړیږي او په دې کال د ټولو بیو نوټونه له لسګون نه نیولې تر شلګون، پنځوسګون، سلګون، پنځسوه ګون او زرګون پورې ټول چاپیږي، البته دوه ګون او پنځګون ځکه نه خپریږي، چې پر ځای فلزي دوه ګون او پنځګون د یوه ګون او نورو وړو سکو ترڅنګ چلند ته لویږي .

د دې دورې د ټولو چاپ شویو نوټونو یو ګډ حصوصیت دا دی، چې د ټولو بیو د نوټونوکچه یوه ده ، یعنې د پخوا په شان د بیې د لوړوالي سره د نوټ سور او اوږدوالی نه زیاتیږي، بلکې ټول په یوه اندازه خپریږي او هم د ټولو ډیزاین یو دی یوازې رنګونه یې سره بدل دي.

په ۱۳۴٦ ل کال کې د کاغذي نوټونو د چاپېدلو یوه بله نیمګړې څپه راولاړه شوه ځکه په لړۍ کې لسګون او سلګون نوټونه خپاره نه شول او یوازې پنځوسګون، سلګون، پنځه سوه ګون او زرګون نوټونه چاپ شول، چې ښرته نوټونه د بیې له اندازې سره وار په وار لوی شوي وو(26: 19ــ23).

## د داؤد خان د واکمنۍ دوره او په بانکنوټونو کې بدلون

د ۱۳۵۲ ل کال د چنګاښ په ۲٦ نېټه په افغانستان کې د سپیني کودتا په کېدلو سره شاهي نظام جمهوري نظام ته خپل ځای پرېښود. د داؤد خان قدرت ته رسېدلو سره په افغاني بانکنوټونو کې مهم بدلونونه رامنځته شول. په بانکنوټونو کې د شاهي نښان پر ځای د جمهوري نښان او د ظاهر شاه د انځور پر ځای د داؤد خان انځور ولګول شو. او د افغانستا ن د نوي حکومت د نوي مالي پالیسۍ په چوکاټ کې کاغذي نوټونو ته په اړه هم اقدام وشو اوهم په هغه کال نوي لسګون، شلګون، پنځوسګون، سلګون، پنځه سوه ګون او زرګون نوټونه چاپ کړل(26: 23).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کمونیستي دوره او له پیسو څخه د ځېرو لرې کول**

کله، چې په ۱۳۵۷ کال کې کمونیستي کودتاه وشوه نو نورمحمد ترکی واک ته ورسېده او همغه پخواني نوټونه د چلېدو سره یې په کلاره د جدي په یوولسمه دېنځوس افغانیو نوټ چاپ کړ او د ۱۳۵۸ د دلوې په میاشت کې، چې د پر چمیانو بادشاهي وه د لسو ،شلو ،پنځوسو ،سلو ،پنځه سوه او زرو افغانیو نوټونه خواره شول(27: 32).

د خلق او پرچم گوندونو د حکومت په دوره کې د افغانیو په بانکنوټونو کې پراخ بدلونونه رامنځته شول. په پخوانیو دورو کې د هر حکومت بدلون سره، د وخت حاکم او یا ولسمشر انځورونه به په پیسو چاپیدل. په دې دوره کې، د پیسو څخه د حکومت د لومړي شخص د انځور لرې کول تر ټولو مهم بدلون وو. نوي انځورونه او طرحې د کارگرې له مفهوم سره د کرنې او صنعت له جملې څخه، د دې حکومت په پیسو کې ور زیات شول.

**د پرچمیانو د دورې بانکنوټونه**

د پرچمیانو په دوره کې حکومتي نښان له بانکنوټونو څخه لرې کړای شو. په ۱۳۵۷ لمریز کال د خلقیانو (نور محمد ترکی او حفیظ الله امین) په دوره کې حکومتي نښان "خلق" د بانکنوټ په پورته برخه کې ځای کړل شو، خو په ۱۳۵۸ لمریز کال کې د پرچمیانو په راتګ سره په لومړي ځل حکومتي نښان "خلق" لرې او پر ځای یې د افغانستان د مرکزي بانک (دافغانستان بانک) رسمي نښان ولږول شو، چې له هغې مودې وروسته، تر اوسه پورې د افغانستان بانک رسمي نښان په خپل ځای پاتې دی.د خلق او پرچم په دوره کې د بانکنوټونو د اندازې وړوکي کول یو بل پولي بدلون ؤ، چې رامنځته شو.

**د برهان الدین رباني دوره**

۱۳۷۸ ه ش کال کې د برهان الدین رباني په حکومت کې د تېرې دورې نوټونو د چاپ د تکرار سره سره د پنځه زرو او لسو زرو نوټونه هم چاپ شول دغه وخت په همدې نوټونو کې د چاپ دوه ځانګړې سرچینې ښودل کیدې، چې یوه ته دولتي او بل ته یې دوستمي نوټونه ویل ،دوستمي د محمد اشرف غني رواني لومړی دورې د ریاست جمهورې د لومړي ریس جنرال عبدالرشید دوستم ته منسوبېدې ، دوستمي نوټونه د دولتي نوټونو څخه د بهرنیو اسعارو په وړاندې او هم په بازار کې د راکړې ورکړې لپاره ارزان او د چاپ لیکنې په اساس یو ډول وو(27: 32).

د مجاهدینو په راتګ سره بیا هم د افغانستان په بانکنوټونو کې د خپلې خوښې بدلونونه راوستل شول، خو تر ټولو مهم او د پام وړ یې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ پولي واحد ارزښت له لاسه ور کول وو.

د افغانستان د پولي واحد ارزښت کمبدل او د پشتوانې پرته د پیسو چاپولو له امله په بازار کې د پیسو حجم ډېر شو او په پایله کې ۵۰۰۰ او ۱۰۰۰۰ افغانیو بانکنوټونه هم د لومړي ځل لپاره چاپ او خپاره شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجاهدينو په دوره کې، د افغانستان بېلا بېلې سيمې د مختلفو ډلو لخوا اداره کېدې، افغانۍ هم خپل ځای دوه ډوله پيسو ته پرېښود او هم يې ارزښت د لاسه ور کړ.

په کابل کې د برهان الدين رباني د حکومت لخوا د ډېرو پيسو په خپرولو برسيره، د جنرال عبدالرشيد دوستم نظامي ډله، چې د افغانستان په شمال کې يې تسلط درلود، په هماغه رنګ او ډول پيسې چاپ اوپه بازارکې خپرې کړې، چې په بازارکې د (دوستمۍ) پيسو په نوم مشهورې شوې او د کابل د پيسو په نسبت کم ارزښته وې. خلک او ښاريان دا پيسې د جزيي بدلونونو اوسهوو سره، چې د دوی په رنګ کې رامنځته شوي وو او مسلسله شمېره، چې د دې پيسو په سر درج شوي وو پيژندل. دمجاهدينو په دوره کې دافغانيو د ارزښت کمېدلو سره، سکه هم د پيسو له دوران څخه بهر شوه او په بازارونو کې د پېر او پلور لپاره نه استعمالېده.

**د حامد کرزي دوره او نوي بانکنوټونه**

د طالبانو په دوره کې نوې پيسې چاپ نشوې او هماغه د مجاهدينو د دورې کم ارزښته شوې پيسې په کې د چلښت لپاره په کار يوړل شوې. د طالبانو څخه وروسته د نوي حکومت په راتګ سره تر لومړي کال پورې، چې د خلکو تر منځ د حامد کرزي په دورې پيژندل شوې هم د مجاهدينو پيسې رواج وې.

هغه وخت، چې د ۱۳۸۰ ل کال په ژمي کې د بُن د تړون له مخې د افغانستان له پاره نوی حکومت جوړ شو دې حکومت هم په ۱۳۸۱ کال کې د افغاني نوټونو يو بشپړه دوره چاپ کړه، چې يوګون، دوه ګون، پنځګون، لسګون، شلګون، پنځوسګون، سلګون، پنځسوه ګون، او زرګون نوټونه ټول پکې وو، چې يو ګون، دوه ګون، او پنځګون يې په فلزي سکو واوښتل او نور يې تراوسه چليږي(26: 24).

د نوي نظام په راتګ سره نوي بانکنوټونه چاپ شول او پدې برخه کې مهم ګامونه واخيستل شول. د حامد کرزي په دوره کې تر ټولو مهم ګام د پيسو د ثبات او د لوړ انفلاسيون څخه د خلاصون لپاره پخواني پيسې له ټول هېواد څخه جمع کول او نوې افغانۍ د پخوانيو افغانيو څخه په ۱۰۰۰ برابره لوړ ارزښت سره چاپ او خپاره کول وو.

پدې دوره کې هره نوې افغانۍ د ارزښت له مخې د پخوانيو ۱۰۰۰ افغانيو سره برابره شوه او دا د انفلاسيون په کنترول او د بهرنيو اسعارو په وړاندې د افغانيو د ارزښت په لوړولو کې مهمه ونډه لرله.

**په افغانستان کې د ام ـ پيسې خدمات**

په افغانستان کې د ام ــ پيسه خدمات په ( ۲۰۰۸م) کال کې رامنځ ته شوي دي، ووډافون د روشن( چې د افغانستان مخکښه مخابراتي شبکه ده) په همکارۍ او ګډون د ام ـ پيسه خدمات، چې په سيمييزه کچه يې وړاندې کوي، په افغانستان کې يې خپل کار پيل کړ. تر هر څه د مخه دوی خپل خدمات د ملي پوليسو د معاشاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لیږدولو پیل کړل، بیا یې وروسته د دې خدماتو لړۍ اوږده کړه، اوس په افغانستان کې مختلفې شبکې د ام ـ پیسه( Mobile money) خدمات وړاندې کوي، چې د موبایلونو د لارې نغدي امانتونه ساتل کیږي، پیسې ترلاسه کیږي، د یوه تن څخه بل تن ته پیسې استول کیږي، د تجارتي راکړو ورکړو په وخت کې ترې ګټه پورته کیږي، د برېښنا بیلونه پرې داخلیږي، د دې برسیره د پېر او پلور په وخت کې ترې د بانکي کارت په ډول کار اخیستل کیږي، د پټرول پمپ څخه د تېلو او ګېس اچولو په وخت کې هم کارول کېدلی شي.  په لاندې ډول یو لړ هغه مخابراتي شبکو یادونه کوو، چې په افغانستان کې د ام ـ پیسه خدمات وړاندې کوي  او د هغه خدماتو یادونه هم کوو، چې د دغه شبکو په زریعه وړاندې کیږي.

**روشن ام ـ پیسه:** د پیسو ویستل، د بېلونو ادا کول، سوداګریزې ورکړې، د پور ادا کول، د معاشاتو ادا کول، بانکي ګڼوڼ(حساب) ته لاس رسی

**افغان بیسیم ـ موبایل مني:** د پیسو لیږد، د پیسو ویستل، د پیسو اضافه کول، د بېلونو ادا کول، سودا ګریزې ادا کونې، د معاشاتو ادا کول  او بانکي حساب ته لاس رسی

**اتصالات ـ ام حواله:** د پیسو لیږد را لیږد، د پیسو ویستل ،د پیسو اضافه کول ،د بېلونو ادا کول، ګرځنده موبایل ته د کریډېټ اضافه کول(34: 71ـ73).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آخستني

1. Hubbard, Glann and Patrich, Anthony (2009), Money, Banking and Financial System, O'Brien and Pearson.

2. Handa, Jahdish (2010), Monetary Economics, ($2^{nd}$ed). Rout Ledge Tylor and Francis Group.

3. Frank J. Fabozzi and Frank J. Jones, (2011) Foundation of Financial Markets and Institutions, third Edition, Pearson publication.

4. Fredric S. Mishkin and Stanley G. Eakins. (2010), Financial Markets and Institutions ($7^{th}$ed).

5. Peter S. Rose and Milton H. Marquis, (2009), Money and Capital Market (financial institution and instruments in a global marketplace), Ninth Edition.

6. Khan, Muhammad Akram, (2011), Islamic Economics and Finance ($2^{ND}$ed). Rout Ledge Tylor and Frances Group.

7. Heilperin, Michael.A. (2012). International Monetary Economics. Geneva: Longman, Green and Co.Ltd.

8. Cecchetti Stephen G Money2012Banking and Financial Markets ($2^{nd}$ed).

9. Nasir,M.Saeed.(2004). Money Banking & Finance. Aminpur Bazar,Faisalabad:Kitab Markaz.

10. Shahid, A. Hamid. (2012). Monetary Economics and Public Finance. Urdu Bazar, Lahore:Ilmi Kitab Khana.

11. Abu-Bakar, M. M. (2018). Shariah Analysis of Bitcoin, Cryptocurrency and Blockchain.

12. Salman, A., & Razzaq, M. G. A. (2018). Bitcoin and the world of digital currencies. *Financial Management from an Emerging Market Perspective*, 271-281.

13. Asif, S. (2018). The halal and haram aspect of cryptocurrencies in Islam. *Journal of Islamic Banking and Finance*, *35*(2), 91-101.

14. Rose, C. (2015). The evolution of digital currencies: Bitcoin, a cryptocurrency causing a monetary revolution. *International Business & Economics Research Journal (IBER)*, *14*(4), 617-622.

15. Evans, C. (2015). Bitcoin in Islamic banking and finance. *Journal of Islamic Banking and Finance*, *3*(1), 1-11.

16. Alagidede, P., Simeon, C., & Adu, G. (2014). A regional analysis of inflation dynamics in Ghana. *International Growth Centre, Working Paper*, 1-32.

(c) ketabton.com: The Digital Library



17. Ciccarelli, M., & Mojon, B. (2010). Global inflation. *The Review of Economics and Statistics*, *92*(3), 524-535.

18. Barro, R. J. (1996). Inflation and growth. *Review-Federal Reserve Bank of Saint Louis*, *78*, 153-169.

19. Billi, R. M., & Kahn, G. A. (2008). What is the optimal inflation rate?. *Federal Reserve Bank of Kansas City Economic Review*, *93*(2), 5-28.

20. Chuen, D. L. K., Guo, L., & Wang, Y. (2017). Cryptocurrency: A new investment opportunity?. *The Journal of Alternative Investments*, *20*(3), 16-40.

21. Twinoburyo, E. N., & Odhiambo, N. M. (2018). Monetary policy and economic growth: a review of international literature. *Journal of Central Banking Theory and Practice*, *7*(2), 123-137.

22. Samadi, Ghulam. (2011). ISLAMIC BANKING & FINANCE: PRINCIPLES AND PRACTICES. Lahor, Pakistan, Ilmi Kitab khana.

23. Osmani, Muhammad Taqi .(2003). Introduction to Islamic Banking and Finance. Aminpur Bazar Faisalabad, Kitab Markaz.

24. Bagus, P., Howden, D., & Gabriel, A. (2014). Causes and consequences of inflation. *Business and Society Review*, *119*(4), 497-517.

25. Shahid, A. Hamid. (2020). Monetary Economics. Lahor, Pakistan, Ilmi kitab khana Urdu bazar.

26. رفیع ، خیړندوی حبیب الله ، دافغانستان بانکنوټونه ، احمد طبعاتي اوصنعتي مطبعه،۱۳۹۰ لمریز کال.

27. نوشـــیرســروري ، مطیــع الله ، مال اوپیــسي، ۲۰۱٦ میــلادي کــال.

28. کارل هی،کیس وری سی،فیر،(۱۳۹۲)هه ش (ژباړونکی ،شعیبی،احمد جاوید)اساسات اقتصاد کلان.

29.الخطیب،محمود، ژباړن رحماني،محمدشریف،د اسلامي اقتصاد اساسات،جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعي

30. کوستر،ویم،د احمد جاوید شعیبی ژباړه. (۱۳۹۵)هـ ش. اقتصاد پولی. کابل: انتشارات حامد رسالت.

31. نیازی، محمد داود.(۱۳۹۱) ل. بانکوالي.جلال اباد: گودر خپرندویه ټولنه.

32. فرجی، یوسف.( ۱۳۸۳) هـ ش. پول، ارز و بانکداری.تهران:شرکت چاپ ونشر بازرگانی

33. شینواری، عبیدالله.(۱۳۹۲)هـ ش.پول وکریدت.جلال اباد: موسسه نشراتي مومند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



34. نایيزی، عبدالوافي.(١٣٩۴)هـ ش. داقتصاد بنسټونه. ننګرهار:مومند خپرندویه ټولنه.

35. سیدمسعود.(١٣٩٢)هـ ش.سیاست های پولی. کابل: انتشارات یوسف زاد.

36 نوشیرسروري، مطیع الله.(١٣٩۴)ل. مال او پیسې.

37. کوستر، ویم، د مریم امین او انجنیر محمدګل اکبري ژباړه.ماکرو(لوی) او پولي اقتصاد.

38. پاول، ستیپن، ژباړن: رسا، رحمن الله، د شرکتونو د تمویل او پانګه اچونې اساسات ،دوهم چاپ، کال 1391هـ ش، چاپ ګودر خپرندویه ټولنه

39. تهرانی، دکتر رضا، مدیریت مالي،د یارلسم چاپ تهران،کال 1393 هـ ش

40. راعي، رضا، مدیریت سرمایه ګذاري پیشرفته،اووم چاپ تهران، کال1391هـ ش

41. رسا ، رحمن الله ، مالي بازارونه، کال 1393 هـ ش

42. شباني، محمد، بازار های پولي و مالي بین المللي، دوهم چاپ تهران،کال 1388هـ ش

43. شعیبي، احمد جاوید. (١٣٩۴). بازار های مالي. انتشارات سرور، کابل افغانستان.

44. علاء، عین الله ، اصول مدیریت سرمایه ګذاري در بورس اوراق بهادر، اول چاپ، کال 1384 هـ ش

45. نادري، نصیر احمد، ملي اقتصاد،کال 1388هـ ش، د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت

46. نوو، ریموند پی، مدیریت مالي، دوهم جلد، اوولسم چاپ تهران، کال 1392 هـ ش

47. احمدزی، زاحدي. (١٣٨٨). تجارت د اسلام په اقتصادي نظام کې. جلال اباد. نوښت کتاب پلورنځی.

48. شعیبي، احمد جاوید. (١٣٩۴). ارزیابي سیاستهای پولي در افغانستان، چاپ دوم. کابل. انتشارات فرهنگ کابل.

49. شبانی، محمد. (1392). بازارها و نهادهاي مالي،اول چاپ تهران.

50. سید مسعود، ١٣٩٣). پول و کریدیت، چاپ پنجم، انتشارات لاجورد، کابل

51. حقاني، مفتي عبدالحق .( ١٣٩٧). اسلامي اقتصاد او بانکوالی، لمړی چاپه، کابل، افغان پوهنتون

52- سادات ، خدیجه (١٣٩٢) پولی سیاست . پښتو ژباړه ، مجیب الرحمن امیري. د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت ، کابل.

53. حسینی، احمد جواد. (١٣٩٨). اقتصاد پولی، چاپ اول. تهران: شرکت چاپ و نشر بازرگانی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**